# په الله تعالی ایمان

## معنی،
## دلایل
## او غوښتنې ئې

حکمتیار

# پر الله تعالی ایمان

## معنی،

## دلائل

## او غوښتني ئې

حکمتیار

# فهرست

عنوان صفحه

د ناشر مقدمه........................................ ۱
سریزه.................................................... ۳
په الله تعالی ایمان ................................... ۶
الله جل شأنه د رحمت په آثارو کې ................. ۲۲
د اوبو د تصفیې الهي نظام: .......................... ۲۹
طبیعي لارښووني:........................................ ۳۲
د شپې او ورځې الهي نظام، ستره الهي پېرزوینه........ ۳٤
د پیغمبرانو بعثت د رحمن رب بله پېرزوینه ............ ۳۹
د ظالمانو مواخذه د الله د پېرزویني بله نښه: ........ ٤۰
الله د دې ملك مالك دئ................................ ٤۳
ستا د مرگ پرېکړه څوك کوي؟......................... ٤۷
دا هر څه د چا ارادې ته تسلیم دي؟................... ٤۷
پر الله جل شأنه د ایمان مقتضیات ................... ٦۷
یوازي له الله نه استعانت: ............................. ۷۱
له الله جل شأنه سره کلکه مینه........................ ۸۷
یوازي له الله نه وېره.................................. ۹۳
ولې به یوازي له الله جل شأنه نه وېرېږو؟............... ۱۰۵
په خپل رزق یوازي له الله نه وېره:.................... ۱۱۱

عزت او ذلت د الله په اختیار کې دئ:........................................... ۱۱۷
په الله باندي توکل........................................................ ۱۲۲
ډاډه او مطمئن زړه ........................................................ ۱۲۷
اطاعت ................................................................. ۱۴۰
دوستي او دښمني د الله لپاره.............................................. ۱۴۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

د الله تعالی د پېرزوینو ممنون یو چې موږ ته ئې د یوه بل شکلي کتاب د خپرولو توفیق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ یوه برخه ده چې ورور حکمتیار د اردوی سپاهیان رضاکار اسلام (اسرا) په تربیتي غونډو کې رضاکارانو ته درلودل او په ۱۳٦۹ه ش کال کې د کتاب په بڼه کې ترتیب او چاپ شوی، د ځینو عربو ورونو په غوښتنه؛ په عربي ترجمه او په کافي شمېر کې خپور شوی، دا کتاب په الله تعالی باندي د ایمان معنی، غوښتني او هغه دلائل وړاندي کوي چې د الله تعالی د شته والي د اثبات لپاره په قرآن کې راغلي، د دې درسونو دا لړۍ د لاندي پنځو کتابونو په بڼې کې خپره شوې:

په الله تعالی ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

په آخرت ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

په پیغمبرانو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

په کتابونو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

په ملائکو او قضاء او قدر ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

د دغو اساسي مسایلو اهمیت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چې یو ځل بیا ئې خپل خدای پال او په دین مین ولس ته وړاندي کړو، هغو باایمانه ځوانانو ته چې د غربي استعمار د فکري یرغل په ضد ئې د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ایمان په حقیقت پوه شي، نورو ته ئې وښیي،

خپل فردي او اجتماعي ژوند د ایمان په رڼا کي او د خپل رب د لارښوونو مطابق تنظیم کړي، او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د اسلام پرتمین بیرغ رپانده وګوري، د دې کتابونو د ژوري او دقیقي مطالعي بلنه ورکوو، دعاء کوو چي الله تعالی موږ په دنیا او آخرت کي د هغو توریالیو مبارزینو په صف کي محسوب کړي چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټیټوي، له بل چا طمع او وېره نه لري، د خپل رب رضاء لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کي هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقیم

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

ایمان هغه جازم او راسخ اعتقاد ته وایي چي له علم او معرفت نه پیل کیږي او په کلك او پوخ باور بدلیږي. یعنی علم د ایمان پیل او ایمان د پوهي او معرفت پای دئ.

د ایمان خاوندان مکلف دي چي د مؤمن به شیانو په اړه هومره علم او معرفت ولري چي همدا پوهه او معرفت ئې په یقین او ایمان بدل شي. موږ مکلف یو ټول هغه شیان وپیژنو چي د ایمان دعوی پرې کوو. د دغو مؤمن به شیانو په اړه باید زموږ علم او بیا ایمان داسي کامل او راسخ وي چي هیڅ شی او هیڅ حالت ونشي توانیدی زموږ په زړونو کي د شك باعث شي. لکه چي ویل شوي:

لیس الایمان بالتمنی ولا بالتحلی ولکن هو ما و قر فی القلب و صدقه العمل

ایمان نه په هیلي او تمنا سره دئ او نه په تحلی "سینگار او خپله بڼه بدلولو" سره؛ بلکي "ایمان" هغه څه دئ چي په زړه کي تقرر مومي او عمل ورباندي شهادت ورکوي.

قرآن عظیم الشأن د اهل کتابو د هغو کسانو په اړه چي امي او بې سواده ول، په لیك لوست نه پوهېدل، گمان ئې کولو چي په الله او د ده په کتاب ایمان لري، خو الله ته د دوی دا ایمان د منلو وړ نه وو، فرمایي:

وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨

البقره:٧٨

او د دوی ځیني امیان دي "لیك لوست نشي کولی" په کتاب نه پوهیږي مگر "څه" هیلي او نه دي دوی مگر دا چي گمانونه کوي

ګورئ چي هيلي او ګمانونه کفايت نه کوي، دلته علم او يقين ته ضرورت دئ، داسي علم چي په باور او يقين بدل شي او د زړه په تل او د دماغ په سلول، سلول کي داسي ځای ونيسي چي د شك او شبهې لپاره هيڅ مجال پاته نشي.

زموږ د ايمان څو مهمي او ستري برخي دي چي په کار ده لومړی د هري برخي په مفهوم او معنی پوه شو، بيا د هغې په اړه هومره ژور او جامع دلائل ولرو چي دا پوهه او علم په کامل يقين او باور بدل شي او بيا د دې ايمان په غوښتنو او مقتضياتو پوه شو.

په الله جل شأنه، د قيامت په ورځي، د الله په کتابونو، د ده په پيغمبرانو، په ملائکو او په قضا او قدر ايمان زموږ د عقيدې تر ټولو ستري او مهمي برخي دي، په کار ده تر هر څه د مخه د ايمان په دغو اساساتو او ارکانو ځان پوه کړو. که زده کړه کوو او د علم په تحصيل کي لګيا کېږو، بايد له دې ځايه کار پيل کړو، که نورو ته څه ښيو او د دعوت په کار کي ځان مصروفوو بايد په همدغو اساساتو ترکيز وکړو. متأسفانه ځيني داسي دي چي دغو اساساتو ته د اعتناء او توجه په ځای، په ضمني او ثانوي مسائلو کي هومره مصروف شوي چي دغو مسائلو ته ئې د توجه او پاملرني وخت نه دی موندلی، هغوی په دې اړه بحث نشي کولی، چاته قناعت نشي ورکولی، سوالونو ته ځواب نشي ويلی او اساساً پدې اړه د ويلو لپاره څه نه لري. د قرآن د الفاظو او کلماتو په اړه صرفي او نحوي تحقيق کولی شي، د بلاغت په دقايقو او لطائفو پوهېږي، د يونان د فلسفې او منطق په اړه بحث او مجادله کولی شي . خو که ترې وغواړو چي دا ثابته کړي چي لـه مرګ نه بعد ژوندون حق دئ، حساب او کتاب مکافات او مجازات حق دي، هيڅ نشي ويلی، په دې اړه د قرآن له سلګونو دلائلو څخه يو هم نشي تشريح کولی. که د قضا او قدر په اړه ترې وپوښتو وايي: "په دې باب له بحث او څېړني څخه ممانعت شوی!!" حال دا چي موږ مکلف يو په قضا او قدر ايمان ولرو، ايمان د معرفت نه پرته نشي کېدی، بايد د قضا او قدر په

مفهوم پوه شو، دا ښېله خبره ده چي په دې اړه بحث خاص حد لري چي لـه هغه نه تېرېدل پدې خاطر منع شوي چي هلته انسان ته مخکې تگ ممکن نه دئ، په خپل حد باید اکتفاء وکړي، لکه چي د الله جل شأنه په اړه بحث معین حد لري، د صفاتو او افعالو په اړه بحث او د ثبوت لپاره ئې دلائل لټول او وړاندي کول، نه یوازي مجاز بلکې ضروري دي او قرآن پدې اړه په سلگونو دقیق بحثونه کړي او ژور او مقنع دلائل ئې وړاندي کړي، خو د الله جل شأنه د ذات په اړه بحث او څېړنه، د انسان له توان او فهم نه اوچته ده، دې ساحې ته لـه ننوتلو نه منع شوی.

ځیني نور بیا داسي دې چي د امریکا او روس په ارتباط او د بین المللي سیاسي پېښو په اړه خو په غټو غټو الفاظو بحثونه کولی شي، لـه غرور نه د ډکي ناستي پاستې نه ئې داسي معلومیږې چي ته به وایې لوی لوی کتابونه به ئې په سینه کې ذخیره شوی وي، خو چي لږ ئې ولټوې او د ایمان د اساساتو او مبادیو په اړه ئې د پوهې د اندازې معلومولو هڅه وکړې، نو ډېر ژر او په آسانۍ سره به درته معلومه شي چي هسې د غوښې پرېړې پرېړې مجسمې دي.

**...كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ...** المنافقون:٤

داسي دي لکه تکیه کړی شوی لرگي

د دغو اعتقادي اساساتو د اهمیت په خاطر به موږ هره برخه ښېله ښېله د قرآن د آیتونو په رڼا کې څېړو او إن شاء الله پر هغه به تفصیلي بحث کوو، امید دئ الله جل شأنه موږ د حق په لوري هدایت کړي او په حق د پوهېدو او په هغه د عمل توفیق راکړي.

الهم ارنا الحق حقاً و ارزقنا اتباعـــه
و ارنا الباطل باطلاً و ارزقنا اجتنابه

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# په الله تعالی ایمان

په الله تعالی باندي د ایمان موضوع به تر دریو عنوانو لاندي څېړو:

- په الله د ایمان معنی.
- د دې ایمان او باور د اثبات لپاره دلائل.
- او په الله جل شأنه باندي د ایمان غوښتني او مقتضيات.

## په الله جل شأنه ایمان:

په الله باندي د ایمان معنی دا ده چي دا زمکه، آسمانونه او په هغه کي هر څه داسي پیدا کوونکی، پالونکی او ساتونکی لري چي هر څه ئې پیدا کړي، د هر څه پالنه او ساتنه کوي، دا عالم د هغه ملك او هغه ئې خالق او رب دئ، پدې عالم کي د هغه اراده نافذه ده او هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، په خپل ذات، صفاتو او افعالو کي د ټولو ښېګڼو او محامدو خاوند او د ټولو ستاینو وړ دئ او له هر عیب او نقص نه منزه او اوچت. نه د دې عالم په پیدایښت کي د چا مرستي ته اړ شوی او نه ئې په پالنه او ساتنه کي چا ته محتاج دئ، هر څه په خپل پیدایښت کي، په خپلي پالني او روزني کي او په خپلي بقاء او دوام کي ده ته اړ او محتاج دي.

داسي نه ده چي دنیا ئې پیدا کړې او بیا ئې خپلي مخي ته مهمل پرېښې وي او دلته حوادث او پېښې په خپل سر او تصادفي رامنځ ته کېږي، بلکي د دې عالم پیدا کوونکی ذات په خپل دې ملك کي، د مالك الملك په حیث تصرف کوي، هر څه اداره کوي، د عالم هر جزء ته جهت ورکوي، هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، پېښې او حوادث د ده لـه ارادې سره سم او د

هغو سننو او ضوابطو مطابق تحقق مومي چي الله وضع کړي او هر څه طوعاً او کرهاً د دغو الهي سننو په وړاندي مقهور او منقاد دي.

نفع او ضرر د ده په اختيار کي او عملونو ته په دنيا او آخرت کي دی بدلـه ورکوي، هر څه د ده په اراده او د ده لـه مشيت سره سم، د خاص مقصد لپاره پيدا کېږي، په خپل معين مسير او مدار کي خوځېږي او په پيدايښت او حرکت ئې خاص نتائج مرتب کېږی او د پېښو او حوادثو عواقب او نتائج هغه ټاکي.

## دا الله به چېري لټوو؟

## او د دې عقيدې لپاره څه دلائل لرو؟

قرآن عظيم الشأن چي په کوم څه موږ ته د ايمان راوړلو او باور ساتلو امر کوي، د هغه د اثبات لپاره هومره ژور او جامع دلائل وړاندي کوي چي د هر ډول شك او شبهې مجال ختم کړي او د انسان د زړه سلول، سلول د هغه په حقانيت شهادت ورکړي، خو د دې په ځای چي مبهم او غامض فلسفي دلائل وړاندي او لـه دې لارې د يوې اعتقادې مسئلې د اثبات هڅه وشي، برعکس، قرآن عظيم الشأن داسي څرګند، و اضح، محسوس او مشهود دلائل وړاندي کوي چي په دې عالم کي خواره دي او هر چا ته د درك وړ.

قرآن عظيم الشأن چي په الله تعالى باندي د ايمان په ارتباط کوم دلائل وړاندي کړي، په دريو برخو کي را خلاصه کېږي:

الف: په عالم کي د ربوبيت هغه آثار او مظاهر چي د دې عالم په پيداکوونکي، پالونکي او ساتونکي رب شهادت ورکوي او هر ليدونکی ورباندي متقاعد کوي.

ب: د رحمت او پېرزويني هغه خورې نښي چي په څرګنده توګه د رحمان رب په لور د انسان لارښوونه کوي.

ج: هغه سنن او ضوابط چي د دې عالم هر څه د هغه په وړاندي مطيع

او منقاد دي او له هغه نه د سر غړاوي توان نه لري او په واضحه توګه دا په ګوته کوي چې دا عالم يو داسي مالك الملك الله اداره کوي چې دلته د ده اراده حاکمه او نافذه ده او د دې عالم د ادارې واګې ئې په اختيار کې دي.

دا هر څه په دې عالم کې چا پيدا کړي؟ د هغه ساتنه او پالنه څوك کوي؟ او هغه څوك دئ چې د دې عالم په هر ګوټ او هر جزء کې د رب په حيث تصرف کوي؟

آيا په دې عالم کې د ښايست، نظم او ښېګڼو خورې نښي، په دې شهادت نه ورکوي چې د دې کائناتو پيدا کوونکی، پالونکی او ساتونکی ذات هغه الله جل شأنه دی چې د ټولو ستاينو وړ او د ټولو ښېګڼو خاوند دئ؟ د دې عالم بې انتهاء اجزاء چې هر يو ئې په خپل حد کې کامل دی او په جوړښت کې ئې له بشپړ دقت نه کار اخيستل شوی او هر يو د يوه خاص هدف د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی چې په منظمه او مستمره توګه او په ټول انهماك سره د هماغه معين هدف د تحقق لپاره په کار لګيا دئ، د هر جزء وجود په خپله هم په دې عالم کې يو خالي ځای ډکوي او يوه ضرورت ته ځواب وايي او په هغو نتائجو سره هم چې د دوی په مسلسل او منظم حرکت مرتب کېږی، خالي ځايونه ډکېږی او اړتياوو ته ځواب ويل کېږي.

په دې عالم کې څوك کوم بې هدفه ،عبث، خوشی، لـه ضرورت نه کم او يا له ضروري مقدار نه زيات شی نشي په ګوته کولی.

هغه څوك دئ چې دا خور عالم ئې لـه دې ښايست، کمال او ښېګڼو سره پيدا کړی او په هغه کې ئې دا دقيق نظم وضع کړی، د عالم د ټولو اجزاوو ترمنځ ئې دا موزون او متناسب ارتباطات او اړيکي ټينګي کړي، د دې عالم پالنه او ساتنه کوي، او د هري ذرې روزنه ئې کوي، رشد ورکوي کمال ته ئې رسوي، په مستمر او منظم ډول ئې مخ په وړاندي خوځوي او پر خوځېدو او حرکت ئې لـه مخکي نه ټاکل شوي نتائج مرتب کوي؟

موږ د دې عالم د پرلـه پسې، منظم او دقيق بدلون او تحول تر شا چې ټول لـه ثابتو سننو او ضوابطو سره سم تر سره کېږی، د يوه داسي پالونکي

ذات نامرئي لاس په خپل عقل او شعور سره لمس کوو چي په پوره غور او دقت سره ټول امور سمبالوي، د هر څه پيدايښت له هيڅ نه پيلوي، له يوه حالت نه ئې بل ته بدلوي، له مخکي نه ټاکل شوي مراحل وربانديي پلي کوي، ورو ورو او د ثابتو سننو او ضوابطو سره سم، د کمال طرف ته وده ورکوي، خاص نتائج وربانديي مرتب کوي، يوه اړتيا او ضرورت وربانديي پوره کوي، يوه خلا او تش ځای ورباندي ډکوي او په پای کي ئې په زوال محکوموي، دور ئې پای ته رسوي او ځای ئې بل ته خوشي کوي.

د هر با شعوره او با ضميره څېړونکي د بصيرت سترګي په آسانۍ سره کولی شي دا حقيقت درك کړي چي په دې خور او پراخ عالم کي دا دقيق، تنظيم شوي او با هدفه بدلونونه او تحولات حتماً د يوه داسي حکيم او عليم رب د تصرف آثار او نښي دي چي د کمال خاوند دئ او هر څه د ده په اراده تر سره کېږی.

د خيال په دنيا کي بې ځايه هڅه پرېږده، لږ مه ځه، ستا په خپل نفس او ستا په ملموس ماحول کي او په هغه څه کي چي ته ئې عادي جريان ګڼې او د هغه په اړه ستا حساسيت په دې دليل ختم شوی چي ورسره عادي شوی يې، په هر قدم کي، هري خواته او په هر څه کي په سلهاوو نښي، د الله جل شأنه په لوري ستا د لارښووني لپاره خورې دي او په الله باندي ايمان ته بلنه درکوي. لکه چي قرآن فرمايي:

سَنُرِيهِمْ ءَايَـٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ٥٣ فصلت:٥٣

ډېر ژر به خپل آيتونه په آفاق او د دوی په نفسونو کي وروښيو، تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ.

همدا راز فرمايي:

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ الفاتحه:١

ستاينې ټولې د عالمونو رب الله لره دي

يعنى هغه ذات چې په دې عالم کې د رب په توګه تصرف کوي او د هر څه پالنه او روزنه کوي، همدا الله هغه ذات دئ چې ستاينې ټولې ده لره دي. يعني په دې عالم کې د پالنې او روزنې مظاهر، په خپله د الله جل شأنه لورې ته زموږ لارښوونه کوي او موږ ته دا ثابتوي چې الله جل شأنه د کمال خاوند، د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص نه منزه دئ.

الله جل شأنه به په خپلو ذهني او خيالي تصوراتو کې نه، بلکې د عالم په غېږ کې، د ربوبيت په مظاهرو او نښو کې لټوو، بايد د الله د اثبات لپاره او له هره عيبه د هغه تنزيه او په هرې ستاينې سره ئې د ستاينې لپاره د دې عالم په ملموس، محسوس او مشهود ربوبيت استناد وکړو، نه دا چې د خارق العاده او فوق العاده پېښو په لټه کې وو او اعجازونو ته انتظار وکړو. قرآن عظيم الشأن د دې خبرې مدعي دئ چې هيڅوك نشي توانېدلی په دې پراخ عالم کې، کومه خلا او قصور په ګوته کړې، نشي توانېدی کوم اضافي شی، کم شی، کوم نقص، عدم توازن، عدم تعادل، او د يووالي او تنسيق نشتوالی ومومي، هر څومره چې انسان په دې عالم کې د نقص، فطور او قصور د موندلو لپاره څېړنه او هڅه وکړي او له ډېرې پلټنې او ځيرکېدو نه ئې سترګې ستړې او ستومانه شي، هيڅکله به ونه توانېږي چې د الله په مخلوقاتوکې کوم نقص، خطا، خلا او بې نظمي وښيي، په دې اړه قرآن فرمايي:

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ الملك: ٣-٤

هغه ذات چي اوه پوړ پوړ آسمانونه ئې پيدا کړل، آيا د رحمان الله په پيدايښت "مخلوق" کي څه تفاوت او بېلوالی ګورې؟ نو سترګي وغړوه او وګوره آيا کوم فطور "سوری، خلا او چاود" وينې؟ بيا سترګي په وار وار وغړوه "هومره چي"ستومانه او نامراده بېرته درته راوګرځي، حال دا چي ارمانجني وي.

يعني که هر څومره په دې عالم کي د نقص، قصور او فطور په طمع څېړنه وکړې، مراد ته به و نه رسېږې، دا آرمان به دې پوره نشي او حاصل به دې د سترګو له ستړيا او نامرادۍ نه پرته بل څه نه وي.

د الإنفطار په سورې کي له هغه انسان نه چي د خپل رب په پېژندلو او موندلو کي ئې لار ورکه کړې او غولېدلی په حيرانتيا سره پوښتي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَـٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨

اې انسانه! د خپل کريم پالونکي رب په اړه څه شي غولولی يې، هغه چي پيدا ئې کړې، بيا ئې سم او برابر کړې، بيا ئې متعادل او متوازن جوړ کړې، چي په کوم صورت کي ئې غوښتل ترکيب ئې کړې.
آيا ستا پيدايښت، سم او سالم وجود، موزون او متعادل جوړښت او غوره څېره او صورت د دې لپاره کافي دليل نه دئ چي ته په خپل کريم پالونکي او پيدا کوونکي رب ايمان ولرې؟
په بل ځای کي فرمايي:

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ٥

الاعلی: ١- ٥

د خپل اعلی رب نوم په پاکۍ سره یاد کړه، هغه چې پیدا ئې کړل، بیا ئې سم کړل، او هغه چې اندازه او هدایت ئې کړل. او هغه چې دا بوټي ئې راوایستل. بیا ئې زرغونه او توربخن کړل.

د اشیاوو د پیدایښت لړۍ د هغوی تعادل او توازن په خپل ذات کې او یووالی ئې له نورو سره، د هر یوه مقدار او اندازه ټاکل او په معین مسیر کې د مشخص هدف په لوري د هغوی لارښوونه او تر مشخصې نقطې پورې د هغوی وده او روزنه، هر با ضمیره او با انصافه انسان دې ته اړ کوي چې په هغه پیدا کوونکي او پالونکي رب ایمان راوړي چې هر څه له هیڅ نه راپیدا کوي، له غوره جوړښت او تقویم سره، په سم اټکل او تقدیر او د لزوم او ضرورت په اندزه ئې راپیدا کوي او خپل مخلوق مهمل او بې اسرې نه پرېږدي، هر یو په یوه خاص جهت کې د معیني نتیجې او غایې د تحقق لپاره ګماري، وده ورکوي او کمال ته ئې رسوي، له سپېرې زمکې نه تازه ګیاه راشنه کوي، چې د پخې دانې او مېوې د ورکړې نه وروسته ئې وچوي او وروستوي او خپل لومړني حالت ته ئې بېرته ګرځوي.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د انسان د پیدایښت او د هغو مختلفو مراحلو په اړه چې په ده باندې راځي فرمایي:

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخًا ۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوٓاْ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ٦٧

غافر:٦٧

دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې له خاوري پیدا کړئ، بیا ئې له نطفې نه، بیا ئې له علقې نه "چې ژوري ته ورته وي"، بیا تاسو د ماشوم په توګه راباسي، بیا "ستاسو روزنه کوي" تر څو خپل ټینګوالي او قوت ته ورسئ، "بیا تر څو زاړه شئ"، له تاسو ځیني مخکې له دې وفات کړی شي "ومري" او تر

څو ټاکلي اجل ته ورسئ او ښايي تعقل وکړئ.

څوك له مړې خاوري دانه او مېوه راشنه کوي او له هغه نه انسان ته داسي غذا جوړوي چي له مزاج سره ئې مطابقه او طبیعي اړتیاوو ته ئې ځواب ويونکې؟ بیا د انسان په خوراك كې د زمكي له همدې مړو اجزاوو نه د انسان نطفه جوړوي او همدا وړه نطفه چي لیدی نشي " مگر د هغو سترو، سترو میکروسکوپونو په ذريعه چي هر شی له خپل اصلي حجم نه په سلهاوو ځله سترښيي" له مختلفو مراحلو نه له تېرېدو وروسته ئې د ماشوم په توگه دنیا ته راولي، روزنه ئې کوي، ټولي اړتیاوي ئې، لومړی د مور په تي كي او بیا د دې عالم په غېږ کي ورته تهیه کړي، وده ورکړي، د خپل قوت، ځوانۍ او کمال آخري حد ته ئې ورسوي، له هغه ځايه ئې زوال پيل شي، زړښت ته ورسېږي او په مرگ محکوم شي.

د چا په اراده دا ټول تحولات، تغیرات او بدلونونه ترسره کېږي؟ په داسي حال کي چي انسان دا د ټولو مخلوقاتو اشرف، اکرم او اعلم په خپله په خپل پيدايښت، مرگ او ژوند، د کمال په لوري خوځښت، د زوال په لوري نزول او پرېوتو کي، د داسي مقدراتو او ضوابطو په وړاندي مقهور او محکوم دی چي له مخکي څخه وضعه شوي او د ده په طبیعت او پر ټول عالم حاکم او مسلط دي، د دغو حاکمو او قاهرو مقدراتو او مسلطو سننو تر شا د چا اراده حکومت کوي؟ قرآن فرمایي:

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ

شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ١٦ الرعد ١٦

ورته ووایه: د آسمانونو رب او پالونکی څوك دی؟ ووایه: الله "ووایه: نو بیا له ده نه پرته مو داسي اولیاء نیولی چي نه ځان ته د ګټي "رسولو" خاوند دي او نه د ضرر؟ ورته ووایه: آیا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آیا تیاره او رڼا سره برابره ده؟ آیا الله لره ئې داسي شریکان ( په خپل ذهن کي) جوړ کړی چي "څه ئې" پیدا کړی وي لکه الله چي پیدا کړي؟ نو " په دې ترتیب" پیدایښت په دوی مشتبه او شکمن شوی؟ ووایه: الله د هر څه خالق دئ او دی واحد قهار رب دئ.

آیا له الله جل شأنه نه پرته داسي څوك موندلی شئ چي د زمکي او آسمانونو په پیدایښت او پالني کي څه برخه او ونډه ولري؟ هغه څوك چي له الله جل شأنه نه پرته بل څه یا بل څوك مرستي ته رابلي او د ګټي طمعي یا د زیان او ضرر وېري د دروغجنو معبودانو او اولیاوو درګاه ته ودرولی؛ په حقیقت کي هغه ړانده ته ورته دئ چي د خپل ماحول له پېژندو عاجز دئ، چي هر قدم اخلي پښه ئې له مانع او خنډ سره لګېږي او یا هغه چا ته چي په سختو تیارو کي وي، نه خپل موقعیت او تم ځای پېژني او نه د بل، هر څه ورته نا آشنا وي، مسلماً داسي څوك له هغه بصیر او پوه انسان سره برابر نه دئ چي په رڼا کي وي او قضاوت ئې د هر څه په اړه او معامله ئې له هغه سره د پوهي په رڼا کي او له پېژندو نه وروسته وي، مشرك ړوند ته ورته دئ چي شرك د هر څه حقیقت ورته مغشوش کړی، په داسي حال کي چي په څرګنده ګوري په دې خور او پراخ عالم کي داسي یوه وړه بېلګه هم نشته چي له رب العالمین نه پرته بل چا پیدا کړې وي او بل څوك د هغې ساتنه او پالنه کوي، خو سره لدې له الله سره بل څه په الوهیت او ربوبیت کي شریکوي!!

همدا راز قرآن فرمایي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٦١ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٦٢

غافر:٦١- ٦٢

الله هغه ذات دئ چي شپه ئې ستاسو لپاره داسي ګرځولې چي په هغې کي هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بېشکه چي الله په خلکو باندي د پېرزويني خاوند دئ خو ډېری ئې شکر نه کوي، همدا ستاسو رب دئ "چي شپه او ورځ ئې پيدا کړی او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه کړی" د هر څه خالق، نشته بل اله مګر دی، نو څنګه دوکه کېږئ؟

يعنې د شپې او ورځي هدفمندي او هغه نتايج چي په دوی مرتب کېږي، داسي چي شپه ستاسو د هوسايني او سکون لپاره ده، تر څو د ورځي له خوا د مسلسل کار په نتيجه کي ضايع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجديد او اکمال کړئ او د سبا ورځي لپاره مستعد او تيار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمين وسيله ګرځولې، داسي چي هر څه د هغې په رڼا کي پېژندلی او کارولی شئ، په دې ترتيب، رحمان رب، خپل ستر فضل ستاسو په حال شامل کړی، چي ستاسو اړتياوو ته د دې طبيعت په غېږ کي او د هغه په تحولاتو او بدلونوو کي ځواب وايي، شپه او ورځ په دې برسېره چي د الله د فضل او پېرزويني نښي او مظاهر دي د هغوی تګ راتګ د دې عالم له ګڼ شمېر موجوداتو لکه لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستوري، ستور ليکو، او هر څه چي په آسمانونو او زمکه کي دي، عميق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظيم او په خپلو منځونو کي خاص تعلق، په دې منتج شي چي شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کي په يوه بل پسي راپيدا شي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو ترمنځ تناسق، يووالی او هم غږي او بيا د دوی او د انسان د طبيعت ترمنځ دا موزون او متناسب پيوند

او تعلق په خپله ثابتوي چي د ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته ئې د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکي او د ټولو ترمنځ دا توافق او يووالی راپيدا کوي.

په بل ځای کې فرمايي:

أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا
بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ
ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ ٦٠ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ
خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ
حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٦١ أَمَّن
يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ
وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا
تَذَكَّرُونَ ٦٢ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ
وَمَن يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ
ٱللَّهِ ۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٦٣ أَمَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ
يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ

ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٦٤

النمل:٦٠- ٦٤

هغه څوك دئ چي آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړل؟ او له آسمانه ئې تاسو ته اوبه راكوزي كړې؟ بيا ئې په هغه سره سمسور باغونه را شنه كړل "هغه چي" تاسو لره "ممكن" نه وه چي ونه ئې را شنه كړئ، آيا له الله سره بل اله شته؟ بلكي دوی هغه خلك دي چي " له حق نه" انحراف كوي، هغه څوك دئ چي زمكه ئې تم ځای وگرځوله او د هغې په منځ كې ئې نهرونه جوړ كړل، او هغې ته ئې لنگرونه ""غرونه" پيدا كړل، او د دوو سيندونو (تريو او خوږ) ترمنځ ئې حجاب او پرده راپيدا كړه، آيا له الله سره بل اله شته؟ بلكي د دوی اكثر نه پوهېږي. هغه څوك دئ چي د مضطر او بې وزلې (دعاء) مني كله چي ئې (مرستي ته) راوبلي، او ستونزي ختموي او تاسو د زمكي خليفه گرځوي، آيا له الله سره بل اله شته؟ لږ پند اخلئ. هغه څوك دئ چي د وچي او لمدې (بيديا او سيند) په تيارو كې تاسو ته لارښيي او هغه چي بادونه د خپل رحمت "باران" نه د مخه د زېري په توگه رالېږلی. آيا له الله سره بل اله شته؟ لوړ دئ له هغه څه نه چي "له ده سره" ئې شريكوي، هغه څوك دئ چي پيدايښت شروع كوي بيا ئې اعاده كوي او هغه چي تاسو ته له آسمان او زمكي نه روزي دركوي، آيا له الله سره بل اله شته؟ ورته ووايه: خپل برهان او دليل راوړئ كه رښتوني یاست.

لكه چي په دغو آيتونو كې مو وليدل، د قرآن عظيم الشأن ټول دلائل همداسي مشهود او محسوس دلائل دي، د خپلي مدعا د اثبات لپاره په عالم كې په خورو نښو او شواهدو باندي استناد كوي.

د الله جل شأنه په اړه د بحث په ارتباط قرآن عظيم الشأن نه د الله د ذات په اړه څه وايي، ځكه چي دا د انسان له فهم نه پورته او لوړه خبره ده او نه هم د الله جل شأنه د وجود د اثبات په اړه بحث كوي، ځكه چي

دا له بديهياتو څخه ده، بلکې د الله د يووالې او د ده د صفاتو په اړه څېړنه کوي او دلائل وړاندې کوي، مثلاً که غواړې دا ثابته کړي چې د دې زمکې او آسمانونو پيدا کوونکی او پالونکی رب يو دئ او د عالم په ادارې او سمبالولو کې هيڅوك له هغه سره شريك نه دئ نو فرمايي:

لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢ الانبياء: ٢٢

که چېرې په دې دواړو (آسمانونو او زمکې) کې له الله نه پرته (نور) آلهه (معبودان) وی، حتماً به دواړه تباه شوي وو، نو د عرش رب الله له هغه څه پاك دئ چې دوی ئې بيانوي.

يعنې په آسمانونو او زمکې کې د يوه الله حکم نافذ دئ او له يوې مرجع نه د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، په همدې خاطر د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل مدار او مسير کې اداره کېږي،که چېرې د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کې وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنيا نظم به متلاشي کېدو. د زمکې او آسمان ترمنځ يووالی او هم جهتي دا ثابتوي چې د دواړو الله يو دئ ، لکه چې قرآن فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٤ غافر ٦٤

الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وګرځوله او آسمان يې چت او تاسو ته ئې صورت درکړ، بيا ئې ستاسو صورت غوره او ښايسته کړ

او له پاکیزه "رزق" نه ئې تاسو ته روزي درکړه، دا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله.

یعنی هغه ذات چې زمکه او آسمانونه ئې پیدا کړل، د دوی ترمنځ ئې داسي وحدت، تنسیق او یووالی راپیدا کړ چې یو ستا د اوسېدو لپاره تم ځای او مستقر وي او بل ئې چت او پدغه کور کې چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ، ته ئې له داسي جوړښت سره راپیدا کړې چې په دې کور کې اوسېدی شې، هغه ستا له طبیعت سره متوازن او متناسب دئ، فشار ئې، حرارت ئې، یخني ئې، سختوالی او نرم والی ئې او هر څه ئې ستا لپاره مناسب دي.

ستا د دې کور چت او فرش، یو بل ته لاس ورکوي او په ګډه کار کوي، یو اوبه راوروي، بل دانه او مېوه راشنه کوي او په دې ترتیب ستا لپاره د داسي پاك رزق انتظام کوي چې ته ئې هم له رنګه، هم له خونده او هم له بویه لذت اخلې، ستا اړتیاوو ته ځواب وایي او ستا د ژوند او بقا عوامل برابروي.

هغه ذات چې د آسمان، زمکي او ستا ترمنځ ئې دا یووالی او تناسق راپیدا کړی هماغه ستاسو رب او د عالمونو رب دئ.

همدا راز که غواړې ثابته کړي چې الله جل شأنه بصیر دئ او ستا د عملونو څارونکی او بیا قضاوت کوونکی دئ نو فرمایي:

أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ٧ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠ البلد: ٧-١٠

آیا ګمان کوي چې هیڅوك ئې نه ویني، آیا ده لره مو دوه سترګې نه دي ګرځولي، ژبه او دوی شونډې او نه مو دي ورښودلي " د خیر او شر" دوې لاري؟

آیا انسان دا ګمان کوي چې الله جل شأنه د ده د عملونو څارنه نه

کوي؟ او د کړو وړو او ښه او بد په اړه به ئې قضاوت نه کوي؟ پداسي حال کي چي دی مخلوق دئ، سترګي لري، د ښو او بدو څارنه کوي، قضاوت کوي، ښه غوره ګڼي او له بدو کرکه لري، مګر د ده رب چي دی ئې پیدا کړی، ده ته ئې دا صفات ورکړي، په ده کي ئې دا استعدادونه ایښي، ده ته ئې سترګي ورکړې، د ما في الضمیر د اظهار لپاره ئې د تکلم وسائل، ژبه او شونډي ورکړې، په ده کي ئې د ښو او بدو د تفکیك استعداد ایښی، ده ته ئې ښه، ښایسته کړي او بد کرغېړن کړی، آیا کېدی شي د دې انسان خالق او صانع د دغو صفاتو خاوند نه وي؟ دا خبره کوم عقل منلی شي چي په مخلوق او مصنوع کي دي داسي یو کمال وي چي د هغه په صانع او خالق کي دي همدا صفت او کمال په اتمه او اکمله بڼه کي نه وي؟!

د دې لپاره چي ثابته کړي، الله جل شأنه نه یوازي له هر عیب او نقص نه منزه دئ بلکي عزیز او حکیم دئ نو فرمایي:

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

الحشر:١

څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په زمکه کي دي الله ته تسبیح کوي او هغه باحکمته عزتمن دئ.

په دې مبارك آیت کي، قرآن عظیم الشأن، د آسمانونو او زمکي هر څه د دې مطلب د اثبات لپاره د ګواه او شاهد په توګه وړاندي کوي چي الله له هر عیب او نقص نه منزه، عزیز او حکیم دئ.

د تسبیح لفظ په قرآن کي په څو معنوو راغلی:

١ - په پاکۍ اعتراف کول، له عیب او نقص نه منزه ګڼل او دا اعتراف او تنزیه او تزکیه د مخصوصو الفاظو په ذریعه څرګندول.

٢ - د حال په ژبه د خپل صانع او پالونکي په پاکۍ، شهادت ورکول او لیدونکي ته دا انتباه ورکول چي د دې توکي پیداکوونکی له عیب او نقص نه اوچت او لوړ دئ.

۳ - لامبو وهل او په سرعت او عجلې سره د يوه کار د سرته رسولو هڅه کول.

د تسبيح دغو درې ګونو معانيو ته په پام سره لومړی آيت دا مطالب افاده کوي:

۱ - د آسمانونو او زمکې هر څه الله په پاکۍ يادوي، هغه له هر عيب او نقص نه منزه ګڼي او ذکر ئې کوي.

۲ د دې کائناتو هر څه په کامل انقياد سره د الله جل شأنه په عبادت او بندګۍ کې لګيا دي، په هماغه مسير کې خوځېږي چې الله ورته ټاکلی او هماغه څه کوي چې الله جل شأنه ورباندې ګمارلي او هر يو د خپلې مشخصې دندې په سرته رسولو کې مصروف دئ.

۳ د زمکې او آسمانونو هر څه په دې شهادت ورکوي چې الله له هر عيب او نقص نه منزه دئ.

دا چې د الله تعالىپه زمکې او آسمانونو کې بېهوده او بې هدفه شی نشي موندلی، هر څه سم سالم او په خپل حد کې کامل پيدا شوی، هر څه د يوه معين هدف د تحقق لپاره پيدا شوی، د عالم ټول موجودات له خاصو ضوابطو او سننو سره سم د ټاکلې منهج مطابق د معين هدف په لوري په منظم او مستمر حرکت سره هغه تر سره کوي او خاص نتائج وړاندې کوي.

دا نظم، تعادل، ښايست او هدفمندي په خپله ثابتوي چې د دې عالم صانع، مدبر، پالونکی او ساتونکی له عيب او نقص نه منزه دئ، عليم او حکيم دئ او په هر کار کې ئې مصلحت او حکمت مضمر دئ.

د دې خور، ستر او پراخ عالم اداره او د هر جزء حرکت سمبالول او د بې انتهاء اجزاوو د ټکر او تصادم مخنيوی په خپله ثابتوي چې د دې عالم پالونکی رب، عزيز او غالب دئ او په هر کار قادر او توانا.

# الله جل شأنه د رحمت په آثارو کي

پرون مو واورېدل چي يو له هغو دلائلو نه چي قرآن عظيم الشأن ئې د الله جل شأنه او د هغه د ټولو صفاتو د اثبات لپاره وړاندي کوي هغه په دې عالم کې د ربوبيت آثار او مظاهر دي، دا موجود حاکم نظم، د عالم د ټولو اجزاوو هدفمندي او دا چي په ټول عالم کې څوك بېهوده او عبث شی نشي په ګوته کولی او نه هم کوم اضافي شی، يا کم شی، هر څه د يوه هدف لپاره پيدا شوی، او موږ يو غيبي لاس ګورو چي د دې عالم پالنه او ساتنه کوي، دا د ربوبيت آثار او مظاهر موږ دې لوري ته هدايتوي چي کوم چا دا عالم پيدا کړی او په هغه کې د رب او پالونکي په توګه تصرف کوي هغه الله دئ.

دويم دليل چي موږ ئې په دې باب لرو هغه په دې عالم کې د رحمت، پېرزوېني او عاطفي مظاهر او آثار دي، که دا دنيا بې روح او بې شعوره اشياء او توکي وی او د هغوی ترمنځ ماشيني تعلقات وی، نو نه به يوه د بل په نسبت عاطفه او پېرزوينه درلوده او نه هم زړه سوی او ترحم؛ خو برعکس موږ دلته ترحم، عاطفه، رحمت او پېرزوېنه او د دې ترحم او عاطفي آثار او مظاهر ګورو، ګورو چي مور د خپل اولاد په نسبت مخصوصاً په هغه وخت کې چي اړ او محتاج وي، د چا پالني او روزني ته ضرورت لري، په همدومره پېمانه چي هغه دې ته اړ وي د مور په زړه کې ورته ترحم او عاطفه وي، ايثار او د قربانۍ جذبه وي، هومره چي د هغه لپاره هر راز ستونزي کړاوونه، زحمتونه او بې خوبي ګالي، هر څومره چي دا

ماشوم بې نیازه کېږي، په خپل ځان متکي کېږي، له بل چا نه مستغني کېږي او په خپلو پښو ودرېږي همدومره دا رابطه هم تضعیف کېږي، شلېږي او قطع کېږي. تاسو مرغان ګورئ چې کله د هغه بچوښي واړه وي او یوه مدافع، حامي، پالونکي او ساتونکي ته اړ وي، ګورو چې مور پلار ئې، په همغه اندازه د هغه په نسبت عاطفه لري، مینه لري، ترحم او زړه سوی لري، د هغه ساتنه کوي، د هغه د پالنې او ساتنې لپاره حتی ځان هم په خطر کې اچوي، کله چې د هغه ځالې ته ځوك لاس وروړي ګورو چې ځان وربانديږي وژنې، چیغارې وهي، له یوې څانګې بلې ته الوځي، داسې لالهانده چې نه پوهېږې څه وکړي تر څو خپل بچیان له خطره وژغوري، حیوانات هم همداسې دي، حال دا چې څه موده وروسته او هغه مهال چې بچې ئې په خپلو پښو ودرېږي، خپل ضرورت خپله رفع کولی شي، له مور او پلار نه بې نیازه او مستغني شي، بیا هغه پخوانی تعلق ختم شي، بیا هغه د ترحم او عاطفې تعلق نه وي او ورو ورو تغییر مومي او له منځه ځي. دغه عاطفه او ترحم چا راپیدا کړې؟ ولې د ضرورت په وخت کې وي او د اړتیا له ختمېدو سره سم پای ته ورسېږي؟ حال دا چې نه مور او نه پلار هغه ته اړتیا لري، او کوم ضرورت ئې رفعه کوي، برعکس هر څومره چې اولاد د مورپلار پالنې ته اړ وي، نو دا مینه هم وي، او څومره چې هغوی د بل له مرستې بې نیازه کېږي دا رابطه هم تضعیف کېږي، یو وخت داسې راشي چې انسان ګمان نه کوي دا به همغه مور وي او دا به ئې همغه بچی چې د هغه په اړه ئې پرون، د مور په زړه کې دومره کلکه مینه او داسې ژوره عاطفه او ترحم وو، ځیني خو مینه او عاطفه داسې توجیه کوي چې ګواکې مبنا او بنسټ ئې احتیاج او اړتیا ده، خو دا په دې دلیل غلطه خبره ده چې دا احتیاج او اړتیا خو هغه مهال هم وي چې ماشوم ستر شي، خو هغه د پرون ورځې ترحم او عاطفه نن وي، د ماشوم له سترېدو سره خو دا رابطه باید تقویه کېدلی، هر څومره چې هغه د دې جوګه کېږي چې د مور پلار مرسته وکړي او احتیاج ته ئې د ځواب ویلو شي باید دا رابطه د مور

او پلار له خوا تقویه کېدی، څومره چي بچی او ماشوم لویېږي او په خپلو پښو ودرېږي او د دې جوګه کېږي چي د مور پلار احتیاج رفع کړي، د همدې په تناسب باید دا تعلق او رابطه مزید ټینګېدلی، خو برعکس ګورو چي هغه تضعیف کېږي او یو وخت دې حد ته راورسېږي چي دا رابطه قطع شي.

مور دا د میني، پېرزوېني، رحمت او محبت آثار او مظاهر ګورو او دا نتیجه ترلاسه کوو چي د دې عالم پالونکی خدای رحمان دئ. لکه چي پیغمبر علیه السلام فرمایي:

په دنیا کې دا ټول رحمت او پېرزوینه چي د ټولو مخلوقاتو ترمنځ لیدل کېږي، یو له بل سره مینه کوي، یو د بل په نسبت پېرزوینه او عاطفه لري، څاروي او ځناور له خپلو بچیانو سره مینه کوي، دا ټول د الله د رحمت د سلو برخو یوه برخه ده چي الله تعالی د خپل رحمت دغه وړه برخه د عالم پر ټولو مخلوقاتو وېشلې ده. .

عن سلمان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن الله خلق يوم خلق السماوات والأرض مائة رحمة كل رحمة طباق ما بين السماء والأرض فجعل منها في الأرض رحمة فبها تعطف الوالدة على ولدها والوحش والطير بعضها على بعض فإذا كان يوم القيامة أكملها بهذه الرحمة.

له سلمان رضي الله عنه نه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په کومه ورځ چي الله آسمانونه او زمکه پیدا کړل،سل داسي رحمتونه ئې پیدا کړل چي هر یو ئې داسي طبقه لکه د آسمان او زمکي ترمنځ واټن، له دې نه ئې یو په زمکي کې کېښود چي په همدې مور له خپل اولاد سره، ځناور او مرغان یو له بل سره مینه او عطوفت کوي، کله چي د قیامت ورځ شي نو په همدې سره به خپل رحمت بشپړ کړي.

د رحمت دا آثار او مظاهر چي مور ئې دلته ګورو، دا په دې باندي شهادت ورکوي چي دا دنیا، یوه مهربان خالق پیدا کړې او هغه دا د

پېرزوېني، عاطفې او رحمت علاقه په خپلو مخلوقاتو کې ایښې، موږ په دې عالم کې هري خوا ته د رحمت آثار گورو، په ټولو تعلقاتو کې، په طبيعي حوادثو او پېښو کې، د خلقو ترمنځ، د حيواناتو ترمنځ او د مرغانو ترمنځ. دا مينه، محبت، پېرزوينه او عاطفه چې آثار او مظاهر ئې هر لوري ته گورو، دا موږ ته لارښوونه کوي چې دا عالم يوه ماشيني نړۍ نه ده، چې د توکو تر منځ ئې تعلقات د يوه بې احساسه ماشين د بېلو بېلو برخو ترمنځ وي، چې هلته نه عاطفه وي او نه ترحم، بلکې دا د رحمان خدای له لوري پيدا شوې دنيا ده او هغه دا د پېرزوېني احساس او د رحمت او ميني علايق د مخلوقاتو تر منځ پيدا کړي. په رواياتو کې راځي چې: يوه ورځ يوه مور چې په تناره ئې ډوډۍ پخوله ناڅاپه ئې خپل ماشوم وليد چې د اور خوا ته نږدې کېږي، ورټوپ ئې کړل او هغه ئې په خپلې غېږ کې ونيولو، له همدې سره ئې دا فکر ذهن ته ورغی چې زما زړه نه غواړي زوی مي اور ته ولوېږي، الله تعالی څنگه په دې راضي کېږي چې خپل بنده په اور کې واچوي؟ ډوډۍ او تنور همداسي پرېږدي، ماشوم په غېږ کې اخلي، پيغمبر عليه السلام ته ورځي او پوښتنه کوي چې: آيا ته د الله رسول يې؟ وئې فرمايل: هو، هغې وويل: آيا الله تر ټولو زيات مهربان نه دئ، وئې فرمايل هو! هغې وويل: مور پلار مي تر تا جار؛آيا الله پر خپلو بندگانو تر مور پر خپل اولاد زيات مهربان نه دئ؟ وئې فرمايل: هو؛ هغې وويل: مور خو نه غواړي چې ماشوم ئې اور ته ولوېږي، الله تعالی څنگه غواړي چې خپل بنده اور ته واچوي؟ د دې خبرې په اورېدو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سترگو دومره اوښکې بهېږي چې مخ ئې په اوښکو لمدېږي او بيا سر رااوچتوي او فرمايي: يقيناً چې الله نه غواړي خپل بنده اور ته واچوي مگر هغه ډېر متمرد چې د لااله الا الله له ويلو انکار کوي.

عن ابن عمر قال كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم في بعض غزواته، فمر بقوم، فقال من القوم؟ فقالوا نحن المسلمون، وامرأة تحصب تنورها و معها ابن لها، فإذا ارتفع وهج التنور تنحت به، فأتت النبي صلى

الله عليه وسلم فقالت أنت رسول الله؟ قال نعم، قالت بأبي أنت وأمي أليس الله بأرحم الراحمين؟ قال بلى، قالت أو ليس الله بأرحم بعباده من الأم بولدها؟ قال بلى، قالت فإن الأم لا تلقي ولدها في النار، فأكب رسول الله صلى الله عليه وسلم يبكي، ثم رفع رأسه إليها فقال إن الله لايعذب من عباده إلا المارد المتمرد الذي يتمرد على الله وأبا أن يقول لاإله إلا الله

که څه هم د دې روايت په اسنادو کې څه ملاحظات شته؛ خو د ميني او پېرزويني په اړه دا مطلب په بل حديث کې په دې توګه راغلی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوې ښځې ته چې ماشوم ئې کلك په غېږ کې نيولی او تی ورکوي، اشاره کوي او صحابه وو ته فرمايي: آيا دا مېرمن به خپل ماشوم په اور کې واچوي؟ صحابه وو وويل: نه په خدای قسم چې ترڅو توانېږي اور ته به ئې وانه چوي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله پر خپلو بندګانو تر دې مور پر خپل زوی ډېر مهربان دئ.

عن عمر بن الخطاب أنه قال: قدم على رسول الله صلى الله عليه وسلم بسبي فإذا امرأة من السبي تبتغي إذا وجدت صبيا في السبي أخذته فألصقته ببطنها وأرضعته فقال لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أترون هذه المرأة طارحة ولدها في النار؟ قلنا لا والله وهي تقدر على أن تطرحه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لله أرحم بعباده من هذه بولدها.

قرآن عظيم الشأن همدا د رحمت آثار او مظاهر د رحمن خدای د اثبات لپاره د دليل په توګه وړاندي کوي، لکه چې فرمايي:

فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٥٠

الروم:٥٠

د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه زمکه له مرګه ئې وروسته

بیاژوندۍ کوي؟ یقیناً همدغه الله دئ چي مړي به بیاراژوندی کوي او هغه په هر کار قدیر او توانا دئ.

زمکي ته وګورئ چي هر څه په هغې کي په مرګ محکوم شي، په سپېره ډاګ بدله شي، داسي چي څوك په هغې کي د ژوند آثار نه ګوري، خو الله جل شأنه په همغه زمکه باران وورووي او دا مړه زمکه را ژوندۍ کړي. دا د الله د رحمت د آثارو یو مظهر دئ، په مرګ محکومه شوې، انسان د هغې دانې او مېوې ته اړ او محتاج دئ، له دې پرته د هغه ژوند امکان نه لري، د دې لپاره چي انسان او حیوان ژوندي پاته شي، د زمکي دانې، مېوې او وښو ته اړ او محتاج دي، د دې نه پرته ئې د زمکي په سر ژوند امکان نه لري، ګورئ چي الله تعالی خپل وسیع رحمت د هغه په حال شامل کړي، دا مړه زمکه ژوندۍ کړي او د هغه لپاره د ژوند د اړتیاوو او د رزق او روزي انتظام وکړي.

همدا راز فرمایي:

وَهُوَ ٱلَّذِى يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ٥٧ الاعراف:٥٧

او دی هغه ذات دئ چي باد تر خپل رحمت (یعني باران) مخکي، د زېري په توګه لېږي، تر څو چي درنې ورېځې اوچتي کړي، بیا ئې د مړې زمکي لوري ته خوځوو او بیا په همدې سره اوبه ورووو، بیا په همدې (باران او اوبو) سره، له زمکي هر نوعه مېوې راشنې کوو. همدا راز به مړي راباسو تر څو پند واخلئ.

یعنی مخکي له دینه چي باران وورېږي سوړ او خوندور باد لګېږي او د دې زېری ورکوي چي پدې پسې باران راځي، دا باران د رحمان خدای رحمت دئ، هغه ئې د رحمت په نامه یاد کړی، د دې رحمت د راتلو نه د

مخه ګورئ چي الله جل شأنه بادونه راولېږي او هغه تاسو ته د باران د راتلو زېرى درکوي، او دا په داسي حال کي چي انسان، نبات، حیوان ټول اوبو ته اړ او محتاج وي، د باران ورېدو ته منتظر او سترګي په لاره، الله جل شأنه د خپل رحمت په وجه د دوی د دې احتیاج، اړتیا او نیازمندۍ د رفع کولو انتظام کوي، ګورئ بادونه رالېږي، هغه د باران زېرى ورکوي، او بیا همدا بادونه دي چي هغه ورېځي چي د بحرونو د پاسه جوړې شوي په سر اخلي، په زرهاوو میله لري ئې خوځوي، له ځان سره ئې وړي، بیا همدغه ورېځي دي چي له هغه نه باران راورېږي او د همدې باران په ذریعه انسان ته د رزق او د روزي انتظام کېږي او د زمکي نه دانه او مېوه را شنه کوي، دا د رحمان خدای هغه انتظام دئ چي د خپلو بندګانو په نسبت د پېرزویني او رحمت په وجه ئې تر سره کوي او د دوی لپاره مړه زمکه ژوندۍ کوي او د رزق او روزي چاره ئې کوي.

که رښتیا په طبیعت کي همدا نظم نه وی، د بادونو په ذریعه د دې ورېځو خوځول نه وی او چېري چي ځوك ورته محتاج دئ، کومه زمکه چي ورته محتاجه ده، چېري چي انسان حیوان او نبات اوبو ته اړ او نیازمند دئ او منتظر دئ چي په سر ئې باران وورېږي، هلته ئې نه رسولی، انسان ته به څومره ګرانه وه چي د دومره اوبو انتظام وکړي چي هره ورځ د دې زمکي ټول ژوي ورته اړ او محتاج دي، خو الله جل شأنه ئې مفت، ارزانه پرته لدې چي انسان پرې څه تکلیف ایستلی وي ورته ئې مهیا کوي.

کله چي د اوبو نه بخارات راپورته شي، د لمر وړانګې له اوبو نه د بخاراتو د راپورته کېدو باعث شي، هغه تبخیر کړي او دا بخارات اوچت شي، په ورېځو بدل شي او بیا لرو لرو ځایونو ته د باد په ذریعه انتقال شي، زما او ستا په سر د باران په شکل ورېږي، د غرونو په غېږ کي ئې الله جل شأنه د واورو په شکل کي ذخیره کړي، غرونو واورو لپاره خپله غېږ پرانستې نیولې وي، او د دې لپاره مستعد او آماده وي چي کافي مقدار، ښه ډېره اندازه ئې په په خپلي غېږ کي ذخیره کړي او بیا چي کله انسان ورته محتاج

او اړ شي، کله چې په ګرمۍ کې انسان اوبو ته محتاج شي، ورو ورو دا واوره ویلې کېږي او په ویالو او نهرونو کې خوځېږي، زما او ستا د کور مخې ته بهېږي او د زمکې لاندې په کارېزو کې خوځېږي، که دا انتظام نه وی نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، که همدغه د اوبو تبخیر، بیا په ورېځو بدلېدل، بیا د باد په ذریعه تر لرو لرو منطقو پورې انتقالېدل او بیا د غرونو په غېږ کې د واورو په شکل ذخیره کېدل، بیا په دوبي کې همړلته ورو ورو ویلې کېدل او رابهېدل؛ که دا نظام نه وی نو د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو.

په دې کې شك نشته هغه ذات چې دا ټول امور اداره کوي، دا نظم ئې په دې عالم کې ایښی او د عالم د مختلفو اجزاوو ترمنځ ئې دا هم غږي او یووالی پیدا کړی، داسې چې هر څه ئې یو بل ته لاس ورکوي، په ګډه کار کوي او د خپل ګډ کار په نتیجه کې د خلکو اړتیاوې رفعه کوي، د الله د مخلوقاتو د احتیاج او نیازمندۍ د رفعه کولو لپاره په مسلسله او منظمه توګه په کار لګیا دي، که دا نه وی د زمکې پر سر به هیڅ ژوندی مخلوق نه وو پاته شوی. دا ټول د هغه الله تعالی د اثبات لپاره واضح او صریح دلائل دي چې د انسان په نسبت پېرزوېنه او رحمت لري.

## د اوبو د تصفیې الهي نظام:

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا ٤٨ لِّنُحۡـِۧيَ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرٗا ٤٩ الفرقان: ٤٨-٤٩

او دی هغه ذات دئ چې له خپل رحمت نه د مخه ئې بادونه د زېري په توګه ولېږل ( تر څو د باران د راتلو زېری خلکو ته ورکړي) او له آسمانه مو پاکې اوبه رانازلې کړې، تر څو د همدې اوبو په ذریعه مړ ښار (مړه زمکه)

را ژوندۍ کړو او له همدې څخه ډېر هغه حیوانات او خلك خړوبه کړو چې موږ پیدا کړي.

بادونه د باران د مخه رالېږي تر څو زېری ورکړي او بیا له آسمان نه پاکې اوبه نازلوي، راشئ دغي موضوع ته چې له آسمانه پاکې اوبه "ماء طهورا" نازلوي، لږ دقیق شو، گورو چې اوبه له هغه وروسته چې دلته استعمال شي او بیا د بحرونو لوري ته وخوځېږي، تروې او ترخې او تیزابي شي، نور نو له استفادې ولوېږي، له تصفیې پرته ترې استفاده نشو کولی، که د دغو اوبو د بېرته تصفیې انتظام نه وی نو د دې طبیعت په غېږ کې او د دې زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو، خو الله جل شأنه بېرته همدغه کثیفې او ناولې اوبه، تېزابي اوبه، تروې او ترخې اوبه، چې له کاره لوېدلې، د استفادې وړ نه دي، د همدې اوبو د تصفیې انتظام ئې کړی، په هغه د لمر وړانگې لگېږي، په دې سره تبخیر شي، تصفیه شي، په ورېځو بدلې شي، بېرته موږ ته پاکې، صافې اوبه د باران په شکل راورېږي، د چینو په شکل، د ځاگانو په شکل، په کارېزونو او ویالو کې. دا د اوبو د تصفیې الهي انتظام دئ، که دا هستي له طبیعي حوادثو څخه عبارت وی او د لته یوه حکیم ذات په هغه کې تصرف نه کولی نو د زمکې په سر ژوند، په دې دلیل هم امکان نه درلود چې یو ځل دا اوبه کثیفې شوې او له استفادې لوېدلې وی، نو انسان به د تل لپاره د څښاك له صافو اوبو محروم وو، خو الله جل شانه رحمان دئ او د خپلو بندگانو په نسبت د وسیع رحمت خاوند دئ، د همدې رحمت په وجه ده چې د باران د ورولو انتظام ئې کړی، همدا قضیه د رحمن خدای په وجود دلالت کوي، همدا تدارك او انتظام چې اوبه تصفیه کېږي، د هغه مړ ښار (چې هلته هر څه اوبو ته محتاج او نیازمند وي) د هغه په سر ئې وروي، په همدې حقیقت گواهي ورکوي، کله کله حالت دې حد ته ورسېږي چې د بارانونو د نشتوالي په وجه، گڼ شمېر ناروغۍ خورې شي، فضا او هوا ټوله کثیفه او ناپاکه شي، گرمي له

يوې خوا، د اوبو نشتوالی له بلې خوا، په فضا کې د مکروبونو خورېدل له بله طرفه، خو الله جل شانه نه يوازې هغه کثيفې تېزابي اوبه تصفيه کړي، په وربځو ئې بدلې کړي، تبخير شي، وربځې ترې جوړې شي، بادونو ته ئې د انتقال امر وکړي، خوځوي ئې، په زرها وو ميله لرې ئې همغه ښار ته چې خلك ئې اوبو ته محتاج دي، مرضونه خواره شوي او هر څه دې ته منتظر چې سړه هوا ولګېږي او باران وورېږي، الله جل شأنه ئې همغه منطقې ته رسوي، ګورو چې هلته باران وورېږي، هلته هوا تصفيه شي، مکروبونه ومري، د هوا کثافت ختم شي، حرارت له منځه لاړ شي او د همغې سيمې د خلکو احتياج ته ځواب وويلی شي، مړه زمکه بېرته را ژوندۍ شي او ډېرو محتاجو انسانانو او حيواناتو ته چې ژوند ئې په خطر کې لويدلی وو، اوبه ورسوي.

هغه ملکونه چې د اوبو له ناحيې مشکلات لري، بحرونو ته څېرمه په ساحل کې پراته دي او غرونه نه لري، زيات بارانونه وربانديې نه ورېږي، په غرونو کې هغوی ته واورې نه ذخيره کېږي، چې ورو ورو ويلې شي او نهرونه او ويالې وبهوي، د هغو تر ټولو لويه ستونزه دا ده چې د څښلو صافې اوبه نه لري او چې د يوه واړه ښار لپاره اوبه تصفيه کوي بې حسابه مصارف ترې غواړي، د دې ملکونو خلك د نفتو په ځاګانو دومره نه خوشحاله کېږي لکه د اوبو په يوې چينې.

د عربو د ملکونو يوه حاکم ته چا يو په بل پسې خبر ورکړ چې په فلان فلان ځای کې د نفتو ځاګان ومونډل شول، هغه ووېل کور مو ودان شه، خو يو ځل مو هم خبر را نه کړ چې د خوږو او صافو اوبو څا ومونډل شو!!، دا ځکه چې د هغوی لوی مشکل د صافو اوبو نشتوالی دئ.

د همدې الهي نظم په وجه چې زموږ مهربان رب ئې بندو بست کړی په دې عالم کې او د دې زمکې په سر انسان ته د ژوند امکانات برابر شوی.

## طبيعي لارښوونې:

**أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣** النمل:٦٣

**هغه څوك دئ چي د وچي او لمدې په تیارو کي ستاسو لارښوونه کوي او څوك دئ چي بادونه له رحمت "بارانه" مخکي د زېري په توگه لېږي؟ آیا له الله سره بل اله شته؟ "چي په دی کارونو کي څه برخه ولري او له الله تعالی سره په دې چارو کي شريك وي" لوړ او اوچت دئ الله له هغه څه چي دوی یی ور سره شریکوی "هغه له شريك نه مستغني او بې نیازه دئ"**

**یعنی ستاسو لپاره ئې د هدایت او لارښوونې انتظام کړی، په بحر کي هم، هلته چي د لوري د تشخيص لپاره هيڅ ډول علايم نشته، خو الله تعالی ستاسي لپاره د دې چاره کړې چي هلته لار بيا مومئ، یا د ستورو په ذريعه لار پيدا کوئ، يا د افق له رڼا نه او د لمر له طلوع او غروب نه پوهېږئ چي سمت مو کوم طرف ته دئ، او يا د داسي قطب نما او پرمخ تللو وسائلو بندو بست ئې کړی او داسي سنن ئې په طبيعت کي ايښي چي له هغوی نه په استفادې سره تاسو په دقيقه توگه خپله لار موندلی شئ. نو دا په وچه او لمده کي چي ستاسي د هدايت او لارښوونې لپاره انتظامات شوي، دا چا کړي؟**

**همدا راز تاسو ته ئې سترگي درکړې، د دغسي وسائلو انتظام ئې په دې عالم کي کړی چي په هغه سره تاسي په سیند، صحرا، فضا، په ورځ او شپه کي خپله لاره ومومئ، په دې طبيعت کي ئې د دې انتظام کړی، په تياره کي د افق له رڼا نه خپله لار موندلی شئ، په ستورو سره لار پيدا کولی شئ، د دې انتظام چا کړی؟**

**که په وچه او لمده کي، هغه مهال چي تياره وي، هيڅ څه نه ترسترگو کېږي، ستاسو د لارښوونې او هدايت انتظام شوی، دا په خپله انسان ته**

ښيي چي دا عالم يوه رحمان ذات پيدا کړی.
آيا په رحمان خدای د باور او ايمان لپاره دا کافي نه ده چي هغه مهال په تا باندي باران وروي چي ته ئې ورېدو ته سترګي په لار او منتظر يې، تر بارانه مخکي سوړ باد ته د زېري په توګه ګوري، آيا له الله سره بل اله شته؟ په ټول عالم کي داسي څوك مومئ چي له الله تعالی سره په دې کارونو کي شريك وي؟ دا چي د وچي او لمدې په تيارو کي ستاسو د لارښووني او هدايت انتظامات شوي آيا له الله تعالی پرته داسي څوك په نظر درځي چي په دې انتظام کي هغه څه ونډه او اغېز ولري، د څه کولو واك او اختيار ورسره وي؟ آيا د باران په ورېدو، د بادونو په ذريعه د ورېځو په خوځېدو، او د سوړ او ملايم باد په لاس د دې زېري او پيغام په لېږلو کي چي باران راروان دئ، په دې کي له الله سره څوك شريك شته؟
همدا راز الله فرمايي:
وَهُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ مِنۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوا۟ وَيَنشُرُ رَحْمَتَهُۥ ۚ وَهُوَ ٱلْوَلِىُّ ٱلْحَمِيدُ ٢٨ الشورى:٢٨
او دی هغه ذات دئ چي باران وروي له هغه وروسته چي (خلك) مأيوس او ناهيلي شوي وي او خپل رحمت خوروي او هغه ستايل شوی مولا دئ.
هغه ذات چي باران نازلوي او دا هم هغه مهال چي خلك مأيوس شوي وي، داسي څه نه مومي چي د باران د ورولو هيله ترې ولري، په ټول عالم کي له الله تعالی پرته داسي کوم شی نه ګوري چي خپل اميد ورپوري وتړي، هغه ته انتظار ولري او پر هغه اعتماد او تکيه وکړي، داسي څوك نه ګوري چي د ده احتياج ته ځواب ووايي، مشکل ئې رفع کړي، مأيوس او نااميده دئ، خو ناڅاپه د همدې مأيوس او نااميده انسان غوښتنه منل کېږي، دعاء ئې اورېدل کېږي او هيله ئې ترسره کېږي، دا څوك کوي؟ انسان خو په ټول عالم کي داسي څه نه ګوري چي په دې اړه له هغه نه څه طمعه ولري، په

هغه پورې خپل امید وتړي او له هغه نه د مرستي انتظار ولري، مأیوس دئ، په عالم کې داسي څه نه گوري چي د ده احتیاج او اړتیا تر سره کړي، ناڅاپه ئې دا یأس او نا امیدي ختمېږي، اړتیا او احتیاج ته ئې ځواب ویل کېږي، دا کار څوك کوي؟ دا څوك دئ چي انسان ته له هغه وروسته چي مأیوس شوی، له قحطۍ سره مخامخ دئ، سختي تودوخي وارخطا کړی، هري خوا ته مرضونه خواره شوي، نباتات ئې، حیوانات ئې او په خپله دی اوبو ته محتاج او اړ دئ، تر دې حده چي د یأس مرحلې ته رسېدلی، خو ناڅاپه د همدغه مأیوس انسان غوښتنې ته ځواب ویل کېږي، دا ځواب څوك وایي؟ او د هغه دا احتیاج څوك رفع کوي؟ څوك ئې ضرورت منتفي کوي؟

آیا له دې پرته بل ځواب لرو چي ووایو: دا د هغه ستایل شوي ذات کار دئ چي پر خپلو بندگانو مهربان، د دوی د اړتیاوو او ستونزو د رفعه کولو ذمه وار او د دوی مولا دئ.

## د شپې او ورځي الهي نظام، ستره الهي پېرزوینه

**قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ** القصص:۷۱

ووایه: آیا پوهېږي چي که الله پر تاسو باندي شپه د قیامت تر ورځي تلپاتي گرځولې وی، نو له الله پرته څوك داسي اله وو چي تاسو ته ئې رڼا راوړې وی؟ آیا نه اورئ.

که چېري الله جل شأنه وغواړي چي دا شپه دي دائمي شي، هومره دي اوږده شي چي د قیامت تر ورځي پوري دوام وکړي، او پدې ترتیب دا د شپې او ورځي د تلو راتلو موجوده نظام چي الله تعالی ایجاد کړی ختم شي، هغه څوك دئ چي بیا تاسو ته رڼا راولي؟ په دې ټول عالم کې داسي څوك گورئ چي د ورځي او رڼا په راوستو قادر وي؟ آیا په ټول عالم کې

داسي څوك ګورئ چي د شپې د پای ته رسولو توان ولري او هغه ورځ درته راولي چي تاسو ورته اړ او محتاج یاست؟

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ٧٢

القصص:٧٢

"ورته" ووایه! آیا پوهېږئ چي که الله پر تاسو باندي ورځ تل پاتې کړي، د قیامت تر ورځي پوري، آیا له الله پرته به کوم اله وي چي تاسو ته شپه راولي چي په هغې کي آرام وکړئ، آیا له بصیرته کار نه اخلئ؟

وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ٧٣ القصص:٧٣

او دا د ده له پېرزوینو څخه دئ چي تاسو ته ئې شپه او ورځ ګرځولې تر څو په هغې کي هوسا شئ او د دې لپاره چي د الله فضل ولټوئ او د دې لپاره چي ښایي شکر وکړئ.

الله تعالی شپه او ورځ په متوازن او متناسب شکل پیدا کړې چي یوه په بلې پسې راځي، تر هغو پاتې کېږي چي تاسو ورته اړ او محتاج یئ، نه لنډه او نه اوږده، بلکي هومره چي ورته ضرورت شته، تاسو شپې ته اړ او محتاج یئ تر څو په هغې کي هوسا او آرامه شئ، په ورځ کي تاسو کار کوئ، خپل معاش تامینوئ او د الله جل شأنه فضل لټوئ او پدې ترتیب ګورئ چي الله جل شأنه د دې انتظام هم کړی چي تاسو آرام وکولی شئ، په شپه کي چي هري خواته تیاره او چوپتیا وي، د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي، دا ځکه چي ته د خوب لپاره هم تیارې ته ضرورت لرې او هم چوپتیا ته، ګورئ چي شپه خپله تیاره پرده په ټول عالم خوره کړي، هر څه چوپ شي، هر څه په خوب لاړ شي او ستا د خوب لپاره آرامه او مناسبه فضا

جوړه شي، په رڼا کې سم خوب نشي کولی، په شور او ځوږ کې سم خوب نشي کولی، ګورئ چې الله جل شأنه هر څه په خوب بيده کړي او تياره شي، په دې ترتيب ستا د آرام لپاره مناسبه فضا جوړه شي او بيا ته رڼا او ورځې ته ضرورت لرې چې په هغې کې هر څه وپېژنې، کار وکړې، خپل معاش تأمين کړې، د الله فضل ولټوې، تاته ئې د دې انتظام هم کړی. يو معمولي تغيير د شپې او ورځې په دې موجوده تناسب کې، د ځمکې په سر د ژوند امکانات ختموي، نو پدې متوازن شکل کې د شپې او ورځې انتظام چا کړی؟ تاسو ګورئ چې قرآن کريم په دې هم استدلال کوي، دا په متوازن شکل، د شپې او ورځې يو په بل پسې راتګ، همغسې چې ته ورته اړ او محتاج يې، لکه څنګه چې ته ورته ضرورت لرې، دا د دې خبرې د ثبوت دليل دئ چې دا د رحمن پالونکي خدای د تصرف آثار دي، د رحمن رب د ربوبيت آثار دي، هغه دا انتظام کړی، که الله جل شانه په دې کې معمولي تغيير راولي بيا داسې څوک نشته چې په دې کې تصرف و کړي، تاسې ته رڼا راپيدا کړي او يا دې شپه راولي چې په هغې کې آرام وکړئ، که الله جل شأنه وغواړي چې شپه طولاني شي او تر قيامته پورې دوام وکړي، داسې څوک نشته چې تاته رڼا راولې او که هغه وغواړي چې ورځ تر قيامته طولاني شي، داسې څوک نشته چې هغه شپه راولي. دا د الله پېرزوينه ده چې تاسو لره ئې د شپې او ورځې داسې انتظام کړی چې تاسې ورته اړ او محتاج يئ. همدا راز فرمايي:

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ ١٩ الحجر:١٩

او ځمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل.

وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠ الحجر:٢٠

او تاسی ته مو په هغې کې د معیشت اسباب راپیدا کړل او هغه څه مو درته راپیدا کړل چې تاسې ورته روزي ورکوونکي نه یئ.

یعنی الله تعالی په زمکې کې ټول هغه څه راپیدا کړل چې تاسو ورته اړ او محتاج یاست او په هغه سره ژوند کولی شئ، هغه څه ئې هم درته پیدا کړي چې تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوی بلکې الله تعالی ورته روزي ورکوي، دا مختلف حیوانات چې الله جل شأنه پیدا کړي دي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړی.

وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١

الحجر:٢١

او هیڅ داسې شی نشته چې خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مګر په معلومې اندازې سره

یعنی هر شی ئې په یوه معلومه او معینه اندازه کې راپیدا کړی، څو نه چې دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زیات او نه کم، په همغه اندازه ئې پیدا کړی چې ورته ضرورت دئ.

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢ الحجر:٢٢

او بادونه مو راولېږل چې القاح کوونکي دي "د بادونو په ذریعه د نباتاتو القاح کېږي او د همدوی په واسطه ورېځې تشکیلوي او له یو بل سره ئې یو ځای کوي"، بیا مو له آسمان نه اوبه را نازلې کړې او په تاسو مو وڅښلې، او تاسو ئې ذخیره کوونکي نه یاست، ( د ذخیره کولو انتظام ئې هم الله کوي"

دلته څو شیانو ته اشاره شوې ده: دا چې زمکه مو خوره او پراخه کړه،

بیا مو په هغې کې غرونه واچول چې د هغې حرکت موزون شي، زمکه خوځېدله، د ژوند امکان په کې نه وو، الله جل شأنه په هغې باندي غرونه راپیدا کړل تر څو غیر متوازن حرکت ئې متوازن کړي، کنټرول ئې کړي، بیا ئې په هغې کې هر نوع موزون نبات را شین کړ، کوم شي ته چې تاسي محتاج یاستئ، کوم شي ته چې ټول ژوي ضرورت لري، هغه ئې ټول راشنه کړل او په زمکه کې ئې ستاسو د معاش او د ژوند لپاره ټول اسباب او ذرایع تأمین کړل او هغه حیوانات ئې هم تاسو ته راپیدا کړل چې تاسو ورته اړ او محتاج یاست، د روزي انتظام ئې هم الله کوي، تاسي هغو ته روزي ورکوونکي نه یئ، هیڅ شی داسي نشته چې د الله په نزد کې د هغه خزانې نه وي، د هر شي خزانې له الله تعالی سره دي، په داسي حال کې چې له الله سره ئې خزانې دي خو هر څه ئې په خپله معینه اندازه پیدا کړي، له خپلي اندازې څخه نه زیات او نه کم، بلکې په همغه اندازه چې انسان ورته ضرورت لري، که په دې اندازه کې معمولي تغییر راشي مثلاً د باد حرکت لږ تېز او اضافه شي، له موجوده معمول او طبیعي سرعت نه ئې سرعت لږ اضافه شي، نو د زمکې په سر به هر څه سره ټکوي، هر څه به نسکوروي او د ژوندانه امکانات به ختموي، که باران لږ اضافه شي، که واوره لږه زیاته شي، که ورځ لږ اوږده او طولاني شي، که شپه لږه لنډه شي، که نور او حرارت لږ زیات شي او دا هر څه چې ګورئ، له معین حد نه زیات یا کم شي، د انسان ژوند تهدیدوي، خو الله جل شأنه هر څه په معینه اندازه کې راپیدا کړي، د هر شي لپاره یو معین قدر او اندازه ټاکل شوې، په همغه اندازه چې انسان ورته اړ او محتاج دئ پیدا شوي، هیڅ شی له خپلي اندازې اضافه نه دئ، هیڅ شی له خپل ضروري اندازې لږ نه دئ. الله جل شأنه له خپلي اندازې سره سم پیدا کړی. چې هر څه له خپلي اندازې نه لږ اضافه شي ګورئ چې بیا څنګه ترې تنګ شو، باران، دا د ژوند تومنه او وسیله چې لږ له خپلي اندازې اضافه شي بیا دعاګاني کوو چې الله ئې متوقف کړي، واوره، بادونه، چې کله له خپلي طبیعي اندازې لږ اضافه شي

ګوريځ چي بيا ترې تنګ يو، سوکالي مو تهديد او ژوند راته ګران کړي.

او بادونه رالېږي چي ورېځي القاح کوي او د هر شي د القاح باعث ګرځي، بيا له آسمانه اوبه وروي او بيائې په تاسو څښي، او د اوبو د ذخيره کولو انتظام کوي، د غرونو په سر په ژمي کي واوره وروي، تر څو کافي مقدار هلته تاسو ته ذخيره کړي، د دې ذخيره کولو انتظام هم هغه کوي، دا ټول د رحمن رب د وسيع رحمت او پېرزوېنو آثار دي.

## د پيغمبرانو بعثت د رحمن رب بله پېرزوينه

د پيغمبرانو لېږنه د الله جل شأنه د رحمت يوه بله نښه ده. دا ځکه چي انسان تر هر څه د مخه او تر هر څه نه زيات دې ته محتاج او اړ دئ او دا ئې لومړي اړتيا ده چي په دې وسيع او پېچلي عالم کي چي اجزاء ئې بې انتهاء دي او په هغه کي د هر مفيد او مضر شي تشخيص د انسان له عقل نه اوچت او له امکان نه لري دئ، د دې لپاره چي د انسان لارښوونه وشي او هغه په ناپوهۍ کي پاتې نشي، مفيد او مضر تفکيك کړی شي او خپل دوست او دښمن سره بېل کړی شي، الله جل شأنه د دې لپاره پيغمبران را لېږلي، انسان په خپله او يوازې د عقل په مرسته د ځان او د بل حقوق نشي تثبيتولی، دوست او دښمن نشي پېژندلی، مفيد او مضر، حلال او حرام نشي بېلولی، دا کار نه په تجربو سره کولی شي او نه خپل عقل ته په پناه وړلو سره، که پيغمبران نه وی او د پيغمبرانو په ذريعه د انسان لارښوونه نه وی شوی، انسان به تل په تياره کي وو، هغه خپل ځان او دا وسيع عالم نشو پېژندلی، هغه خپل الله نشو موندلی او هغه د خپلو نږدې دوستانو حقوق نه شوای تثبيتولی. د انسان لومړۍ اړتيا او تر ټولو لوی ا حتياج همدا دئ چي د هغه لارښوونه وشي، د ژوند لاري چاري وروښودی شي، رحمن خدای جل شأنه د همدې انتظام هم کړی، د هغه د هدايت او لارښوونې لپاره ئې په هره زمانه کي او د تاريخ په هر پړاو کي چي کله ورته اړ شوی پيغمبران رالېږلي. د پيغمبرانو رالېږل د انسان لپاره او د ټول عالم

لپاره د الله ستره پېرزوینه ده، لکه چې قرآن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧ الانبياء: ١٠٧

او ته مو نه ئې لیږلی مګر د ټول عالم لپاره رحمت.

## د ظالمانو مواخذه د الله د پېرزويني بله نښه:

دا چې تاسو مجرم عناصر ګورئ چې کله د هغوی بغي او طغیان انتهاء ته ورسېږي، داسي حد ته چې حرث او نسل او هر څه تهدیدوي، د فساد باعث شي، د نورو ژوند په خطر کې واچوي، ګورو چې الله جل شأنه دا مجرم او ظالم عناصر مواخذه کړي، د ژوند او اقتدار ټغر ئې ورټول کړي او په دې ترتیب نه پرېږدي چې دا زمکه په فساد، ورانۍ او تباهۍ محکومه او د انسان ژوند له ګواښونو سره مخامخ شي، د مجرمو عناصرو مواخذه، د هغوی د اقتدار ټغر ټولول او د هغوی تخت او تاج نسکورول دا هم د رحمن الله د رحمت د آثارو او علائمو څخه دي، لکه چې قرآن فرمایی:

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمۡ ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُهُۥ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٤٧ الانعام:١٤٧

" اې پیغمبره!" که ستا تکذیب ئې وکړ، ورته ووایه چې ستاسو رب د وسیع رحمت خاوند دئ او د هغه جنګ له مجرمانو څخه نشي رد کېدی.

یعنی هیڅوك ئې د ردولو او مخنیوي توان نه لري، الله جل شأنه به حتماً د مجرمو عناصرو په خلاف جنګ پیلوي، داسي جنګ چې هیڅوك ئې د مخنیوي توان او وس نه لري.

دا چې د تاریخ په اوږدو کې تل لیدل شوي چې هغه مجرم عناصر له زوال او ورکاوي او سپکاوي سره مخامخ کېږي چې زمکه او د انسان ژوند له ګواښونو سره مخامخ کوي، الله تعالی سزا ورکوي او خلك د دوی له خطره ژغوري، دا موقع نه ورکوي چې په خپلو جرائمو او جنایاتو سره زمکه

له فساد او تباهۍ سره مخامخ کړي، الله تعالی دوی ته تر يوې ټاکلې نېټې او تر معينه حده مهلت ورکوي، خو کله چې د دوی طغيان له حد نه واوړي او د زمکې پر سر ژوندون په خطر کې واچوي او حرث او نسل له جناياتو نه صدمه ګوري، الله جل شأنه ئې نيسي، د هغوی په خلاف داسې جنګ اعلانوي چې هيڅوک ئې د ردولو او مخنيوي توان نه لري، بيا الله جل شأنه هغوی له شوم برخليك سره مخامخ کوي، دا د مجرمانو، ستمګرانو، طغاتو او باغيانو موأخذه او تر پايه پورې هغو ته موقع نه ورکول، له هغو سره حساب او کتاب کول، ظالمانو ته د خپلو ظلمونو او جناياتو سزا ورکول، دا په خپله د دې خبرې دليل دئ چې رحمن خدای (جل شانه) ستاسو په نسبت د وسيع رحمت خاوند دئ او دا د ده د وسيع رحمت نښه ده چې مجرمان موأخذه کوي، طغيان ته ئې نه پرېږدي او د نورو د ختمولو موقع نه ورکوي.

همدا راز که تاسو ګورئ چې مظلوم انسانان، هغه چې حقوق ئې تر پښو لاندې شوي، د خپل حق لپاره پاڅېدلي وي، الله تعالی د هغوی مرسته کړې، له ظالمانو ئې ژغورلي، د دوی د ژغورنې انتظام ئې کړی، هغوی ته ئې پر ظالمانو او ستمګرانو بريا او فتحه ورکړې، دا هم د رحمن خدای د رحمت له نښو او علامو څخه دي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩٤

هود:٩٤

او کله چې زموږ امر راورسېد، په خپل رحمت سره مو شعيب او هغه مؤمنان وژغورل چې له ده سره ول، او ظالمان يوې اوچتې چيغې ونيول، نو په خپلو کورونو کې پرمخې مړه پرېوتل.

یعنی هغه مهال چې د الله تعالی د پرېکړې نېټه راورسېده شعیب علیه السلام او هغه مؤمنان ئې په خپل رحمت سره وژغورل چې له ده سره ول او ظالمان یوې هیبتناکې لوړې چیغې ونیول، په مرګ محکوم شول او پرمخې پرېوتل.

دا آیت ښيي چې شعیب علیه السلام او د ده مؤمنو ملګرو ته نجات ورکول، ظالمان موأخذه کول او د عالم له صفحې نه د دوی ټغر ټولول د الله د رحمت له آثارو او علایمو څخه ده، همدا چې تاسو ګورئ مظلومان چې د خپل حق لپاره د ظالمانو په ضد پاڅېږي فتحه او بری تر لاسه کوي، حالت داسې برابرېږي چې بالآخره د ظالمانو سلطه پای ته ورسي او د اقتدار کرسۍ ئې رانسکوره شي، دا په خپله د دې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې دلته یو حکیم ذات د دې عالم په پېښو او حوادثو کې تصرف کوي، هغه ذات چې د انسان په نسبت رحمت او پېرزوینه لري، که دا حوادث طبیعي حوادث وی او یوه حکیم رحمان رب د عالم د حالت په بدلېدو رابدلېدو کې تصرف نه کولی او د حوادثو په تلو راتلو کې ئې لاس نه درلودی، نو مظلوم به د تل لپاره مظلوم پاته وای او هیڅ کله به د ظالمانو د ختمېدو او نسکورېدو بندو بست نه وای شوی، بس په طبیعي ډول به ظالم تل ظالم او په اوضاع مسلط او مظلوم به تل مظلوم وو. خو دا چې الله جل شأنه حالات داسې برابروي چې ضعیف او مظلوم انسان، د ظالمانو او باغیانو په مقابل کې فتحه او بری تر لاسه کړي او د ظالمانو له منګولو ئې وژغوري، دا په خپله ثابتوي چې دلته رحمن الله د رب په حیث تصرف کوي، هغه د مظلوم ملګرتیا کوي او ظالم په مرګ محکوموي، دا راز حوادث دا حقیقت ثابتوي چې دلته یو داسې ذات شته چې د خپلو بندګانو په اړه رحمان او مهربان دی او د همدې رحمن رب په اراده دا غیرطبیعي حوادث تر سره کېږي.

## الله د دې ملك مالك دئ

په الله باندې د ايمان د دلائلو په ضمن كې يو مهم او اساسي دليل دا دئ چې موږ په دې عالم كې هر څه داسې ګورو چې مقهور او محكوم دي او د داسې معينو ضوابطو په وړاندې كاملاً منقاد دي چې هغه تغيير نه مومي، په خپل پيدايښت كې، په خپل حركت كې، په خپلې ودې او رشد كې، په خپل مرګ او ژوند كې او په هغو نتايجو كې چې د هغوی په حركت باندې مرتب كېږي، په خپل زوړوالي او كهولت كې او دا چې بالأخره په مرګ محكومېږي، په دې ټولو كې هغوی د معينو او ثابتو سننو او ضوابطو په وړاندې مقهور او محكوم دي، د عالم په هر جزء او په هره برخه كې ګورو چې دغه سنن او ضوابط حاكم دي او هر حركت او هر تحول د همدغو سننو مطابق تر سره كېږي، دا حقيقت په خپله هر عاقل انسان ته ښيي چې دا عالم يو ټولواك مالك لري، يو داسې واكمن حاكم چې په هر ځای كې د ده اراده مسلطه او حكم حاكم دئ او د ټولو حوادثو تر شا د هغه اراده حكومت كوي، ګورو چې د همغه ذات د ارادې سره سم په عملونو نتايج مرتب كېږي، په همدې دنيا كې د مكافات او د مجازات سلسله ګورو، هغه غيبي لاس چې دا هستي اداره كوي او د عالم چارې سمبالوي او هر څه د هغه په اراده خوځېږي، هر څه د هغه په وړاندې محكوم او مقهور دي او همغه په عملونو باندې نتائج مرتب كوي او د عمل بدله وركوي، د مالك په توګه او د يوه حاكم په څېر په عالم كې تصرف كوي او په عملونو نتايج مرتب كوي.

همدغو حقايقو ته قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو كې اشاره كوي او همدا خبره ترې ثابتوي چې دا عالم يو مالك او ټولواك لري چې هر څه د هغه د ارادې په وړاندې مقهور دي، لكه چې فرمايي:

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ

﴿وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١﴾ یونس:۳۱

(ورته) وايه! له آسمان او زمکي نه څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ او د دغو غوږونو او سترګو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چي ژوندي له مړي او مړي له ژونديو راپيدا کوي؟ او د کارونو تدبير څوك کوي؟ ژر ده چي وبه وايي: الله، نو ووايه: آيا (له کفر او شرك نه) ځان ساتنه نه کوئ؟

دا د رزق او روزي انتظام څوك کوي؟ د چا په اراده دا آسمان او زمکه په ګډه کار کوي چي انسان ته د رزق او روزي انتظام وکړي؟ له آسمانه اوبه راورېږي او له زمکي دانه او مېوه راټوکېږي او په دې سره د انسان اړتياو ته ځواب ويل کېږي، دا کار د چا په اراده ترسره کېږي؟ دا د کوم مدبر ذات دقيق تدبير دئ؟ دا غوږونه او سترګي چي ته پرې ليدل او اورېدل کوې، د دې اصلي مالك څوك دئ؟ د چا له لوري درکړی شوي؟ د چا په اراده ستا د ژوند يوه اساسي او مهمه برخه بشپړوي؟ که دا غړي دي په واك کي نه وی له څومره ستونزو سره به مخامخ وې؟

آيا دې پوښتنو ته له دې پرته بل ځواب ويلی شې چي دا د مهربان پالونکي رب له لوري درکړی شوي؟ آيا له دې اعترافه پرته بله چاره لرې؟

له دې څرګند حقيقت نه د انکار لپاره څه دليل لرې؟ ووايه: ستا او ټولو ژوو لپاره د رزق او روزي انتظام څوك کوي؟ له آسمان او زمکي نه تاسو ته څوك رزق او روزي درکوي؟ دا د رزق او روزي وسايل چا پيدا کړي؟ باران څوك ورووي؟ شپه او ورځ څوك راولي؟ لمر زموږ زمکي ته د چا په اراده نور او تودوخه ورکوي؟ د زمکي پر مخ د نور وړانګي د چا په اراده خورېږي؟ دا له زمکي نه دانه او مېوه څوك راشنه کوي؟ دا زموږ سترګي او غوږونه د چا په اراده کار کوي؟ د دې مالك څوك دئ؟ دا ژوندي له مړو او مړي له ژونديو څوك راپيدا کوي؟ دا د عالم چاري څوك سمبالوي، د امورو تدبير ئې

د چا په واك کې دئ او کارونه ئې د چا په اراده تر سره کېږي؟

له دې پرته بله چاره نه لري، دوی په دې خبرې اعتراف ته اړ او مجبور دي او بله چاره نه لري چې ووايي: دا هر څه الله تعالی کوي.

همدا راز فرمايي:

لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠ يس: ٤٠

نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ بيامومي او نه شپه په ورځ باندې سبقت کوي بلکې هر يو په يوه معين مدار کې خوځېږي.

ګورئ چې لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه ترلاسه کوي، يو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کې خوځېږي، د دوی ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کې دا بې شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کې خوځېږي، يو بل په بيا نه مومي، چې له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر يو خپل حد پېژني، له هغه نه تېرې او تجاوز نشي کولی، نه لمر له خپل مدار نه خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخليدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه د دغو دواړو ترمنځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندی سبقت کولی شی، برعکس هره يوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر لپاره معين حدود چا وضع کړي چې له هغه نه د يوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېرې توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

ګورئ چې لمر، زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، له يوه ځايه طلوع کوي او په يوه ځای کې غروب کوي!! دغه معين مسير طوعاً او کرهاً پلې کوي او له هغه نه يوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسيع آسمان کې د ستورو ترمنځ ټکر او تصادم ولې نه

راځي؟ ولې یو د بل مسیر ته نه داخلېږي؟ دا هر یو په خپل مسیر کې څوك اداره کوي؟ د دې تر شاه د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندي هغوی محکوم او مقهور دي؟ چې په داسي منظم ډول او په ټول انقیاد سره په خپل معین مدار کې خوځېږي او یو انچ، له هغه نه یوه طرف او بل طرف ته انحراف نشي کولی؟!

همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه نه تېری نشي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، یوه له بلې سبقت نه کوي چې د شپې په ځای ورځ راشي یا د ورځې په ځای شپه راشي او یوه له بلې نه سبقت وکړي، بلکي هره یوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې راځي.

په دغې مقدمې سره دوو حقایقو ته اشاره شوې: لومړی دا چې د عالم ټول اشیاء او اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چې تحولات د معینو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کېږي، له خپلو حدودو نه تېری نشي کولی، په خپل وخت کې راځي، په خپل ځای کې راځي. او دوهم دا چې شپه او ورځ د طبیعت دوه حالته دي او لمر، سپوږمۍ د طبیعت دوه اجزاء، گورئ چې دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طی کوي، یو د بل مدار ته نه داخلېږي، یو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر یو په خپل مسیر او مدارکې ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندي چې کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چې په عالم کې راځي دا هم د معینو سننو او ضوابطو سره سم، یو په بل باندي سبقت نشي کولی، آیا دا دلیل د دې خبرې د ثبوت لپاره کفایت نه کوي چې دا هر څه یو مالك ټولواك اداره کوي، او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

## ستا د مرګ پرېکړه څوك كوي؟

فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ٨٦ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٨٧

**الواقعه:٨٦**

**كه تاسي د الله د ارادې په وړاندي محكوم نه ياست " هغه دين چي الله وضعه كړی، هغه سنن او ضوابط چي الله جل جلاله په دې عالم كي وضع كړي، كه تاسي د هغه په وړاندي محكوم نه ياست" نو چي كله ستاسي روح ستوني ته ورسېږي بېرته ئې وګرځوئ كه رښتوني ياست؟**

**ستاسي مرګ په دې دلالت كوي چي تاسي د يوه چا د ارادې په وړاندي محكوم ياست، نه غواړئ چي په مرګ محكوم شئ، انسان نه غواړي چي په زړښت دي محكوم شي، د هغه قوتونه او استعدادونه دي ختم شي او چي كله د خپل قوت هغه معراج ته ورسېږي، بېرته دي په زوال محكوم شي، دا نه غواړي، نه غواړي چي له مرګ سره دي مخامخ شي، خو څه چاره لري؟، دا چي كله ستا روح ستوني ته ورسېږي بېرته ئې له ګرځولو عاجز يې، دا ثابتوي چي ته د يوه چا د ارادې په وړاندي محكوم يې.**

**كه چېري تاسو د الله د ارادې او د هغه دين چي ده وضعه كړې، هغه ضوابط او قوانين او مقررات چي په دې عالم كي هغه وضع كړي، د دې په وړاندي محكوم، مقهور او منقاد نه ياست نو چي كله ستاسو روح ستوني ته ورسېږي هغه بېرته وګرځوئ كه رښتوني يئ.**

## دا هر څه د چا ارادې ته تسليم دي؟

**قرآن د عالم د ټولو اشياوو په اړه فرمايي چي هر څه د الله په وړاندي منقاد دي.**

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا

وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران:٨٣

آيا "كافران" د الله له دين نه پرته بل دين لټوي؟ حال دا چي ده ته د آسمانونو او زمكي هر څه طوعاً او كرهاً منقاد دي او په پاى كي د هغه طرف ته بېرته گرځول كېږي.

تاسو د عالم هر څه گورئ چي د دې عالم د مالك او ټولواك د احكامو او ضابطو په وړاندي منقاد دي، يو شى به هم په دنيا كي داسي و نه گورئ چي هغه دې كاملاً آزاد وي او خپلي مخي او خپل سرته دي پرېښودل شوى وي. د اوبو قطره چي له وريځي نه په زمكه راپرېوځي، د يوې معيني قاعدې او ضابطې سره سم راپريوځي، نن علم حتى د همدې قطرې د پرېوتو فورمولونه كشف كړي، نن علم دا معلومه كړې چي د كوم فورمول مطابق او په كوم معين سرعت سره هغه په زمكه راپرېوځي؟ كومه تيږه چي پورته ئې اچوئ او بېرته په زمكه راپرېوځي د يوې معينې ضابطې او قاعدې محكومه ده، تاسي په دنيا كي هيڅ داسي څه نشئ موندلى چي هغه دي خپلي مخي ته آزاد وي او د هغو معينو سننو په وړاندي دې محكوم او مقهور نه وي چي الله تعالى ورته ټاكلي .

نن انسان د علم په رڼا كي په دې پوهېږي چي د عالم هر حركت د قوانينو مطابق ترسره كېږي، ساينس د دې لپاره فورمولونه وضع كړي، دا فورمولونه همغه سنن دي چي الله وضع كړي، نن د حركت، سرعت، شتاب، ويشتلو، ارتقا او سقوط لپاره په فزيك كي داسي معين فورمولونه وضع شوي چي ثابت دي او تغيير نه مومي. آيا دا كافران د الله له دين نه پرته بل دين لټوي؟ حال دا چي د آسمانونو او زمكي هر څه، طوعاً او كرهاً، خوښ او ناخوښ، كه زړه ئې غواړي او كه نه غواړي د هغه په وړاندي منقاد او تسليم دي.

همدا راز قرآن فرمايي:

لِّلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌۢ ١٢٠

المائده: ١٢٠

د آسمانونو او زمکې او څه چې په هغوی کې دي د ټولو پاچاهي الله لره ده ا و هغه په هر څه قدير او توانا دئ.

د زمکه او آسمانونه د الله جل شانه ملك او هغه ئې مالك دئ، دلته دی د مالك په حيث په هر څه کې تصرف کوي، د دې عالم په هره گوښه کې د ده اراده نافذه او حاکمه ده، هغه مالك الملك دئ.

د الفرقان د سورې په ٢ آيت کې فرمايي:

ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ٢

هغه ذات چې د آسمانونو او زمکې پاچاهي د ده ده "دلته د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هغه د دې عالم مالك دی" نه ئې زوی ځان ته نيولی او نه پدې پاچاهۍ کې څوك له هغه سره شريك دئ، هر څه ئې پيدا کړي او د هغه لپاره ئې معينه اندازه ټاکلې" په يوه معينه اندازه ئې هر څه پيدا کړي"

يعني الله جل شأنه د آسمانونو او زمکې ټولواك او حاکم دئ، د هغه حکم په هر ځای کې نافذ دئ، هغه مالك دئ او دا زمکه او آسمانونه د هغه ملك دئ چې د حاکم او مالك په توگه په کې تصرف کوي، هر څه د هغه په وړاندې محکوم دي او هغه نه زوی لري، زوی ئې هم نه دی نيولی چې د هغه ځای ناستی شي او نه هم د دې عالم په اداره، کنټرول او ساتنه کې څوك له هغه سره شريك دئ، هر څه هغه پيدا کړي او د هر څه لپاره ئې معين حد او اندازه ټاکلې.

يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَۖ

كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ١٣ فاطر:١٣

شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي"خو له معيني قاعدې سره سم" او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، "هر يوه ته ئې معين مدار ټاکلی چې دغه معين مدار په معين وقت کې پلی کوي" هر يو د ټاکلی اجل او نېټې لپاره خوځيږي، همدغه الله ستاسو رب دی چې پاچاهي او ټولواکي د ده ده او څوك چې له هغه نه پرته بل څوك مرستي ته رابلي او د هغه عبادت کوي حتی د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ.

گورئ چې هره ورځ څو شېبې په هغه کې تفاوت راځي، شپه په ورځ کې داخله شي او ورځ په شپه کې، ورځ د شپې ځای ونيسي اوشپه د ورځې، په خپل ماحول کې گورو چې کله شپه وي او کله ورځ، اوس دلته ورځ ده خو دا ده ورو ورو شپه را روانه ده او د ورځې ځای شپې ته خالي کېږي. يا شپه کله اوږده شي او ورځ را لنډه شي، کله گورو چې ورځ اوږده شي، شپه لنډه شي. دا د شپې او ورځې يو په بل کې داخلېدل ، د الله جل شأنه کار دئ، دا الله جل شأنه دئ چې شپه په ورځ کې داخلوي.

دا څوك دئ چې دا کارونه کوي؟ شپه په ورځ کې داخلوي؟ ورځ په شپه کې داخلوي، لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي او هر يو په خپل مدار کې د معينې نېټې سره سم خوځېږي او د هغه اراده په هر څه کې او هر ځای حاکمه او نافذه ده؟ يعني هغه ذات چې دا کارونه د هغه په اراده تر سره کېږي او موږ گورو چې دا د هغه د سلطنت، سيطرې او تسلط مظاهر دي، همغه ستاسو رب دئ. او له هغه پرته چې څوك مرستي ته رابلي او د هغه عبادت کوي حتی د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ. دومره لږ څه هم د دوی په واك کې نه دي، هيڅ شی هغوی ته نه دی سپارل شوی، د هيڅ شي واك او اختيار نه لري، کوم څه چې د الله نه پرته تاسو مرستي ته

دربلئ او د هغه عبادت او لمانځنه کوئ، په دې عالم کي هيڅ واك او اختيار هغوی ته نه دی ورکړی شوی، وښيئ، د کوم څه مالك دي، چېري د هغوی اراده حاکمه ده او څه کولی شي؟

فَسُبْحَٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ٨٣

يس:٨٣

نو پاکي هغه ذات لره ده چي د هر څه ټولواکي د هغه په لاس کي ده او د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ.

هغه ذات چي د هر څه واگي د ده په واك کي دي، واکمني، سلطنت او سيطره هغه لره ده، د ټولو شيانو ساتنه او پالنه کوي، د ټولو امورو تدبير ئې په لاس کي دئ، هغه لره پاکي ده، هغه له هره عيبه منزه او له هرنقص او ضعف نه لوړ دئ.

يعني هر څه د هغه په اختيار کي او د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، په پای کي د خپل رب په لوري درومي، تاسو هم د نورو شيانو په څېر د خپل ژوند په پای کي د خپل رب خوا ته درومئ.

همدا راز فرمايي:

لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ٥ الحديد:٥

دآسمانونو او زمکي پادشاهي ده لره ده، او ټول کارونه الله ته محول کېږي.

د الله تعالی لوري ته د کارونو د ارجاع معنی دا ده چي د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، د هر کار نتايج او پايلي د ده له لوري ټاکل کېږي، لکه څنگه چي الله تعالی ټولواك دئ او حکم ئې په هر ځای کي نافذ او حاکم، همداسي د ټولو امورو پايلي د ده له لوري ټاکل کېږي، لله الملك، لله الحكم و لله عاقبة الامور.

الله تعالی همغه ذات دئ چي چا ته وغواړي اقتدار ورکوي، له چا نه چي وغواړي اقتدار بېرته اخلي، چا ته عزت ورکوي او څوك له ذلت او

سپکاوي سره مخامخ کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:٢٦

وايه! اې بارې ربه! د ملك مالكه! ته ئې چې چا لره وغواړې پاچاهي او واکمني ورکوې او له چا چې وغواړې اقتدار بېرته اخلې، چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او څوك چې وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کې ده، بې شکه چې ته په هر څه قادر يې.

يعني دا هستي ستا ملك او ته ئې مالك او ټولواك يې، دلته ستا اراده حاکمه او نافذه ده، دلته هر څه ستا د مشيت مطابق ترسره کېږي. دې ته مو بايد پام وي چې د ا لله مشيت په حق او عدل ولاړ او د تغيير نه منونکو ضوابطو او سننو مطابق دئ، الله جل شأنه هغه ضوابط موږ ته توضيح کړي چې له مخې ئې چا ته د اقتدار سپارلو پرېکړه کوي، هغه ثابت سنن او ضوابط ئې هم توضيح کړي چې له مخې ئې له چا نه واکمني او اقتدار اخلي، دا تصادفي پېښې نه دي چې په خپل سر، له کومې قاعدې پرته، تصادفي او آناً فآناً ترسره شي، بلکې دا د معينو، ثابتو الهي ضوابطو او سننو مطابق ترسره کېږي، الله جل شأنه دا موږ ته توضيح کوي: هغه چاته اقتدار ورکوي چې ايمان لري ا و عمل ئې صالح وي او په اجتماع کې تر ټولو اصلح وي، لکه چې فرمايي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا

يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٥٥

النور:٥٥

له تاسو نه چي چا ايمان راوړی او عملونه ئې صالح دي، له هغوی سره الله وعده کړې چي د زمکې خلافت به داسي دوی ته سپاري لکه چي تر دوی مخکنيو ته ئې خلافت سپارلی وو، هغه دين ته به تمکين او اقتدار ورکوي چي د دوی لپاره ئې غوره کړی، د دوی خوف به په امن بدلوي، ( داسي حالت به راولم چي) زما عبادت به کوي او هيڅ څه به له ما سره نه شريکوي.

دا وعده له چا سره شوې؟ له هغه چا سره چي ايمان لري او عمل ئې صالح وي، هغه څوك چي اصلح او تر ټولو غوره وي. خو د دې په مقابل کې هغه کسان هم موږ ته معرفي کوي چي الله تعالی ئې په ذلت محکوموي، په دې اړه الهي سنن او ضوابط هم موږ ته ښيي، چاته چي اقتدار وسپارل شو او هغه فساد وکړ او صلهٔ رحم ئې قطع کړ، الله به ئې ړندوي، اقتدار به بېرته ترې اخلي او په ذلت به ئې محکوموي.

قرآن کريم د بني اسرائيلو په قصې کې دا موضوع توضيح کوي، او موږ ته دا ښيي چي پدې قوم کې کوم صفات راپيدا شول چي الله جل شأنه د هغه په وجه د زمکې خلافت ورکړ؟ او بيا کوم صفات په کې راپيدا شول چي دائې بېرته ترې واخيست، په ذلت ئې محکوم کړل او له فقر او مسکنت سره ئې مخامخ کړل؟ قرآن عظيم الشأن هغه الهي مشيت او هغه ضوابط او سنن موږ ته ښيي چي د هغه له مخي الله تعالی چا ته ملك او اقتدار ورکوي او يا ئې بېرته ترې اخلي او د اقتدار تخت ئې نسکوروي. ځيني کسان داسي گمان کوي چي گواکې دا هسي د چانس او تصادف له مخي ترسره کېږي، حتی دا هڅه کوي چي ثابته کړي پدې اړه څه خاص ضوابط او سنن نه مراعات کېږي، بس د الله تعالی چي چا ته خوښه شوه پاچاهي او اقتدار ورکوي او له چا ئې چي وغوښتل بېرته ئې ترې اخلي. خبره نه

يوازي داسي نه ده؛ بلکې پدې اړه ثابت الهي سنن وضع شوي، قرآن عظیم الشأن موږ ته هغه الهي مشیت او هغه خاص سنن او ضوابط توضیح کړي او دائې را ښودلې چې دا کار د خاصو سننو او ضوابطو سره سم ترسره کېږي، څنګه او چاته ا لله اقتدار ورکوي او له چا نه ئې بېرته اخلي، لکه چې فرمايي:

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:٢٦

ووايه اى بارئ ربه! د ملك مالكه! ته چې چا لره وغواړې پاچاهي ورکوې "ملك او اقتدار ورسپارې" او له چا نه چې وغواړې اقتدار بېرته اخلې، چې چاته وغواړې عزت ورکوې او چې څوك وغواړې سپکوی ئې "له ذلت سره ئې مخامخ کوې" ښېګڼه ټوله ستا په لاس کې ده "خیر ټول ستا په اختيار کې دئ، ته چې هره فيصله وکړې په هغه کې خیر دئ، که چاته اقتدار سپارې په هغه کې خير دئ، که له چا نه ئې بېرته اخلې په هغه کې خیر دئ، که عزت ورکوې خیر په همدې کې دئ، که څوك په ذلت محکوموې خیر په همدې کې دئ، ښېګڼه او خير ټول ستا په اختيار کې دي، ستا په هره فيصله کې خير دئ" او ته په هر څه قادر او توانا یې.

چا ته عزت ورکول او يا ئې له سپکاوي سره مخامخ کول، د معينو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږی، چې کله معین مواصفات په یوه فرد یا ټولنې او اجتماع کې راپيدا شول، الله جل شأنه عزت ورکوي او چې بيا څه مشخص مواصفات په هغه کې راپیدا شول بېرته ئې په ذلت محکوموي، سپکوي ئې او عزت بېرته ترې اخلي. يعني په دی باب الهي مشيت د خاصو سننو او ضوابطو مطابق دئ چې تغییر نه مومي، تل ثابت او تغییر

نه منونکی دئ.

تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧

آل عمران: ٢٧

ته ئې چې شپه په ورځ کې داخلوې او ورځ په شپه کې داخلوې، ژوندی له مړي راپيدا کوې، او مړی له ژوندي نه راپيدا کوې، او چې چا ته وغواړې بې حسابه رزق ورکوې.

دا هم د الله د ملك او واکمنۍ مظاهر دي، دا د شپې او ورځې تګ راتګ، د مرګ او ژوند فيصله، د رزق او روزي اعطاء، د عزت او ذلت فيصله، چا ته اقتدار ورکول او له چا نه ئې بېرته اخيستل، دا ټول د همغه الله په اراده کېږي چې دا ملك اداره کوي او د ټولو امورو تدبير د هغه په واك کې دئ.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ ١١٦

المؤمنون: ١١٦

نو هغه حقيقي ټولواك لوړ دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، او هغه د پرتمين عرش رب دئ.

يعني الله تعالی حقيقي مالك دئ، له ده پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه ټولواك دئ، د عالم هر څه د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي دي، هر څه د ده تر سيطرې او سلطې لاندي دي، له کوم عرش نه چې د دې ملك او د عالم اداره کېږي، هغه د ده عرش دئ، او دا هستي ټوله د هغه د سيطرې او سلطې تر تخت او عرش لاندي ده، يعني دلته هغه هم مالك دی او هم حاکم. په ټوله هستي کې د ده اراده نافذه ده، هغه د عرش مالك دئ، څوك چې د الله په ملك کې ژوند کوي، نو هغه به د همغو ضوابطو او سننو سره سم چې الله وضع کړي د خپلو عملونو اجر، بدله او

نتايج ويني، ځوك به تعذيبوي او چا ته به مغفرت او بخښنه کوي، خو د خاصو سننو مطابق، چا ته چې بخښنه کوي د هغه په باب الله جل شأنه خپل مشيت توضيح کړی، دا بخښنه د خاصو سننو مطابق ده، همدا وجه ده چې ځيني کسان د الله له مغفرت نه محروم دي، که ځوك تعذيبوي د هغه په اړه هم الله جل شأنه خاص سنن وضع کړي.

عملونو ته بدله ځوك ورکوي؟

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤٠ المائده:٤٠

آيا نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمکې پاچاهي د الله ده، ځوك چې وغواړي تعذيبوي ئې او چا ته چې وغواړي مغفرت او بخښنه ورته کوي او الله په هر څه قدير او توانا دئ.

دلته په دې عالم کې د بدلې، مکافات او مجازات سلسله جاري ده، چې کله انسان په گناه لاس پورې کوي له همغه لحظې نه د هغه تعذيب پيل کېږي، عذاب د گناه سره متصل دئ، خو د مجرم او گنهگار د مجازات مکمله فيصله به د قيامت په ورځ کېږي، په دنيا کې د خپل عمل نسبي بدله تر لاسه کوي. د جرم او مجازات د تواميت يوه ښه بېلگه دا ده چې گورو هر تاواني توکی انسان ته حرام شوی، الله جل جلاله هغه شيان انسان ته حرام کړي او له هغوی ئې د ډډې کولو امر کړی چې انسان ته زيان رسوي، خو که ځوك حرام شيان خوري، الله ورته سزا ورکوي، له کومې لحظې چې انسان حرامو توکو ته لاس اوږدوي له همغې شېبې د ده د تعذيب لړۍ هم پيل کېږي. د دې خبرې ښه مثال دا دئ چې که ځوك په مخدره موادو لاس پورې کوي، د مثال په توگه چرس څکوي، يا کوم بل داسې حرام توکي ته لاس اوږدوي چې اسلام حرام کړی، له همغې لحظې نه چې ځوك دا گناه کوي، مجازات ئې پيل کېږي، د مخدره موادو منفي اثرات

ئې ورو ورو متأثره کوي، تر هغه چې لېونتوب ته ورسېږي، همدا راز که څوك شراب څښي، د دې حرام څیز له منفي اثراتو نه خوندي نه پاته کېږي، انسان چې هره گناه کوي عذاب ئې له گناه سره متصل پیل کېږي، خو کامله سزا به د قیامت په ورځ گوري، هغه مهال چې د انسان ټول اعمال او د هغه اثرات له نن نه تر پایه پورې را جمع شي او د عملونو اثرات ئې تکمیل شي، ځکه هر عمل خاص اثرات لري، د عمل د اثراتو دائره ورو ورو پراخېږي، بیا به د قیامت په ورځ دغو اثراتو ته په پام سره د مکمل اجر او د مکافات او مجازات فیصله کېږي.

موږ په دې عالم کې دا د مکافات او مجازات سلسله گورو، هغه ذات چې په عملونو نتایج مرتب کوي او عملونو ته مجازات او مکافات ورکوي، همغه الله دی چې په دې عالم کې د هغه اراده نافذه ده او دا ټوله هستي د هغه ملك دئ.

نه گورئ چې الله جل شأنه ظالمان مؤ اخذه کوي، وئې نیسي او د عذاب متروکه ناځاپي د هغوی په سر راپرېوځي، دا په داسي حال کې چې ټول شرائط د دوی په گټه وي، د اجتماع حالت، او په هغه کې هر څه د دوی په گټه، او د دوی په خدمت کې وي، پر اوضاع حاکم وي، هر څه د دوی په اختیار کې وي، د بقا لپاره ئې ټول شرائط برابر وي، ټول امکانات او وسایل د دوی په لاس کې وي، د دوی د بقا او دوام لپاره ټول شرایط مساعد وي، خو گورو چې ناځاپي د الله تعالی د عذاب او مؤاخذې متروکه د دوی پر سر را پرېوځي او د اقتدار تخت او تاج ئې نسکور شي، لکه چې قرآن فرمايي:

أَلَمۡأَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ٦ إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ٧ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٨ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ٩

وَفِرۡعَوۡنَ ذِى ٱلۡأَوۡتَادِ ١٠ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِى ٱلۡبِلَٰدِ ١١ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا
ٱلۡفَسَادَ ١٢ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ١٣ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ
١٤ الفجر:٦ -١٤

آیا ودي نه لیدل چي ستا رب له عادیانو سره څه معامله وکړه؟ هغه د ا رم عاد، "په ارم کي اوسېدونکي عادیان"، د دنگو قدونو خاوندان، هغه چي په ښارونو کي د دوی په څېر بل څوك نه وو پیدا شوي او له هغو ثمودیانو سره چي په (گڼ شمېر) درو او ناوونو کي ئې تیږې وتراشلې "د ځلو او قصرونو جوړولو لپاره"، او د میخونو خاوند فرعون سره، (چي ډېر فوځونه ئې درلودل، خپل مخالفین ئې په مېخونو تعذیبول او د هغوی په لاس پښو کي ئې مېخونه ټك وهل) هغه چي په ښارونو کي ئې طغیان وکړ او په هغوی کي د ډېر فساد مرتکب شول، نو ستا رب ناڅاپه په دوی باندي د عذاب متروکه راپرېښوده، یقینا چي ستا رب حتما په کمین کي دئ.
یعني دا پېښي، د دغو قومونو تعذب ښيي چي الله تعالی مترصد دئ، هر چاته تر یوه وخته پورې مهلت ورکوي، ورته مترصد پاته کېږي، په میقات کي ورته کمین نیول شوی، په خپل وخت او ځای کي ئې ناڅاپي او کلك نیسي.
دلته د هغو قومونو د تعذیب یادونه شوې چي ځواکمن او مسلط ول، شرائط د دوی په گټه ول، اقتدار د دوی په لاس کي وو، وسائل او امکانات ټول د دوی په اختیار کي وو، هغه چي د افرادي قوت له ناحیې تر ټولو قومونو مخکي وو، د دوی په څېر بل قوم چېري نه ترسترگو کېدو، الله جل شأنه دنگي جثې او قد و قامت ورکړی وو، له دې پلوه ئې د نړۍ پر ټولو قومونو فضیلت په برخه شوی وو، خو چي کله ئې طغیان او سرکشي و کړه، وگورئ چي الله تعالی له هغوی سره څه وکړل؟!
د ثمود له قوم سره چي د مدنیت آثار ئې تر اوسه پوري پاته دي،

ځان ته د قصرونو جوړولو لپاره ئې تیږي په غرونو او سردرو کې تراشلې، په تمدن کې تر ټولو ولسونو مخکې ول، خو وګورئ له هغوی سره څه معامله وشوه؟!

فرعون وګورئ چې د مضبوط سیاسي اقتدار خاوند وو، د الوهیت دعوی کوي، ځان اعلی رب ګڼي، خپل مخالفین په مېخونو تعذیبوي، لښکري ئې په خدمت کې، خو چې کله ئې طغیان او سرکشي انتهاء ته ورسېده، وګورئ چې الله تعالی له ده او د ده له لښکرو سره څه معامله وکړه، دغو ظالمانو ته ئې تر یوه وخته پورې مهلت ورکړ، خو بیائې ناڅاپي مؤاخذه کړل، بیا د عذاب متروکه د دوی پر سر راپرېوته، دا ښیي چې یقیناً ستا رب په کمین کې دئ.

همدا چې ظالمان مؤاخذه کېږي، هغوی ته صرف تر یوې خاصې نېټې مهلت ورکول کېږي، خو په داسي حال کې چې د دوی د بقا لپاره ټول لازمي شرایط برابر وي، هر څه د دوی په اختیار کې وي، ناڅاپي مؤاخذه کېږي، آیا دا په خپله نه ثابتوي چې دلته د مکافات او مجازات سلسله جاري ده؟ چې څوك طغیان وکړي هغوی مؤاخذه کېږي، له هغوی سره محاسبه کېږي، ترپایه خپلې مخې ته نه پرېښودل کېږي، د جرم او ظلم سزا ورکول کېږي؟

همدا راز فرمایي چې تاسو په زمکه کې وګرځئ او وګورئ چې د مجرمینو عاقبت څنګه وو؟

قُلْ سِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ٦٩

النمل:٦٩

ورته ووایه: په زمکه کې وګرځئ "تاریخ ته رجوع وکړئ، د تاریخ پاڼې واړوئ" بیا وګورئ چې د مجرمینو عاقبت څنګه وو.

دا چې هر مجرم قوم ته ئې په پای کې سزا ورکړې، هغه ئې نیولی، هغه ئې له خپل شوم پای او بدمرغه برخلیك سره مخامخ کړی، آیا دا نه

ثابتوي چي دا عالم یو داسي ټولواك حاکم لري چي دلته ئې اراده نافذه ده او هغه عملونو ته بدله ورکوي؟ دا د بدلې او اجر ورکړه په دې دلالت کوي چي دا (ملك) څانته (مالك) لري.

همدا راز دا چي گورو څیني د ایمان په خط کې نېك اجر تر لاسه کوي، په مستمر او انقطاع نه منونکي توگه د خپلو عملونو نېك اجر تر لاسه کوي، د زمکې وارث شي، الله جل شأنه د زمکې خلافت ورته ورکړي، الله تعالی ئې له ناتوانۍ، ضعف، اضطراب، پرېشانۍ، ذلت او بې وزلۍ نه وژغوري، قوت او عزت ته ئې ورسوي، د هغوی د وېرې او خوف هغه حالت چي په ټولنه ئې حاکم وو، هغه ختم کړي او امن امان او اطمینان ور په برخه کړي. او د دې په مقابل کې بله ډله د فساد، ظلم او د جرم په وجه په اسفل السافلین کې پرې باسي، او تر ټولو بد حالت سره ئې مخامخ کړي، دا موږ په خپلو سترگو گورو، آیا دا چي څیني کسان د ایمان له خط نه د انحراف په نتیجه کې له دې زیان مندۍ او خسران سره مخامخ شوي، آیا دا په خپله د دې لپاره دلیل نه دئ چي دلته یو احکم الحاکمین، مالك الملك الله دا هستي اداره کوي، او دلته د هغه اراده حاکمه ده او هغه عملونو ته اجر ورکوي. لکه چي قرآن فرمایي:

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥

التین: ۴-۵

یقیناً چي موږ انسان په ډېر غوره جوړښت کې پیدا کړ، بیا مو اسفل السافلین ته رد کړ.

که څه هم څینو درنو مفسرینو، اسفل السافلین د دوزخ په معنی تعبیر کړی، خو دقیقه ترجمه او صحیح تعبیر ئې د دنائت او رذالت تر ټولو ټیټ تل او پړاو دئ، تر ټولو پرېوتو او ذلیلو مخلوقاتو لاندې ولاړ شي، تر څناورو هم کوز ولاړ شي، دغه حالت د یوه پرېوتي او لارورکي انسان اسفل السافلین دئ، که لږ دقت وکړئ درته جوته کېږي چي دلته قرآن عظیم

الشأن د قيامت د ورځي د اثبات لپاره او دا چي هلته به دين قائمېږي، هلته به د عملونو بدله ورکول کېږي، د دې مدعا د اثبات لپاره دا دليل زموږ مخي ږدي چي دا دئ په خپلو سترګو ګورئ چي الله تعالى مجرمينو ته په دنيا کي د دوی د جرم سزا ورکوي، فساد، ظلم، جرم او ګناه دوی له داسي دردناك حالت سره مخامخ کړي، د ذلت داسي کندي ته ئې وغورځوي چي تر ځناورو هم لاندي ولاړ شي. د قيامت د ورځي د محاسبې او مکافات او مجازات د اثبات لپاره په دې استناد نشي کېدى چي کافران به د دوزخ په ژوري کندي کي لوېږي، ښه به وي چي دغه سوره مکمله ترجمه کړو.

د دې سورې په لومړيو آيتونو کي په څلورو ځايونو لوړه شوې، د قرآن عظيم الشأن قسمونه د استشهاد لپاره وي، په کوم څه چي قسم يادوي، هغه د دليل په توګه وړاندي کوي، دا قسم د هغه شي په عظمت د لوړي او قسم لپاره نه؛ بلکي په هغه د استشهاد لپاره وي، په هغه باندي استدلال کېږي او هغه د دليل او شاهد په توګه وړاندي کېږي، د يوې ادعا د حقانيت ثابتولو لپاره ئې وړاندي کوي. دلته د سورې په ابتداء کي په څلورو شيانو قسم ياد شوی:

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣

التين:١- ٣

قسم په انځر، زيتون، طور سينا او بلد امين "يعني مکه مکرمه"

لکه څنګه چي دا دوه وروستني ( طور سينا او بلد امين) ځايونه دي، دوه لومړني شيان هم د دوو ځايونو لپاره ذکر شوي، شام د انځرو د ملك په نامه مشهور دئ او فلسطين د زيتون د ملك په نامه، يعني له تين نه مراد هغه ځای دئ چي هلته زيات انځر پيدا کېږي، هغه سيمه چي د انځرو په نامه مشهوره ده او له زيتون نه فلسطين مراد دئ، دا څلور ځايونه دي، دا د وحي مهبط او د پيغمبرانو مبعث دئ، په دغو ځايونو کي

ګڼ شمېر پیغمبران مبعوث شوي.

دغه څلور ځایونه چې پیغمبران په کې مبعوث شوي دي، دا شهادت ورکوي چې انسان په ډېر غوره جوړښت او تقویم کې پیدا شوی، الله تعالی په هغه کې داسې استعدادونه ایښي چې د پیغمبرانو مرحلې ته رسېدلي، د پیغمبرانو وجود په دې دلالت کوي او په دې حقیقت شهادت ورکوي چې الله تعالی انسان په ډېر غوره جوړښت کې، له لوړو لوړو استعدادونو سره پیدا کړی. دا چې انسان دې مرحلې ته هم رسېدلی چې الله په پیغمبرۍ انتخاب کړی او په انساني ټولنې کې، د پیغمبرانو په شان ستر ستر شخصیتونه راولاړ شوي په دې شهادت ورکوي چې انسان په غوره تقویم او جوړښت کې ، له ډېرو اوچتو اوچتو استعدادونو سره پیدا شوی، د پیغمبرانو وجود په دې دلالت کوي:

لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ، ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ٥

التین: ٤-٥

یقیناً چې موږ انسان په ډېر غوره جوړښت کې پیدا کړ، بیا مو اسفل السافلین ته رد کړ.

دا څلور ځایونه چې هلته وحي نازله شوې، او هلته پیغمبران مبعوث شوي، د دې خبرې شهادت ورکوي چې انسان په غوره تقویم کې پیدا شوی، خو همدغه انسان چې الله تعالی له اوچتو استعدادونو سره پیدا کړی، حتی د پیغمبرانو مقام ته رسېدلي، خو له همدې انسانانو نه ځیني د دې وړ شي چې الله تعالی ئې په اسفل السافلین کې نسکور کړي، تر ځناورو هم کوز ولاړ شي، د دنائت او رذالت تر ټولو ټیټې درجې ته سقوط وکړی، تر ځناورو زیات ظالم او جاهل شي، سترګي لري خو په هغو لیدل نشي کولی، غوږونه لري خو په هغو اورېدل نشي کولی، په غوږونو او زړونو ئې مهر ولګول شي، پر سترګو ئې پردې پرېوځي، په څه نه پوهېږي، د حیواناتو په څېر شي او تر هغوی نه هم ډېر پرېوتي او بد.

... أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٧٩ الاعراف: ١٧٩

دوی د د ځارویو په څېر دي او تر هغوی هم ډېر ناپوه او لارورکي.

دا په داسي حال کي چي انسان په ډېر ښکلي او غوره جوړښت کي او له ډېرو اوچتو اوچتو استعدادونو سره پیدا شوی، خو له دوی نه ځیني په اسفل السافلین کي پرېوځي، په اجتماع کي ئې هومره فساد او د ظلم داسي بد حالت رامنځته شي چي د ځناورو ترمنځ په ځنګله کي هم داسي حالت نه وي، تر وحشي ځناورو زیات بې رحمه او سخت زړی شي، په خپل همنوع انسان دومره ظلم او تېری کوي چي هیڅ ځناور ئې له بل سره نه کوي، آیا د نړۍ په کوم ګوټ کي به داسي ځناور وموموئ چي د بې رحمو روسانو او کمونستانو په څېر به وحشي او قسی القلب وي؟! کوم څه چي روسانو او کمونستانو زموږ له ملك او ملت سره وکړل، هیڅ حیوان به داسي و نه ګورئ چي تر دې حده سخت زړی او بې رحمه وي؟ حیوان که ښېرل کوي، که خوړل کوي، دومره ئې کوی چي وربانديي اشباع شي، لوږه ئې وربانديي ختمه شي، خو انسان دې حد ته ورسېږي چي بیا په وژلو نه مړېږي، چي هر څومره وینې توی کړي، د هغه تنده نه رفعه کېږي، حیوان، زمری، لېوه، دومره خوړل او ښېرل کوي چي ضرورت ئې رفعه شي، په همدې اکتفا کوي، بیا هیڅاته څه نه وایي، زمری چي موړ شي چي تر څنګ ئې هم څوك تېرېږي څه ورته نه وایي، ضرورت ئې ورته نه وي، خو انسان بیا دومره وحشي، بې رحمه او قسی القلب شي چي د هغه ظلم انتها او پای نه لري. خو له دې وضعې نه څوك مستثنی دي:

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦

التین:٦

مګر هغه کسان چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، چي دوی

لره انقطاع نه منونکی، مستمر او مسلسل اجر دئ.

دا دئ گورئ چي یوه ډله د خپلو بدو عملونو په وجه په اسفل السافلین کي پرېوځي، د ذلت، دنائت، رذالت، وحشت، جهل او ضلالت د ژوري کندي په تل کي، تر هر ټیټ نه ټیټ او تر هر پرېوتي پرېوتی، او بله ډله گورئ چي د خپلو نېکو عملونو مسلسل او انقطاع نه منونکی اجر تر لاسه کوي. له دې نه په خپله ثابته کېږي چي دلته په دې عالم کي د مکافات او مجازات سلسله روانه ده.

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ٧ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ٨

التين:۷-۸

نو د دین په نسبت څه شي دوکه کړې؟! مگر خدای احکم الحاکمین نه دئ؟!

په داسي حال کي چي ته د انسانانو په ټولنه کي، په خپل ژوند کي د مکافات او مجازات سلسله گورې، نو څه شي دې ته اړ کړی یې چي دین تکذیب کړې؟ د قیامت د ورځي حساب او کتاب ونه منې، حال دا چي په خپلو سترگو د مکافات او مجازات سلسله گورې؟ الله تعالی د دې عالم حَکَم او حاکم دئ او د احکم الحاکمین رب پریکړې پکي نافذې او حاکمې دي.

همدا راز قرآن عظیم الشأن فرمایي:

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ٣٤ إِنْ هِىَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ٣٥ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ٣٦ الدخان: ٣٤-٣٦

یقیناً دا ډله خلك، حتما وایي چي دا نه دئ مگر زموږ لومړنی مرگ، او موږ بېرته راژوندي کېدونکي نه یو. که رښتوني یئ زموږ پلرونه راژوندي کړئ.

یعني همدا یو مرگ لومړی او وروستی مرگ دئ، بیا ژوندون نشته، له خپلو قبرونو نه بیاراپاڅېدا نشته، ځوك مو بېرته نه را ژوندي کوي، که داسي وی نو زموږ پلرونه چي مړه شوي بېرته را ژوندي کړئ که تاسو رښتیا

وايئ.

که تاسو واياست چي قيامت شته، له مرگ نه وروسته بياژوندون شته، موږ به بېرته له خپلو قبرونو نه را اوچتېږو، دا زموږ آباء او اجداد چي د مخه مړه شوي، يو خو بايد را ژوندی شي، تاسو خو يو راژوندی کړئ، که رښتوني يئ.

خو قرآن د دوی په ځواب کي فرمايي:

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَـٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ٣٧ الدخان:٣٧

آيا دوی غوره دي که د تبع قوم او هغه چي تر دوی د مخه ول، موږ هلاك کړل، يقينا دوی مجرمان ول.

د تبع قوم، هغه چي له قريشو مخکي تېر شوي، په عربو ئې حکومت کړی، فساد او طغيان ئې وکړ، الله مؤاخذه او هلاك کړل، له کيسې ئې د عربو هر ماشوم خبر وو، او ټول هغه مجرم قومونه چي تر دې د مخه تېر شوي او د خپل جرم په وجه نيول شوي او د الله تعالی په شديد عذاب اخته شوي، کافي نه دي چي قريش دې ته ورته برخليك ته منتظر وي، الهي محاسبه مجازات تکذيب نه کړي؟!

دا چي ته په تاريخ کي ګورې چي الله جل شأنه مجرم قومونه هلاکوي، د طغيان په سبب ئې نيسي او سخته سزا ورکوي، آيا دا په خپله د دې دليل نه دئ چي دلته يو ذات شته چي دا عالم اداره کوي، د عالم د امورو تدبير د هغه په لاس کي دئ او په عملونو مکافات او مجازات مرتب کوي، او د مجرمينو د مجازات په بڼه کي د هغه د قدرت، سيطرې او حاکميت آثار او مظاهر په خپلو سترګو ګورو، دغه مظاهر د مالك الملك الله د شته والي څرګنده نښه ده.

## پر الله جل شأنه د ایمان مقتضیات

نن پر الله تعالی د ایمان د مقتضیاتو په اړه بحث کوو، د دې بحث په ترڅ کې به دا موضوع روښانه کوو چې په الله جل شأنه باندې د ایمان غوښتنې کومې دي؟ که وغواړو د الله او د بنده ترمنځ د رابطې او تعلق څرنګوالی، صرف په څو مختصرو الفاظو کې خلاصه کړو نو ویلی شو چې د بنده او د الله ترمنځ تعلق د عبادت او د استعانت تعلق دئ، یعني دا چې یوازې د الله جل شأنه عبادت وشي او صرف له هغه نه مرسته او استعانت وغوښتلی شي.

د (عبادت) اصل له (عبد) نه دئ، عبد مریي او غلام ته وایي، څوك چې موږ د مریي او غلام په توګه پېژنو، د هغه څو مهم خصوصیات او ځانګړتیاوې وي: هغه د خپل ځان مالك نه وي، هغه په خپل ژوند کې هیڅ څه داسې نه لري چې دی ئې مالك خاوند او صاحب وي، د هغه هر څه د ده د آقا او مالك وي، هغه په ټولو هغو شیانو کې چې د ده په اختیار کې دي، د یوه امین په توګه تصرف کوي، دا د هغه په لاس کې امانتونه دي، د ده خپل شخصي ملکیت نه وي، څنګه چې د ده آقا او مالك غواړي او د هغه خوښه وي په همغه شان په دې امانتونو کې تصرف کوي، قرآن عظیم الشأن د مؤمنانو په باب فرمایي:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ.... التوبه: ١١١

یقیناً چې الله له مؤمنانو د دوی نفسونه او مالونه اخیستي، د دې په بدل کې چې جنت به د دوی وي، د الله په لار کې جنګېږي، وژني او وژل کېږي....

لکه چي مريي پېرل کېږي، دغسي الله جل شأنه مؤمنان د جنت په بيعه اخيستي دي، د دې معاملې له مخي نور دوی د خپل نفس او مال خاوندان نه دي، د دوی نفس او مال په حقيقت کې لدوی سره د الله امانتونه دي.

د مريي او د غلام دوهم خصوصيت دا دئ چي هغه په خپلو ټولو هڅو، هلو ځلو او تصرفاتو کې د خپل آقا رضا لټوي، همدا د هغه هدف وي، هغه خپل حرکات او سکنات، خوی او عادت، کړه وړه او خپلي اړيکي او تعلقات داسي عياروي چي د هغه اقا او مالك ترې راضي شي، هر هغه څه چي دی ئې د خپل آقا او مالك د رضا خلاف کوي، هغه ته بغی ويل کېږي، او پدې صورت کې هغه باغي ګڼل کېږي، قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧ البقره: ٢٠٧

له خلکو نه ځيني هغه دي چي خپل نفس د الله د رضا په لټه کې پلوري او الله په دغو بندګانو رؤف او مهربان دئ.

الله جل شأنه په هغه بنده رؤ ف او مهربان دئ چي خپل نفس د الله د رضا په لټه کې خرڅوي، د دې لپاره چي خپل رب راضي کړي خپل هر څه وقف کوي.

د عبد او مريي دريم خصوصيت دا دئ چي هغه په خپل ټول ژوند کې، د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپله طرفه د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چي د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کېږي، همغه کوي، کوم اقدام چي د خپل آقا او مالك د اذن نه پرته وکړي، بغاوت ګڼل کېږي، دا د غلامۍ او مرييتوب له حده تجاوز ګڼل کېږي، هغه د ژوند په هيڅ برخه کې په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چي کوي او هر تصميم چي نيسي، نو هغه به د خپل آقا د امر او هدايت سره سم نيسي،

قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه فرمايي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦﴾ الاحزاب:٣٦

او هيڅ با ايمانه نارينه او ښځي ته دا نه ښايي چي كله الله او د هغه پيغمبر د كوم كار فيصله وكړي بيا دي دوى لره په خپل كار كي څه اختيار وي، او څوك چي له الله او د هغه له پيغمبر نه سرغړاوى وكړي، يقيناً چي په څرگنده توگه بې لاري شوى.

يعني د كوم كار په اړه د الله تعالى او د ده د پيغمبر له پرېكړي وروسته له هر مؤمن بنده نه دا ا ختيار سلب كېږي چي له خپله لوري بله پرېكړه وكړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مكلف دئ، د بلي پرېكړي او فيصلې حق نه لري، څوك چي سرغړاوى وكړي د هغه په بې لاريتوب او ضلالت كي هيڅ شك نشته.

د عبد او مريي څلورم خصوصيت دا دئ چي هغه به خپل دوست او دښمن د خپلو تمايلاتو په بنسټ او د هوى او هوس له مخي نه ټاكي، په دې اړه هم له ده نه اختيار سلب شوى او هغه د خپل آقا او مالك د پرېكړي او حكم محكوم دئ، كه كوم غلام او مريي د خپل آقا دښمن په دوستۍ ونيسي، هغه بغاوت كړى، او كه هغه د خپل آقا دوست دښمن وگڼي بيا ئې هم بغاوت كړى. قرآن عظيم الشأن د مؤمنانو په اړه همدغسي فرمايي:

﴿لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ

أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢

المجادله:٢٢

هغه قوم چې پر الله او پر آخرت ئې ایمان وي، هیڅکله داسي ونه مومې چې هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دوی ئې پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کې ایمان ثبت کړی او په خپله روح "یعني په غیبي فیض" سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ترې لاندي نهرونه بهېږي، په هغه کې تلپاته، الله له هغوی نه راضي شوی، دوی له الله نه راضي شوي، همدا د الله حزب دئ، " دغه کسان د الله د حزب غړي دي" یقیناً چې د الله حزب بریالی دئ.

همدا راز قرآن عظیم الشأن فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ التوبه:٢٣

اې مؤمنانو! که ستاسو پلرونه او وروڼه کفر ته پر ایمان ترجیح ورکړي نو خپل دوستان ئې مه نیسئ، او ستاسو هرڅوك چې له دوی سره دوستي وکړي هغوی ظالمان دي.

له دې مبارك آیت نه په څرګنده توګه معلومېږي چې د عبادت په اړه هغه تعبیر صحیح نه دئ چې ځیني خلك ئې ترې لري او په ځینو خاصو مواردو

کې ئې راخلاصه کوي، بلکې د عبادت مفهوم ډېر وسیع، جامع او شامل دئ، د انسان ټول ژوند احتوی کوي، که څه هم د علماوو ترمنځ پدې اړه اختلاف شته چې کوم څه ته موږ عبادت ویلی شو، کوم څه عبادات دي او کوم څه معاملات؟ آیا عبادت داسې جامع او شامل لفظ دی چې د ژوند ټول ابعاد احتوا کوي او که نه محدود دئ او څو مشخصو افعالو ته ویل کېږي؟

په حقیقت کې عبادت د انسان ټول ژوند ته شامل دئ، نه څه معینو لحظو او څه مشخصو افعالو ته. اسلام له دې تفکیك او بېلوالي سره موافق نه دئ، دا ځکه چې الله جل شأنه انسان د عبادت لپاره پیدا کړی، د ده د ټول ژوند مقصد باید عبادت وي، هغه په ټول ژوند کې باید د یو عبد او مریي په شان عمل وکړي، او دمریي او عبد خصوصیات هماغه دي چې موږ بیان کړل.

څوك چې له الله سره د دې تعهد وکړي چې صرف د هغه عبادت به کوي، هغه له بلي هري بندگۍ نه آزاد شي، لکه چې یوسف علیه السلام د خپل زندان ملگرو ته فرمایي: آیا متعدد اربابان غوره دي که یو واحد رب چې هغه د سلطې او سیطرې خاوند دئ؟

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩

یوسف:۳۹

اې د زندان ملگرو! آیا دا متفرق اربابان غوره دي او که یو قهار رب؟

یعني یا به انسان د واحد الله عبادت او بندگي کوي او یا به د متعددو اربابانو په وړاندې د عبادت او بندگۍ سر ټیټوي او دا ذلت به مني. د قرآن متعد د آیتونه همدا مطلب راښیي.

## یوازې له الله استعانت:

موږ په دې عالم کې گورو چې دلته هر څه هغه مالك الملك الله لره دي چې د هغوی ساتنه، پالنه او روزنه کوي، کوم چې د رحمت آثار ئې په ټول

عالم کې خواره دي، د سلطې او سیطرې آثار او مظاهر ئې ګورو، موږ په عالم کې بل داسي څوك نه ګورو چې د عبادت وړ وي، په دې عالم کې مو یوازي الله تعالی داسي وموند چې د عبادت او لمانځنې وړ دئ، لکه څنګه چې یوازي الله تعالی د عبادت او لمانځنې وړ دئ او موږ صرف د ده عبادت او بندګي کوو، همدا راز صرف له هغه نه استعانت غواړو. دا په الله باندې د ایمان ستره تقاضا ده، یوازې د یوه الله عبادت او بندګي او صرف له هغه نه استعانت او مرسته. موږ په دې ټول عالم کې بل داسي څوك و نه موند چې هغه زموږ اړتیاوو ته ځواب ووایي او هغه زموږ د غوښتنو په ترسره کولو قادر وي، یوازې یو الله مو دغسې وموند چې هغه زموږ د مشکلاتو حل کوونکی دئ، په دې خاطر موږ یوازې له همغه الله نه چې د دې عالم مالك دئ او د هر څه ساتنه او پالنه کوي، د همغه عبادت کوو او فقط له هغه نه استعانت او مرسته غواړو، هغه الله چې د ستاینې وړ دئ، حمید دئ، د ټول عالم رب دئ، رحمت ئې انتها او پای نه لري او د دې عالم هر جز ته شامل دئ او هغه په هر څه باندې په خپل قاهره قدرت غلبه کړې او هر څه ئې احاطه کړي، هغه چې په خپل ملك کې د مالك الملك په توګه تصرف کوي او په دې کې هیڅوك له هغه سره شریك نه دئ او عملونو ته اجر ورکوي، صرف له همدغه الله نه مرسته غواړو.

د قرآن عظیم الشأن په متعددو آیتونو کې عبادت او استعانت له یوه بل سره مترادف او یو د بل په ځای ذکر شوی، لکه چې فرمایي:

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ٦٠ غافر:٦٠

او ستاسو رب ووېل: ما ته دعاء وکړئ چې درته وئې منم، یقیناً هغه کسان چې زما له عبادته لویي (او سرغړاوی) کوي ډېر ژر ده چې جهنم ته به ذلیل او سپك داخل شی.

يعني ما ته دعاء وکړئ چي ستاسو دعاء قبوله کړم، څوك چي تکبر او لويي وکړي، ځان تر دې لوړ وګڼي چي خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، دا غرور او لويي به ئې له ذلت سره مخامخ کړي او په دوزخ کي لوېدو ته به ئې چمتو کړي.

په دې مبارك آيت کي د عبادت او دعاء په ارتباط څو مهم مطالب ذكر شوي:

لومړی دا چي الله جل شأنه موږ په دعاء کولو مکلف کړي يو " وَ قَالَ رَبُّکُمُ ادْعُونى أَستَجِب لَکُمْ " ستاسو رب وايي: ماته دعاء وکړئ، او د دې وعده ئې راسره کړې چي ستاسو دعاء به منم "أَستَجِب لَکم"

دويم مطلب دا چي د لويي احساس، تکبر او غرور د دې باعث شي چي انسان له الله نه د مرستي او استعانت له غوښتلو ډډه او د هغه له عبادت نه سرغړاوی وکړي، "إِنَّ الَّذِينَ يَستَکْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ "

تکبر، د لويي احساس او غرور د دې باعث شي چي انسان د الله له عبادت نه او بيا د هغه له استعانت نه ډډه وکړي، دا استغنا ده چي انسان طغيان ته رسوي، او په پای کي ئې له ذلت او رسوايۍ سره مخامخ کوي:

پيغمبر عليه السلام فرمايي:

و من لم يسئل الله يغضب عليه: چا چي الله ته سوال ونه کړ، دعاء ئې ونه کړه او له هغه نه ئې مرسته و نه غوښتله، الله په هغه باندي غصه کېږي، چي هر څومره له الله نه زيات غواړي همدومره راضي کېږي. داسي نه ده چي يوازي د لويو لويو شيانو دعاء به کوې، بلکي له واړه نه تر ستر شي، حتی که مو په کور کي مالګه نه وه دا هم له الله نه وغواړئ، حتی که د څپلۍ بند مو وشلېدو؛ دا هم له الله نه وغواړئ، پيغمبر عليه السلام همداسي فرمايي: څوك چي الله ته سوال و نه کړي، هغه ته دعاء و نه کړي، الله په هغه غصه کېږي.

دریيم مطلب چي په دې آیت کې ذکر شوی هغه دا دئ چي عبادت ئې د دعاء په ځای راوستی، تاسو د آیت په سر کې دا الفاظ گورئ: وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِی: ستاسو رب وویل: ماته دعاء وکړئ، خو د آیت په وروستۍ برخي کې ویل شوي: إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِی سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ: یقیناً هغه چا چي ځما له عبادت نه ئې لویي وکړه، ځان ئې له دې نه ستر وګاڼو چي ما ته دعاء وکړي، گورئ چي د آیت په وروستۍ برخي کې د دعاء په ځای عبادت راغلی، دا په خپله ښيي چي استمداد، استغاثه او دعاء له عبادت سره مترادف ده. پیغمبر علیه السلام فرمایي:

الدعاء هو العبادة* رواه ابوداؤد و الترمذي

دعاء په خپله عبادت ده

الدعاء مخ العبادة* رواه الترمذي

دعاء د عبادت مغز ده

همدا راز فرمایي:

الدعاء سلاح المؤمن و عماد الدین و نورالسموٰت و الارض * المستدرك

دعاء د مؤمن وسله، د دین ستنه او د آسمانونو او زمکي نور ده.

کله چي انسان الله جل شأنه ته دعاء کوي د ده دعاء د دې مظهر ده چي هغه د الله جل شأنه په وړاندي د نیازمندۍ او احتیاج احساس کوي، همدا د نیازمندۍ او احتیاج احساس د دې باعث شي چي د الله جل شأنه په وړاندي دعاء وکړي او مرسته ترې وغواړي، همدغه احساس ئې د الله تعالی عبادت او بندګۍ ته رابلي، عدم دعاء او عدم استعانت، دا په دې دلالت کوي چي هغه له الله جل شانه نه ځان مستغني ګڼي، دا د ده د استغناء او بې نیازۍ نښه ده، قرآن عظیم الشأن په دې ارتباط فرمایي:

كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ٦ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ٧ العلق : ٦-٧

داسي نه ده، يقيناً چي انسان هغه مهال حتماً طغيان کوي چي ځان مستغني وګڼي.
دا د انسان طبيعت دئ چي کله ځان بې نيازه او مستغني وګڼي طغيان کوي.

د دعاء په اړه په بل آيت کي داسي لولو:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ١٨٦ البقرة: ١٨٦

که زما بندګان زما په اړه له تا پوښتنه وکړي، (نو ورته ووايه) يقيناً چي زه نږدې يم، کله چي کوم دعاء کوونکي راته دعاء وکړي دعاء ئې منم، نو هغوی دي زما حکم ومني، او په ما دې ايمان راوړي، تر څو رشد او کمال ته ورسېږي.

په دې مبارك آيت کي د دعاء په اړه موږ ته دا لارښووني شوې:

الله تعالی خپلو بندګانو ته نږدې دئ، د دوی دعاګاني مني، د الله تعالی بندګانو ته په کار ده چي د خپل رب هداياتو ته تسليم وي، په هغه ئې ايمان وي، د دغو دريو مهمو کارونو، دعاء، اطاعت او ايمان په وجه به ئې رشد او کمال په برخه شي.

کله چي انسان له مشکلاتو، ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي، بل ته اړ او محتاج شي او کله چي د هغه اميد له هر څه قطع شي، په خپل ماحول کي داسي څوك و نه ګوري چي د ده مشکل حل کړی شي، د هغه نارې واوري، د هغه احتياج او اړتياوي منتفي کړي، او داسي يو شی په خپل ماحوال کي نه ګوري چي په هغه حساب وکړي، په هغه بروسه او اعتماد وکړي، ټول هغه وسائل او ذرايع چي په اختيار کي ئې دي هغه بې نتيجې پاتې شي، او ونشي توانيدی چي د ده غوښتنو او اړتياوو ته ځواب ووايي او د هغه اضطراب او پرېشاني رفع کړي، په دې حالت کي الله جل شأنه ته

پناه وړي، له هغه نه استمداد غواړي، له هغه نه مرسته غواړي او په اخلاص سره د بندګۍ تعهد کوي، خو چې کله ځان بې نیازه وګڼي، له وفرت او کثرت سره مخامخ شي، نو بیا الله هېر کړي ا و خپل مؤکد تعهدات شا ته وغورځوي، او د الله جل شأنه په نسبت د شرك مرتکب شي، لکه چې قرآن عظیم الشأن فرمايي:

فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ٦٥ العنکبوت:٦٥

کله چې په کشتۍ کې سپاره شي نو په داسې حال کې الله مرستې ته رابلي چې ده لره د خپل دیانت خالصوونکی دي، (د دې تعهد کوي چې له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت او بندګي نه کوي) خو کله چې هغوی د وچې لورې ته وژغوري ناڅاپه بیا شرك کوي.

دلته په بېړۍ کې د سپرېدو یادونه د دې لپاره شوې چې په بېړۍ کې د انسان رابطه له ډېرو هغو شیانو سره قطع شي چې په واك کې ئې وو، ټول هغه وسائل، ذرایع او امکانات چې په اختیار کې ئې وو، د ده مرسته ئې کوله، ده پرې اعتماد کولو، اوس ئې ارتباط ورسره شلېدلی، په هغه حساب نشي کولی ، په هغه تکیه او اعتماد نشي کولی، د ده مرسته نشي کولی، کله چې وګوري په کشتۍ کې له سپرېدو سره سم ئې له ټولو دغو وسایلو لاس قطع شوی، د سیند له څپو سره مخامخ دئ خو داسې څه ورسره نشته چې له خطره ئې وژغوري، نو په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، مرسته ترې غواړي، اوږدې اوږدې دعاګانې ورته کوي، د خطر په زیاتېدو سره نه یوازې د ده دعاګانې اوږدې او پرله پسې شي بلکې له الله تعالی سره ژمنه کوي چې که له خطره ئې وژغوري په اخلاص او صداقت سره به د ده بندګي کوي، خو کله چې څپې تم شي، خطر پای ته ورسېږي، الله تعالی ئې روغ رمټ ساحل ته ورسوي، بیا نو په دې ژغورنې او نجات کې له الله تعالی

سره بل څه او بل څوك شريكوی، خپلي مخکني ژمني هېري کړي، مخکني حالت ته وگرځي، طمعه ئي له الله تعالی پرته له نورو او اعتماد ئې له الله تعالی پرته پر نورو شي!!

دا آيت نه يوازي د خطرونو او گواښونو په وخت کي د انسان حالت او له الله تعالی سره د ده د تعلق څرنگوالی په دقيقه توگه انځور کړی بلکي په دين کي د اخلاص حقيقت ئې هم موږ ته واضح کړی. په دين کي د اخلاص معنی دا ده چي انسان له الله تعالی پرته په بل چا اعتماد و نه لري، له بل چا طمعه ونه لري، په بل څه باندي توکل او تکيه ونه کړي، طمعه ئې يوازي له الله وي، او د دعاء لاسونه ئې يوازي د الله تعالی په وړاندي لوړ کړي وي، داسي وگڼي چي په دي عالم کي له الله تعالی پرته داسي څه نشته چي د ده مشکل حل کړی شي، د ده اړتياوو ته ځواب وويلی شي، او د ده مرسته وکړی شي، نو ځکه ئې هم طمعه له الله تعالی وي او هم ئې اعتماد پر الله تعالی، دې حالت ته په دين کي اخلاص وايي.

ته چي هر څومره د الله تر څنگ په بل څه حساب کوې، په هغه اعتماد او بروسه کوې، هغه ته اميد ساتې او له هغه نه طمع کوې، دې حالت ته د شرك حالت وايي، خو کله چي ستا حالت هغه چا ته ورته شي چي په بېړۍ کي سپور دئ او د طوفان څپو احاطه کړی، هري خوا ته چي سترگي اړوي داسي څه په نظر نه ورځي چي د ده مرسته وکړی شي، نو الله جل شأنه ته مخه کړي او له هغه مرسته غواړي، خپل دين د هرراز شرك له شوائبو پاکوي، په اخلاص سره د الله تعالی د بندگۍ تعهد کوي، له الله تعالی سره ژمنه کوي يوازي د ده عبادت به کوي، له ده سره به په عبادت او بندگۍ کي بل څه او بل څوك نه شريکوي، ستا دا حالت په دين کي د اخلاص او سوچه والي په معنی دئ، او که ستا حالت د هغه چا په څېر شو چي د طوفان له څپو ژغورل شوی، ساحل ته روغ رمټ رسېدلی، خو په دې ژغورني کي له الله تعالی پرته د بل چا د مرستي او عنايت په اغېز باور لري، او خپل نجات د نورو عواملو مرهون گڼي، له الله تعالی سره خپلي ژمني

هېروي او د مخکنيو شېبو اخلاص له لاسه ورکوي، نو تا د الله تعالی په نسبت شرك کړی.

همدا مطلب قرآن عظيم الشأن، د روم د سورې په "۳۳" آيت کې داسې توضيح کوي:

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوۡاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنۡهُ رَحۡمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنۡهُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ٣٣

کله چې خلکو ته څه تکليف او سختي ورسېږي، "له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي" خپل رب په داسي حال کې مرستي ته رابلي چې د هغه لوري ته رجوع کوونکی وي "په پوره انابت سره الله تعالی ته دعاء کوي او مرسته ترې غواړي" خو کله چي (الله تعالی) له خپل لوري کومه پېرزوينه وروڅکي "د کوم رحمت او پېرزويني خوند وروڅکي او له رحمت نه ئې برخمن کړي" ناڅاپه د دوی يوه ډله د الله په نسبت شرك کوي.

يعني د مصيبتونو، ستونزو او کړاوونو په وخت کې په ټول انابت سره الله ته رجوع کوي، خو چي کله الله جل شأنه خپله پېرزوېنه او رحمت د دوی په حال شامل کړي، بيا د الله په نسبت د شرك مرتکب شي.

همدا راز فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٣١ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ ٣٢ لقمان:۳۱-۳۲

نه گورې چي کشتۍ د الله په فضل سره په بحرونو کې مخ په وړاندي درومي، تر څو خپل آيتونه تاسو ته وښيي، يقيناً په دې کې هر صبر کوونکي

شکور بنده لره نښې دي او کله چې څپې هغوی د سیورو په څېر وپوښي، "څپې ئې احاطه کړي، په دې حالت کې" الله پداسې حال کې مرستې ته رابلي چې په دین کې ورته مخلص وي، خو چې کله ئې د وچې په لوري وژغوري "په نتیجه کې به ئې گورې چې یوازې" د دوی ځیني مقتصد او منځ لاري وي، او زموږ له آیتونو نه انکار نه کوي مگر هر عهد ماتوونکی او ناشکره.

یعني ځوك چې د الله د نعمتونو قدر کوي، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال د صبر لار غوره کوي، هغوی ته په دې وینا کې ډېرې نښې او لارښوونې دي، معنی ئې دا ده: چې الله جل شأنه بحر درته مسخر کړی، په دې عالم کې ئې داسې ضوابط او سنن وضع کړي چې ته له هغوی نه په استفادې سره کشتۍ جوړه کړی شې، ځوك چې د نعمتونو قدر پېژني او د منعم شکر په ځای کوي، په دې مقدمه کې یقینا هغوی لره نښې دي. او دا چې گورئ کله کشتۍ په بحر کې له طوفانونو سره مخامخ او د بحر له څپو سره ټکر شي، خو الله جل شأنه ئې له خطره وژغوري او د نجات ساحل ته ئې ورسوي، په دې کې صبر کوونکو لره دا لارښوونه ده چې که دوی هم له داسې ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي او صبر وکړي کشتۍ به ئې له څپو روغه تېرېږي او ساحل ته به رسېږي، خو تر ساحله پورې تر رسېدلو له طوفانونو سره مخامخېدل شته او له موجونو او څپو سره ټکرونه په مخکې دي، پدې کې هر شاکر او صابر بنده ته ډېرې نښې دي.

همدا راز فرمایي:

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ

بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٢٢ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٢٣ یونس:۲۱-۲۳

او کله چي خلکو ته د پېرزویني څه خوند وروڅکو، وروسته له هغه چي کوم کړاو وررسېدلی وي، نابېره له دوی سره زمونږ د آیتونو په اړه د مکر اراده راپیدا شي. ورته ووایه: الله تعالی په مکر کي تر ټولو سریع دئ، بیشکه چي زمونږ رسولان ستاسو مکرونه لیکي، الله هغه ذات دئ چي تاسي په وچه او اوبو کي بیایي، تردې چي تاسي په کښتۍ‌کي وئ او کښتۍ له سورو سره یوځای د ملایم او خوندور نسیم سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان ورباندي راشي او له هر لوري څپې ورباندي راتاو شي او گمان وکړي چي محاصره شول، پدې وخت کي الله ته پداسي حال کي دعاء کوي" او مرسته ترې غواړي چي په خپل" دیانت کي ورته مخلص شوي وي او وایي: که دي لدې نه وژغورلو نو حتماً به شکر کوونکي بندگان وو، خو کله چي نجات ورکړو بیا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په زمکي کي سرکشي او بغاوت کوي. اې خلکو! په یقین سره چي ستاسي سرکشي او بغاوت ستاسي په ضرر ده " دا درکړی شوی فرصت " د دنیوی ژوند یوه متاع ده، بیا مو زمونږ لوري ته راتگ دئ او په هغه څه به مو خبر کړم چي تاسو کول.

ګوري چي د کښتۍ په خوځېدو او د نرم باد په لګېدو سره خوشحاله شي، خو کله چي تند او تېز بادونه د دوی لوري ته مخه کړي، او د طوفان څپې ئې احاطه کړي، حالت ورته داسي وبرېښي چي د نجات ټولي لاري تړل شوي، د نجات هيڅ لاره په نظر نه ورځي، داسي څه په لاس کي نه لري چي اعتماد پرې وکړي او طمعه ترې ولري، نو الله جل شأنه ته مخه کړي، هغه ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، په داسي حال کي چي په خپل ديانت کي د اخلاص ژمنه کوي، وايي: که موږ ته له دې مشکل او مصيبت نه نجات راکړې نو حتماً به ستا له شاکرو بندګانو څخه وو، ځان به ستا د دې او ټولو نورو نعمتونو مرهون او پوروړي ګڼو، خو کله چي هغوی له کړاوه وژغورې ناڅاپه به ګورې چي د خپلو مخکنيو تعهداتو په خلاف به هغوی په زمکه کي په ناحقه تېری او بغاوت کوي، هغه ژمني به ترې هېري وي چي ويل ئې: که مو وژغورې نو بيا به ستا مخلص بندګان وو!!

همدا راز فرمايي:

وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٢ يونس:١٢

کله چي انسان ته څه تکليف ورسېږي، نو په داسي حال کي موږ مرستي ته بلي چي په اړخ به پرېوتی وي، يا به ناست وی، يا به ولاړ وي "په هر حالت کي به مسلسل الله تعالی ته دعاء کوي او مرسته به ترې غواړي، که په اړخ پروت وي، يا ناست وي يا ولاړ او روان وي دعاګاني به کوي"، خو کله چي ده ته هغه رسېدلی مصيبت لري کړو بيا به داسي درومي لکه چي موږ ئې له هغه تکليف نه خلاصون ته نه وو ربللي "موږ ته ئې دعاء نه وه کړې او په هغه مشکل وخت کي ئې له موږ نه مرسته نه وه غوښتې، الله تعالی به هم هېر کړي او له الله تعالی سره خپل ټول تعهدات او ژمني

هم"، مسرفینو ته خپل عملونه داسي ښاېسته او مزین کړی شوي.
په دې ټولو آیتونو کې گورو چې له الله تعالی سره د انسان د تعلق ځرنگوالی او عبادت ئې په دې پورې مربوط دئ چې هغه له الله نه د استعانت په اړه څه تصور لري، په کومو لحظاتو کې چې هغه د نیازمندۍ او احتیاج احساس وکړي، گورو چې دعاء کوي، عبادت کوي، تعهد کوي او الله جل شأنه مرستي ته رابلي، خو چې کله هغه ته د بې نیازۍ او استغنا تصور پیدا شي، بیا گورو چې عصیان او سرکشي کوي، بغي او طغیان کوي. په دې ترتیب معلومېږي چې هر څو مره انسان د الله جل شأنه په نسبت پراخ او زیات معرفت ولري، د الله د ربوبیت او د هغه د رحمت د آثارو په اړه او دا چې په دې عالم کې د امورو تدبیر د هغه په اختیار کې دئ، هر څومره چې په دې باب وسیع معلومات ولري، همدومره به د الله تعالی عبادت کوي او له هغه نه به مرسته غواړي.
استعانت څو صورتونه لري:
یو صورت ئې دا دی چې ته له چا نه د هغه په غیاب کې مرسته وغواړې، په دې گمان چې هغه له لري تا گوري او ستا غږ اوري، داسي استعانت له الله جل شأنه نه پرته له بل هیچا نه جائز نه دئ. بل صورت ئې دا دئ چې ته په ورځني عادي معاملاتو کې له چا نه مرسته غواړې، په هغه عادي معاملاتو کې چې خلك عادتاً او معمولاً له یوه بل نه په هغه کې مرسته غواړي، مثلاً د اوبو گیلاس راکړه! دراوازه در سره بنده کړه ! قلم دې راکړه او هغه کتابچه راکړه، پدې عادي شیانو کې غوښتنه جائز ده خو استغنا غوره ده. خو سوال کول، له چا نه څه غوښتل او گدایي حرام ده، اسلام د دې نه ممانعت کوي، څوك چې په دنیا کې سوال کوی، د قیامت په ورځ به هغه د الله په وړاندې داسي ودرېږي چې پر مخ به ئې غوښه نه وي، سپك او ذلیل به وي، سوال حرام دئ، په عادي معاملاتو کې غوښتنه او مطالبه جائز ده، خو صحابه وو له دې نه هم ډډه کوله، د هغوی په شان کې راځي چې څوك به په آس سپور وو، متروکه به ئې په زمکه ترې

**ولوېدله، د دې په ځای چې چا ته ووايي: مرسته را سره وکړه او دا راکړه، له دې نه ئې هم استغنا کوله، په خپله به له آس نه کوزېدو او هغه به ئې رااخيستله، هغوی غوښتل چې په ځان بسيا وي، چا ته ئې لاس اوږد نشي، له چا نه مرسته و نه غواړي، د بل مرسته وکړي، خو له هيچا نه څه و نه غواړي، که څه هم دا جائز ده خو د کمال تقاضا دا ده چې انسان له دې نه هم ډډه وکړي.**

**خو د چا په غياب کې له هغه نه مرسته غوښتل دا له الله جل شأنه نه پرته له بل هيچا نه جائز نه ده، دا چې ځوك ګمان وکړي، بل په غياب کې د هغه په حال واقف دئ،  د هغه غږ اورېدلی شي، او مشکل ئې رفع کولی شي، دا اميد او طمع له الله جل شأنه نه پرته له بل هيچا نه جائز نه ده.**

**همدا وجه ده چې موږ مکرر وايو: إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ہ**

**خاص ستا عبادت کوو او يوازې له تا نه مرسته غواړو، نه له ملائکو، پيغمبرانو، اولياءالله، پيرانو، شيخانو، قبرونو او زيارتونو نه او نه له الله جل شأنه نه پرته له بل چا نه، هر څه او هر ځوک چې وي، له هغه نه مرسته غوښتل حرام، ناجائز او شرک ده، يوازې الله جل شأنه عالم بالغيب دئ، او هغه د دعاګانو اورېدونکی او منونکی دئ. موږ هره ورځ په وار وار، لږترلږه دوه دېرش ځله په لمانځه کي له الله سره مکرر تعهد کوو چې يوازي ستا عبادت کوو، او يوازې له تا نه مرسته غواړو إياک نستعين، لکه چې يوازې ستا عبادت کوو همدا راز يوازې له تا نه مرسته غواړو.**

**خو تداوي کول، د جنګ لپاره زره اغوستل او د وسائلو نه کار اخستل، نه يوازي دا چې له الله جل شأنه نه د استعانت او مرستي غوښتلو سره منافي نه ده، بلکي موږ دين په دي مکلف کړي يو چې مريض شو تداوي وکړو، د ځان حفاظت وکړو ، تداوی او د ځان حفاظت، شرعي واجب او**

فرض دئ، خو په دې عقیده به یو چې په تداوي او تدبیر باندې الله جل شأنه اثرات او نتایج مرتب کوي، الله د هر مرض لپاره دوا پیدا کړې، خو دا په خپله او مستقل بالذات نتیجه نه ورکوي، الله جل شأنه په دې باندې نتائج مرتب کوي، موږ په کارونو کې تدبیرونه کوو، جنګ ته ځو؛ زره اغوندو، خندقونه کینو، صفوف منظم کوو، د صف په مقدمه او په آخر کې د احتیاط لپاره خاص افراد موظف کوو، پیره داران ټاکو، دا ټول کارونه، نه یوازې جائز دي، بلکې شرعي او دیني مکلفیتونه او وجائب دي، په دې ټولو کې زموږ عقیده دا ده چې په دې باندې نتائج الله جل شأنه مرتب کوي او عاقبت د الله په واك کې دئ.

دا مطلب چې رجاء، تمه او امید به صرف له یوه الله نه وي، او یوازې له همغه یوه الله نه به مرسته غواړو، د قرآن عظیم الشأن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلي لکه چې فرمایي:

وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦ الاعراف:٥٦

په زمکه کې د هغې له اصلاح نه وروسته فساد مه کوئ، او الله په وېره او امید سره مرسته ته رابلئ، "په داسې حال کې چې هم له هغه وېرېږئ او هم طمع او هیله ترې لرئ، دعاء ورته کوئ، په دې حالت کې ئې مرستې ته دربلئ او له هغه نه استعانت غواړئ" یقیناً چې د الله رحمت نېکانو ته نږدې دئ. "څوك چې نېك وي، الله به د خپل رحمت او پېرزوینې سیورې پرې غوړوي، هغوی به د الله تعالی رحمت ځان ته نږدې ومومي.

همدا راز فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا

يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ الحج:٧٣

اې خلکو! يو مثال راوړل کېږي، ورته غوږ شئ: بيشکه څوك چي تاسي له الله پرته خپلي مرستي ته رابولي، يو مچ هم نشي پيدا کولی او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالی قدر ئې لکه څنگه چي له ده سره ښايي ندی پېژندلی، بيشکه چي الله زورور عزتمند دئ.

يعني له الله تعالی نه پرته چي تاسي له بل هر څه او هرکس نه مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کي وي او که په ځمکه کي، انسان وي که پرښته، ژوندی وي که مړ، يو هم نشي کولی يوه وړه او حقيره حشره پيدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورني توان هم نه لري، نه څه شی پيدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کي طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې وسه دئ ځکه چي نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چي پداسي يوی بې وسه او کمزوری متکاء ئې تکيه وکړه او مرسته ئې ترې وغوښتله چي د هيڅ څه واك او توان نه لري. وَ إِن يَسلُبهُمُ الذُّبَاب شيْئاً لا يَستَنقذُوهُ منْهُ: که چېري دا مچ له دوی نه څه وتښتوي له هغه نه ئې ژغورلی نَشي، ضَعُف الطالب وَ الْمَطلُوب: طالب او مطلوب دواړه ضعيف او ناتوانه شول، هم دا مطلوب ضعيف او ناتوانه دئ، دومره چي يوه حقيره حشره هم نشي پيدا کولی، نه يوازې پيدا کولی ئې نشي بلکي که هغه ترې څه وتښتوي ترې خلاصولی ئې هم نشي، نه په پيدايښت کي څه اثر لري او نه په ژغورنه او نجات کي څه اغېز، لکه څرنگه چي په خلقت او پيدايښت کي هيڅ ونډه نه لري، د امورو په تدبير کي هم دومره بې وسه او ناتوانه دئ چي د مچ په شان له حقيرې حشرې نه څه نشي ژغورلی، او طالب "هغه څوك چي له بل نه مرسته غواړي، هغه هم ضعيف شو، دا

ځکه چي چا په ناتوانه او ضعیف شي تکیه او بروسه وکړه هغه هم ضعیف شو.

موسی علیه السلام خپل قوم ته وایي:

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨ الاعراف:١٢٨

موسی خپل قوم ته وویل: له الله نه مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، یقیناً چي زمکه د الله ده، له خپلو بنده ګانو نه چي چاته وغواړي په میراث ئې ورکوي، او نېکمرغه پایله او عاقبت د پرهېزګارانو دئ.

ګورئ چي موسی علیه السلام خپل قوم ته څو توصیې کوي: یوازي له الله تعالی نه مرسته وغواړئ، د مشکلاتو او ستونزو په وړاندي صبر وکړئ او په دې خبري باور ولرئ چي د زمکي ټولواك الله تعالی دئ، دا پرېکړه هغه کوي چي چا ته ئې په میراث ورکړي، خپل قوم ته د موسی علیه السلام وینا په دغو اساسي خبرو کي راخلاصه کوي: یوازې له یوه الله نه استعانت، د ستونزو او کړاوونو په وړاندي صبر او په دې خبرې یقین درلودل چي د زمکي مالك الله دی او د دې فیصله به الله کوي چي له خپلو بندګانو نه ئې چاته په میراث ورکړي، له بل چا نه د دې طمع مه لرئ چي هغه د زمکي وراثت تاسو ته وسپاري، او په دی خبرې باور درلودل چي د پرهېزګارانو عاقبت نېك دئ او وروستۍ فتحه او بریا د دوی ده.

باید وګورو چي دلته له پرهېزګارانو نه مراد څوك دي؟ کومو پرهېزګارانو به الله تعالی زمکه په میراث ورکوي؟ د آیت لومړۍ برخه ئې موږ ته رامعرفي کوي، دا پرهېزګاران هغه دي چي له الله تعالی نه پرته له بل چا استعانت نه غواړي، له دې نه ځان ساتي چي له الله تعالی نه پرته بل چا ته لاس اوږد کړي، هغه چي د مشکلاتو په وخت کي بې صبره کېږي نه، د بې حوصلګۍ او بې صبرۍ نه ځان ساتي، او له دېنه هم ځان ساتي چي

تصور وکړي چې له ا الله نه پرته بل څوك هم کولی شي چا ته اقتدار ورکړي او چاته د زمکې وراثت وسپاري، له دغو خبرو نه چې څوك ځان ساتي د همدغو پرهېزگارانو عاقبت غوره دئ او وروستۍ فتحه او بريا به د دوی په برخه کېږي.

لکه څنگه چې د فاتحې په سورۍ کې دغه آيت د سورې په صدر او منځنۍ برخې کې راغلی، درې آيتونه تر دې مخکې او درې ترې وروسته او په منځ کې " إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ : خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو" لکه چې دا آيت د دې سورې لپاره محور دئ، همدا آيت او همدا مطلب د ټول قرآن لپاره محور دئ، يعني قرآن عظيم الشأن ټول په همدغه محور څرخېږي، د پيغمبرانو د دعوت خلاصه همدا ده، د قرآن عظيم الشأن د بلنې او د دعوت تر ټولو ستر او محوري مطلب همدغه دئ

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٥

او همدا له الله سره د انسان د تعلق او رابطې څرنگوالی ښيي، او په الله جل شأنه باندې د ايمان ستره تقاضا همدا ده.

**له الله جل شأنه سره کلکه مينه**

نن په الله جل شأنه باندې د ايمان له غوښتنو څخه يوه بله اساسي غوښتنه چې هغه له الله سره مينه او محبت ده توضيح کوو.

انسان يا په دې خاطر له يوه شي سره مينه ساتي چې د هغه ذات، د هغه ښايست او د هغه جمال او کمال د دې باعث او مشوق وي چې انسان له هغه سره مينه وساتي او يا په دې خاطر چې هغه د ده په ژوند کې څه اثر لري، د هغه د انعام او پېرزوينې مرهون وي.

موږ په دې خاطر هم بايد له الله سره مينه ولرو چې هغه زموږ پيدا کوونکی دئ، زموږ پالونکی او ساتونکی دئ، موږ ته رزق او روزي راکوي، هغه زموږ منعم دئ، او په دې خاطر هم چې هغه د ټولو ستاينو وړ دئ،

د ټولومحامدو او ښېګڼو خاوند دئ او د کمال خاوند دئ. موږ له الله جل شأنه سره په دې خاطر هم مينه لرو چي هغه د کمال خاوند دئ، او په دې خاطر هم چي هغه زموږ منعم دئ، موږ د هغه د پېرزوېنو مرهون يو.

له الله سره بايد انسان هومره مينه ولري چي دا مينه په بلې هري ميني غالبه وي او په دغه مينه کې هيڅ شی انسان له الله سره برابر نه کړي، دا شديده مينه په الله باندي د ايمان بله غوښتنه او تقاضا ده، لکه چي قرآن فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعَذَابِ ١٦٥ البقره:١٦٥

او له خلکو نه ځيني له الله پرته داسي سيالان نيسي چي له الله سره د مينې په څېر ورسره مينه کوي او هغه خلك چي ايمان ئې راوړی، د الله په مينې کې ډېر شديد دي. او کاش ظالمان په هغه څه پوه شي چي د عذاب د ليدو په وخت کې ئې په خپلو سترګو ګوري، چي يقيناً ځواك ټول الله لره دی او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

دلته هغه څوك معرفي شوی چي مشرك دئ، په مينه او محبت کې ئې له الله سره ند او سيال نيولی او له الله جل شأنه نه پرته د نورو سره هومره مينه ساتي لکه له الله جل شأنه سره، يا ئې په دې خاطر بل څه د الله جل شأنه ند او سيال نيولی چي له هغه نه طمعه لري او د همدې طمعې او توقع په خاطر له هغه سره مينه کوي او يا دا چي په محبت او مينه کې ئې هغه د الله جل شأنه سيال او ند نيولی دئ. خو د دوی په مقابل مؤمنان داسي معرفي کوي: وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ: او هغه چي ايمان ئې راوړی له الله سره په مينه کې ډېر شديد، کلك او قوي دي.

وروسته فرمايي: وَلَوۡ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذۡ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعَذَابِ ١٦٥

: او کاش ظالمان په هغه څه پوه شي چې د عذاب د ليدو په وخت کې ئې په خپلو سترګو ګوري، چې يقيناً ځواك ټول الله لره دئ او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

د دې برخې بله ژباړه خو کمزورې ژباړه داسې ده: او که يو ليدونکی هغه کسان چې ظلم ئې کړی هغه مهال وګوري چې دوی د الله عذاب وګوري، نو په دې خبره به پوه شي چې قوت ټول الله لره دئ او دا چې الله جل شأنه د شديد عذاب خاوند دئ.

دوی په دنيا کې له الله نه پرته له بل چا طمعه درلوده او ګمان ئې کاوو چې د هغوی په لاس کې هم څه قوت شته، د همدې لپاره ئې هغه له الله جل شأنه سره ند نيولی وو او د الله تعالی سيال ئې ترې جوړ کړی وو او يا په دې خاطر چې له الله جل شأنه نه پرته د بل چا له عذاب نه ويرېدل، خو چې د الله عذاب وګوري په دې خبره به پوه شي چې د قوت مالك يوازې الله دئ.

ښوك چې په دنيا کې د نورو خلکو له عذاب او مؤاخذې نه ويرېدل په کار وه چې د دې په ځای له الله جل شأنه نه ويرېدلی او په ځای د دې چې بل چا ته ئې طمع، توقع او انتظار وو؛ له الله جل شانه نه ئې طمعه درلودی.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا

وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤ التوبه: ٢٤

(ورته) ووایه: که ستاسو پلرونه، ستاسو زامن، ستاسو ورونه، ستاسو ښځې، ستاسو خپلوان، ستاسو هغه مالونه چې ذخیره کړي مو دي، هغه تجارت چې د بازار د سوړوالي او کساد نه ئې وېرېږئ او هغه بنګلې چې ورسره مینه ساتئ، (که دا ټول) تاسو ته له الله نه، د هغه له پیغمبر نه او د الله په لاره کې له جهاد نه غوره وي نو انتظار وکړئ تر څو الله خپله فیصله صادره کړي، او الله دا فاسق قوم نه هدایت کوي.

د دنیا هر هغه څه چې انسان ورسره مینه ساتي په دې آیت کې راخلاصه شوي، که تعلقات دي، دوستان او خپلوان دي، که شتمني، مال، دولت، تجارت او بنګلې دي، هر څه چې دي دا ټول یوې خوا ته او الله، د هغه پیغمبر او د الله په لاره کې جهاد بلې خوا ته، که ستا مینه او محبت له دغو سره وي او هغه تاسو ته له الله نه، د هغه له پیغمبر نه او د الله تعالی په لار کې له جهاد نه غوره وي، نو دا کسان فاسقان دي او د الهي هدایت دروازې د هغوی پرمخ تړل شوې دي، الله ئې نه هدایتوي او له الهی هدایت نه محروم دي.

دا د انسان دایمان د تللو لپاره ستر معیار او ملاك دئ، په دې سره هره لحظه انسان خپل ایمان سنجولی شي، هره لحظه د دې سوال راپیدا کېږي چې آیا ته ایمان ته ترجیح ورکوې، الله ته، د هغه پیغمبر ته، او د الله په لاره کې جهاد ته او که پلار، زامنو، ورونو، خپلوانو، ښځې، مال، تجارت او بنګلو ته ترجیح ورکوې؟ انسان هره شېبه د خپل ایمان په اړه د همدغه معیار او ملاك او تلې په اساس قضاوت کولی شي، د چا چې تر الله نه د دې شیانو سره محبت زیات وي، هغوی فاسقان دي، د الله له هدایت نه

محروم دي، د هغوی پرمخ د هدایت دروازې تړل شوې دي.
همدا راز فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ يُجَـٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤ المائده:٥٤

اې مؤمنانو! که له تاسو نه څوك له خپل دين نه په شا شو نو الله به ډېر ژر داسي قوم راپيدا کړي چي دوی پر ده ګران وي او دئ پر دوی ګران وي، پر مؤمنانو تواضع کوونکي او پر کافرانو ځان برګنونکي، د الله په لار کي به جهاد کوي او د هېڅ ملامتوونکي له ملامتولو به نه وېرېږي، دا د الله فضل دئ، هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چي دئ ئې غواړي او الله پوه د وسعت خاوند دئ.

دلته مؤمنانو ته دا ډاډ ورکړی شوی چي د منافقينو په بېلېدو او له کافرانو سره د دوی په ملګرتيا مه غمجن کېږئ، که څوك مسلمانان کمزوري وګڼي، د دوی له ملګرتيا لاس واخلي، مرتد شي، کافران ورته ځواکمن معلوم شي، هغوی ته د ذلت سر ټيټ کړي، نو الله تعالی به د دوی په عوض کي داسي مؤمنان راپيدا کړي چي دا صفات به لري:

- پر الله تعالی به ګران وي.
- دوی به له الله تعالی سره مينه لري.
- تر مؤمنانو به ځان لوړ نه ګڼي، هغوی ته به د حقارت په سترګه نه ګوري، کمزوري او ضعيف به ئې نه شمېري، هر يو به تر ځان لوړ او تر ځان زيات د عزت خاوند بولي.

- تر کافرانو به ځان لوړ ګڼي، د هغوی په وړاندې به سر نه ټیټوي، هغوی ته به د عزت او درناوي په سترګه نه ګوري.
- د الله تعالی په لار کې به جهاد کوي.
- د هیچا له ملامتولو به وېره نه لري، نه به د چا د تبلیغاتو پروا کوي او نه ئې د سپکو سپورو خبرو.
- دا د الله تعالی فضل دئ، هغه چا ته ئې په برخه کوي چي د دې وړ ئې ومومي.
- الله تعالی د پراخ فضل خاوند دی او پوهېږي چي څوك د ده د فضل وړ او مستحق دئ.

ګورئ چي په دې مبارك آیت کې نه یوازې له الله تعالی سره مینه د ایمان تقاضاء ښودل شوې بلکې د مؤمنانو درناوی هم د ایمان نښه ګڼل شوې، واقعي مؤمنان هغه دي چي د مؤمنانو په نسبت د لويي او الوړوالي احساس نه کوي، ځان تر دوی لوړ، ستر، او اوچت نه ګڼي، بلکې مؤمنان تر ځان لوړ او ځان تر دوی ټیټ ګڼي، دا ځکه چي هغه د ایمان په رڼا کې قضاوت کوي، له الله سره ئې مینه وي، همدا مینه او محبت په دې منتهي کېږي چي د ایمان خاوندان با عزته وګڼي او سپك او حقیر ئې و نه شمېري، او د کافرانو په نسبت د عزت، لوړوالي او غوره والي احساس کوي.

الله تعالی هم واسع دئ او هم علیم او ښه پوه، پېرزوېنه ئې ډېره زیاته او پراخه ده، دا ځکه چي هغه واسع دئ، او په دې پوهېږي چي چاته څه ورکړي، خپل فضل د چا په حال شامل کړي؟ څوك د دې مستحق او وړ دی؟ دا ځکه چي هغه علیم دئ، پوهېږي چي څوك د ده د پراخ او وسیع فضل مستحق دئ؟ څوك د دې وړ دئ چي خپل فضل ورپه برخه کړي او له هغې ډلې څخه ئې وګرځوي چي الله ورسره مینه لري او دوی له الله سره مینه لري، د مؤمنانو په نسبت د ټیټوالي او انکسار او د کافرانو په

نسبت د عزت او لوړوالي احساس کوي، د الله په لار کې جهاد کوي او د ملامتوونکي له ملامتولو نه وېرېږي، الله پوهېږي چې څوك د دې وړ دی چې په همدغه ډله کې ئې شامل کړي او د هغو کسانو په ځای ئې غوره کړي چې د الله د دین نه په شاتللي او مرتد شوي.

## یوازې له الله نه وېره

لکه څنګه چې تاسو ولیدل چې انسان به له الله سره هومره مینه ساتي چې دا مینه به په بلې هرې مینې او محبت غالبه وي، هیڅ مینه به دې حد ته نه رسېږي او انسان به په خپلې مینې کې هم له الله سره ند، شریك او سیال نه نیسي، همدا راز به انسان یوازې له یوه الله نه وېره لري، له الله تعالی نه وېره، په الله باندې د ایمان بله تقاضا ده.

دا مطلب هم د قرآن عظیم الشأن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کې توضیح شوی:

لکه چې د انفال د سورې په دوهم آیت کې راځي:

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢ الانفال: ٢

یقیناً خبره دا ده بله نه ده چې مؤمنان هغه کسان دي چې کله د الله نوم واخستل شي نو زړونه ئې رېږدي او کله چې د ده آیتونه پرې ولوستی شي نو ایمان ئې لازیات مضبوط شي او پر خپل رب توکل کوي.

واقعي مؤمنان هغه دي چې د الله تعالی د نامه په اورېدو سره ئې زړونه رېږدي، د خدای د نوم له هیبته او له هغه نه د وېرې او خوف په وجه د دوی زړونه پرېږي، کله چې د الله نوم یاد شي، نو په دوی وېره او هیبت مسلط شي. دا هم د مؤمن د پېژندو لپاره ملاك دئ، په دې سره ته مؤمن انسان پېژندلی شې، څوك چې د الله د نامه په وړاندې بې اعتنا او بې تفاوته وي، که د ده په وړاندې د الله نوم هم واخستل شي، په ده کې هیڅ

تبدیلي رانشي او زړه ئې له خوف او وېرې ونه پرېږي، او کله چي د الله آيتونه واوري ايمان ئې لازيات مضبوط نشي او پر خپل رب توکل او اعتماد نه لري، هغه دې په خپل ايمان وويريږي، لکه چي دلته قرآن په همدې صيغه فرمايي: وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ: او کله چي د الله آيتونه پرې ولوستی شي د دوی ايمان تقويه کړي، د آيتونو په آورېدو سره ئې د الله تعالی په نسبت اعتماد او توکل زيات شي، يقين ئې پوخ شي، الله ته ئې اميد اضافه شي او په خپل رب توکل او اعتماد کوي.

د احد د جنګ نه وروسته، د دښمن ځيني مبلغين راتلل او په مدينه کې ئې دا تبليغات کول چي قرېشو لوی لښکر تعبيه کړی او په مدينې د لويي حملې اراده لري، ستاسو د ختمولو لپاره ئې پوره تياری نيولی، له دې نه ووېرېږئ، خو په ځای د دې چي د دښمن دا تبليغات او راغونډ شوي فوځونه په دوی کې وېره او خوف راپيدا کړي، برعکس دا خبره د هغوی د ايمان د تقويې باعث شوه:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ١٧٣ آل عمران: ١٧٣

هغه چي خلکو ورته وويل: "د دښمنانو" ډېر خلك درته راغونډ شوي، له دوی نه بايد ووېرېږئ، نو دې خبرې د دوی ايمان لازيات کړ او ويل به ئې: الله مونږ ته کافي دئ، ښومره غوره پالونکی.

خو د همدغه کس په اړه چي د مؤمنانو په صفوفو کې ئې دا تبليغات کول، هغوی ئې وېرول، او په هغوی کې ئې خوف او وېره راپيدا کوله، قرآن داسي فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ١٧٥ آل عمران: ١٧٥

دا خو فقط شیطان وو چي خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی نه مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان یاست.

قرآن کریم همدې کس ته چي له کافرانو نه مؤمنان وېروي د شیطان لقب انتخاب کړی. دا یقیناً شیطان دئ چي خپل اولیاء وېروي، د چا چي د شیطان سره څه تعلق او رابطه وي او له هغه سره ئې دوستي قائمه کړې وي هغه به د شیطان د تبلیغاتو تر تاثیر لاندي راځي او په دې ترتیب به شیطان د هغه په زړه کي وېره او خوف راپیدا کوي، شیطان خپل اولیاء وېروي یا شیطان د خپلو اولیاوو او دوستانو څخه خلك وېروي.

فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ

نو له دوی نه مه وېرېږئ، له مانه ووېرېږئ که ایمان لرئ.

که تاسو په رښتیا پر الله ایمان لرئ نو یوازې له یوه الله نه به وېرېږئ، د دښمن له فوځونو او لښکرو نه به وېره نه لرئ، کوم تبلیغات چي د دښمن په ګټه ستاسو په صفوفو کي، د دې لپاره روان دي چي په تاسو کي وېره او خوف راپیدا کړي، د دې تبلیغاتو نه به نه متاثره کېږئ، له دښمن نه به وېره نه لرئ، که تاسو رښتیا پر الله ایمان لرئ نو یوازي له مانه ووېرېږئ.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د مؤمنانو په شان کي فرمایي:

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ١٦ السجده:١٦

اړخونه ئې د خوب له ځای نه کناره شي، خپل رب له وېرې او طمعې سره رابلي او له هغه څه نه انفاق کوي چي موږ ورروزي کړي.

دلته د مؤمنانو حال بیانوي او فرمایي چي: د شپې له خوائې اړخونه له مضجع او د پرېوتو له ځای نه لري او کناره کېږي، خوب او آرام بستر پرېږدي، د شپې په خلوت کي، د آرام له بستر نه د هغوی اړخونه کناره شي، د عبادت لپاره خلوت شي، خپل رب ته دعاء کوي، د شپې په خلوت کي له

بستر نه اوڅت شي، خوب او آرام پرېږدي، خپل رب ته په دعاء او د هغه په عبادت کې مصروف شي، "خوفاً و طمعاً: له وېري او هيلي سره"، له يوې خوا له الله جل جلاله او د هغه له عذاب نه وېرېږي او په همدې خاطر د شپې په زړه کې د الله په عبادت لګيا شي، خوب پرېږدي او له آرام بستر نه کناره شي او له بلي خوا، الله جل جلاله ته طمعه او هيله لري چې د همدې طمعې او هيلي په وجه بستر پرېږدي، د الله په وړاندي ودرېږي او د هغه عبادت کوي.

همدا راز فرمايي:

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلْحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ١٦ الحديد:١٦

آيا مؤمنانو ته هغه وخت نه دئ را رسېدلی چې د الله په ذکر او د حق وينا په نزول سره د دوی زړونه خشوع وکړي؟ (آيا مؤمنان هغي مرحلې ته نه دي رسېدلي چې اوس د الله تعالی د نوم او د قرآن د آيتونو په اورېدو سره د دوی په زړونو کې وېره راولاړه شي، اوس خو بايد هغې مرحلې ته رسېدلي وي چې د الله جل شأنه د نامه او د قرآن د حق وينا په اورېدو سره د دوی په زړونو کې خشوع او وېره راپيدا شي)، او د هغو کسانو په څېر نه وي چې له دوی نه د مخه کتاب ورکړی شوی چې زمانه پرې اوږده شوه نو زړونه ئې سخت شول او اکثر د دوی فاسقان دي.

دوی بايد د اهل کتابو په څېر نشي چې د زماني په تېرېدو او د مبارزې په اوږدېدو سره ئې د زړونو لومړنۍ خشوع ختمه شوه، په زړونو کې ئې سختي راپيدا شوه، په ځای د دې چې د زمانې طولاني کېدل د هغوی د مزيدې تربيې او د رشد او کمال باعث شي، له الله جل شأنه سره ئې رابطه مزيد ټينګه شي او د الله جل شأنه په ذکر سره ئې په زړونو کې

خشوع راپيدا شي او هر څومره چي الهي آيتونه په دوی تلاوت کېږي، د دوی په زړونو کې خشوع او وېره اضافه شي، برعکس د زماني په تېرېدو او د سفر په اوږدېدو سره، د هغوی د زړونو سخت والی اضافه شوی. دوی ګمان کاوو چي دا لنډ سفر دئ، ډېر ژر به منزل ته رسېږي، شايد په طولاني سفر امتحان نشي، د اوږده سفر په پلی کولو و نه آزمويل شي، مبارزه ئې اوږده نشي او له لوړو ژورو او کړاېچونو سره مخامخ نشي، ګمان ئې کاوه چي سفر لنډدی، ډېر ژر به مقصد ته رسېږو او بيا به فتح او برى وي، په دې خاطر په اخلاص او صداقت او په شور، شوق او نشاط سره لاړل په صفوفو کې ودرېدل، خو چي لږ مبارزه اوږده شوه، سفر اوږد شو او ژر مقصد ته و نه رسېدل، د دې په وجه د هغوی زړونه سخت شول. په کار خو دا وه چي هر څومره په دې مسير کې زيات درومي، همدومره د دوی رابطه او تعلق له الله جل شأنه سره ټينګېدلی، همدومره په معنوي لحاظ لوړ تللی، د هغوی زياته تربيه کېدی، ولې برعکس د زماني د طولاني کېدو په وجه هغوی خپل ابتدايي او د لومړيو شپو او ورځو اخلاص له لاسه ورکړ او د دوی په زړونو کې چي کومه خشوع وه هغه هم ختمه شوه.

زه ډېر داسي کسان ګورم چي د دې آيت مصداق دي، په ابتداء کې ډېر په اخلاص سره راوړاندي شول، خو متأسفانه ورو ورو، د دې په ځای چي له فکري، اخلاقي او عملي پلوه ئې ارتقاء په برخه شي او لوړ ولاړ شي، برعکس په شا ولاړل، زړونه ئې سخت شول، سقوط ئې وکړ، او د همدې آيت مصداق شول "فقست قلوبهم"... په ابتداء کې ښه په اخلاص سره لګيا ول، خو څومره چي مبارزه طولاني کېده، د دوی اخلاص کمېدو، هغوی دومره اخلاص او قوي ايمان نه درلود چي په دې طولاني موده کې په خپل حال پاته شي او په فتنو کې صدمه و نه ګوري، بلکې اخلاص ئې دومره وو چي د څو شپو ورځو لپاره مقاومت وکولی شي، په دې فکر کې ول چي ښايي په کومه کودتا سره به انقلاب کامياب شي او دوی ته به رياستونه او وزارتونه په لاس ورشي، سفر ئې لنډ ګڼلو او ګمان ئې نه کاوو چي دا

مبارزه به دومره اوږده او طولاني شي، په دې خاطر ئې د همغه لومړيو شپو ورځو اخلاص له لاسه ورکړ او د هغو کسانو په څېر شول چې له دوی نه د مخه کتاب ورکړی شوی وو، چې زمانه پرې طولاني شوه، زړونه ئې سخت شول، نه يوازې زړونه ئې سخت شول؛ بلکې د دوی اکثر د فسق مرتکب شول، له حدودو نه ئې تېرې وکړ او د الله تعالی له اوامرو ئې بغې او سرغړاوی وکړ.

د مائدې د سورې په ٤٤ آيت کې هم دا مطلب توضيح شوی، هلته فرمايي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ،،

يقيناً چې دا تورات مو نازل کړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا ده، په دې سره هم هغو پيغمبرانو يهودانو ته پرېکړې اورولې چې مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماوو په هغه څه چې د الله له کتابه ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول، نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آيتونو ناځيزه بيه مه پېرئ او چا چې په ماانزل الله حکم ونکړ نو همدا دوی کافران دي.

په دې مبارکو آيتونو کې لاندې لارښوونې موږ ته شوې:

- تورات يو لارښود الهي کتاب وو چې خلك ئې له تيارو نه ايستل او د نجات او سعادت روښانه لار ئې ورښووده.
- خدای او د ده دين ته منقاد انبياوو د يهودو تر منځ د دغه کتاب مطابق پرېکړې

کولي.

د یهودو خدای پالو علماوو او مذهبي شخصیتونو هم د دوی ترمنځ د دغه کتاب احکام پلي کول، په خپله هم د دې کتاب ساتونکي او د پلي کولو ئې عملي بېلګي ول، عملاً ورته منقاد ول او د دوی په عملي ژوند باندي دي کتاب داسي سیوری غوړولی وو چي د هر چا تر سترګو کېدو.

تاسو هم باید د مخکنیو انبیاوو او خدای پالو علماوو په څېر عمل وکړئ، د خلکو له وېري او د دنیوي ګټي په طمعه الهي احکام شا ته مه غورځوئ.

څوک چي د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي، کافر دئ، د الله تعالی په نزد ئې د ایمان ادعاء هیڅ اعتبار او وزن نه لري.

په دې آیت کې هم ګورئ چي الله جل شأنه فرمایي: یوازي له ما ووېرېږئ.

همدا راز د التوبه د سورې په ۱۳ آیت او وروسته په ۱۸آیت کې هم دې مطلب ته اشاره شوې، هلته چي فرمایي:

أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣

آیا له هغو خلکو سره نه جنګېږئ چي خپلي ژمني ئې ماتې کړې، د پیغمبر د ایستلو هوډ ئې وکړ او د لومړي ځل لپاره ئې له تاسو سره جګړه پیل کړه، آیا له دوی وېرېږئ، نو الله خو د دې زیات وړ دئ چي ترې ووېرېږئ که ایمان لرئ.

همدا راز فرمایي:

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٨ التوبه: ١٨

يقيناً چي د الله جوماتونه هغه څوك آبادوي چي په الله او د آخرت په ورځ ئي ايمان راوړی، لمونځ ئي وکړ او زکات ئي ورکړ او له الله نه پرته له بل چا و نه وېرېدل، هيله ده دا کسان له مهتدينو څخه وي.

يعني له معنوي پلوه د جوماتونو او مساجدو د اعمارکار هغه خلك کولی شي چي صفات ئې په دې آيت کي ښودل شوی، د جوماتونو ظاهري آبادي او اعمار بېل کار دی او د هدايت له پلوه ئې رغول او اعمار بېل. لکه چي په يوه روايت کي راغلي چي په آخره زمانه کي به جوماتونه په ظاهر کي ښه آباد، مزين او ښايسته وي خو د هدايت له پلوه به خراب او وران وي.

جوماتونه د هدايت له ناحيې هغه څوك آبادولی شي او هغه داعي د الله د دين خدمت کولی شي چي د مخکنيو صفاتو ترڅنګ، دا صفت هم ولري چي له الله جل شأنه نه پرته له بل چا ونه وېرېږي. د آيت په پای کي دا وينا چي هيله ده دغه کسان هدايت مندونکي وي، ښيي چي له دغو صفاتو نه علاوه هم داسي څه شته چي د هدايت لپاره ضروري دي، يوازي دغه صفات کفايت نه کوي، پر دغو صفاتو سربېره ځيني داسي پړاوونه شته چي له هغوی نه د تېرېدو په صورت کي دا ثابتېږي چي آيا دوی له هغو کسانو څخه دي چي لار ئې موندلې که نه؟ يوازي دا څو خبرې کافي نه دي، بلکي مزيد څه ته ضرورت شته، چي هغه په ورپسې آيت کي توضيح کېږي، عملي جهاد به دا ثابتوي چي د چا په زړه کي له الله جل شأنه نه وېره ده او څوك په رښتيا هدايت شوی دئ او ايمان لري، په جهاد کي دا معلومېږي، جهاد هغه ملاك او معيار دی چي د هغه په ترڅ کي د چا د ايمان حقانيت او حقيقت ځرګندېږي، د جهاد په دوران کي به دا معلومېږي چي څوك په خپل ايمان کي رښتينی دئ او څوك دروغجن، څوك مخلص مؤمن دئ او څوك منافق؟ په همدې خاطر د دغو صفاتو د بيانولو نه وروسته ويل کېږي چي: فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ

همدا راز فرمايي:

ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ٣٩ الاحزاب: ٣٩

هغه کسان چې د الله پیغامونه خلکو ته رسوي، "خلکو ته د الهي پیغام د رسولو مسئولیت ورپه غاړه شوی" او ترې وېرېږي او له الله پرته له هیچا نه وېرېږي، او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

د النساء د سورې په ۷۷ آیت کې هم دا مطلب په دې الفاظو توضیح شوی:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧ النساء:٧٧

هغو ته دې ونه کتل چې ورته وویل شو: لاسونه مو راټم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چې پر دوی جهاد فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو نه داسې وېرېده لکه له الله نه او یا تر دې هم سخته وېره او ویل ئې: اې زمونږ ربه! ولې دې پر مونږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر یوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووایه: د دنیا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونشي.

ګورئ چې دلته د هغو کسانو حالت انځور شوی چې ورته ویل شوي

وو: خپل لاسونه راتم کړئ، په دې مرحله کې یوازې دا کار وکړئ چې خپل لاسونه له تېري نه وساتئ، د بل پر حقوقو تېری او تجاوز مه کوئ، یا ترې مقصد دا دئ چې له جنگ نه ځان وساتئ، مطالبه ئې مه کوئ، مه وایاست چې ولې د جنگ احکام نه نازلېږي، ترڅو د کافرانو په خلاف وجنگېږو، یعني د بل چا پر حقوقو له تېري او تجاوز نه ځان وژغورئ او له جنگ نه ډډه وکړئ. ښایي دا خطاب هغو کسانو ته متوجه وي چې د قتال د حکم له نازلېدو نه د مخه ئې په لجاجت او اصرار سره ویل: ولې دا فرصتونه له لاسه ورکوو؟ ولې باید دښمن ته یو قاطع گوزار ورنه کړو؟ ولې وسله وا نه خلو؟ ولې یو انقلابي اقدام ونه کړو؟ د جگړې د مناسب فرصت له را رسېدو نه د مخه ئې د هغې د پیل کولو مطالبه کوله، په دې ئې اصرار کولو، د دې لپاره ئې تبلیغات کولو او ویل ئې: ولې یو انقلابي، قاطع او جدي اقدام نه کېږي؟ تر څو به د مسلح جهاد د پیل کېدو نه د مخکني مرحلې مشکلات او ستونزي گالو؟ باید په یوه قاطع اقدام سره دا مشکلات حل کړو.

یا ئې مقصد دا دی چې په دې مرحله کې د فرد، فرد وظیفه دا ده چې د جگړې په ځای باید په لمانځه او زکات سره د ځان روزني او تربیې ته توجه وکړي، خو کله چې قتال پرې فرض کړی شو، ناڅاپه د دوی یوه ډله له خلکو داسي وېرېده لکه له الله تعالی نه، د جنگ د حکم له نازلېدو وروسته د دوی حالت داسي شو چې له دښمن نه ئې هومره وېره او خوف وو لکه له الله نه، او تر دې نه هم زیاته وېره، له الله جل شأنه نه ئې دومره وېره نه وه لکه له خلکونه، او ویل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې جنگ راباندې فرض کړ؟ ولې دې مزید مهلت او فرصت رانه کړ، چې تعداد مو زیات شوی وی، کافي وسائل مو برابر کړی وی، تر اوسه لا موږ هغې مرحلې ته نه یو رسېدلي چې وسلې ته لاس کړو او جنگ شروع کړو!

زموږ روان جهاد هم له دې مرحلې تېر شوی، د جهاد په شروع کې زموږ له ملگرو نه هم ځینو کسانو همداسې تبلیغات کول، ښه مو په یاد دي چې

موږ ته ئې ښه ډېر مشکلات راولاړ کړي وو، همدغه الفاظ ئې ویل: لَوْ لا أَخَّرْتَنَا إِلىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ: ولې دي موږ تر یوې نږدې نېټې ونه ځنډولو، ولې موږ ته څه مهلت او فرصت رانه کړی شو، تر څو مو ځان برابر کړی وی، پوره تیاری مو نیولی وی، وسائل مو تهیه کړي وای، دومره ژر مو له کمونستانو سره تصادم او ټکر نه وی راغلی، د سردار داؤد په خلاف مو باید وسله نه وی اوچته کړې، باید څه موده نور مو تربیتي، فکري او فرهنګي کار ته ادامه ورکړې وی، دا په موږ باندې جنګ ولې ژر تحمیل کړی شو. له دې خبرو نه ئې یا مقصد دا وو چې جنګ له خپل مناسب وخت نه د مخه پیل شو، لا موږ کافي فرصت ته ضرورت لرو تر څو د روزنې او تربیې کار تکمیل شي، بیا وسلې ته لاس کړو، او یائې مقصد دا وو چې جنګ ئې له مرګ او استیصال سره مترادف ګڼلو او ګمان ئې کولو چې د جنګ له شروع کېدو سره سم به زموږ استیصال کېږي او له منځه به ځو، جنګ د مرګ سره مترادف ګڼي، نو ځکه وايي: الهي! کاشکي یو څه موده نور دې موږ ته وخت راکړی وی، په دې جنګ سره خو زموږ بنیاد ختمېږي او د تحریك جرړې قطع کېږي. الله تعالی د دغو خلکو په ځواب کې فرمایي:

قُلْ مَتَـٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا :

ورته ووایه: د دنیا متاع قلیله او ناڅیزه ده او آخرت د هغه چا لپاره غوره دئِ چې تقوی ئې وکړه، او د بڅرکي او تار په اندازه به هم په تاسو ظلم ونه شي.

یعني له دنیوي ژوند او مال و متاع سره ئې مینې په تاسو کې دا وېره راپیدا کړې، له جنګ نه ډډه کوئ او د مزیدې مودې، فرصت او مهلت غوښتنه کوئ، ګمان کوئ چې ښایي وسلې ته د لاس کولو په وجه به له هر څه محروم شئ او مخکنې هلې ځلې به مو ضایع شي، د دوی د دغه غلط تصور او انګېرنې په ځواب کې ویل شوي چې الله تعالی دا ظلم نه کوي چې

ستاسو مخکنۍ هڅي او عملونه ضايع کړي او هيڅ نتيجه پرې مرتب نه کړي، ستاسو دا گمان بې ځايه دئ د جگړي په نتيجه کې به ستاسو ټولې مخکنۍ هلې ځلې هدر شي، دا د اصلاح په لور د دعوت او بلني کوم کار چي تر ننه مو تر سره کړی، ټول به ضايع شي! الله جل شأنه د دوی په ځواب کې فرمايي: نه، د يوه بڅرکي په اندازه به هم په تاسو باندي ظلم ونه شي، تاسو به د خپلو عملونو اجر په مکمل ډول تر لاسه کوئ، په دنيا کې هم او په آخرت کې هم، ډېر کسان له دې وېرې له دښمن سره د روغې جوړې لار غوره کوي چي گمان کوي د عدم مداهنت او روغي جوړې په صورت کې به د دوی هلې ځلې او قربانۍ ضايع او حبط شي، ډېر کار ئې کړی داسي نه چي ټول ضايع شي، خو الله جل شأنه فرمايي: وَ لا تُظلَمُونَ فَتيلاً، الله جل شأنه انسان ته د ده د عملونو بدله او اجر په دنيا او آخرت کې ورکوي، هر څوك به د خپل عمل مکمل اجر تر لاسه کوي، الله تعالی د هيڅا اجر په هيڅ صورت کې نه ضايع کوي.

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په گڼ شمېر نورو آيتونو کې هم راغلی چي مؤمن بنده به يوازي له الله جل شأنه څخه وېرېږي، لکه چي فرمايي:

... وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ٤٠ البقره: ٤٠

خاص له مانه ووېرېږئ

... وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ٤١ البقره:٤١

خاص له مانه ويره ولرئ.

دا مطلب د يوه روايت په ترڅ کې څومره ښکلی انځور شوی: څوك چي له الله څخه وېرېږي هر څه به له هغه نه وېره ساتي، (الله تعالی به هغه ته هومره هيبت او وقار ورکړي چي د دنيا هر څه به له هغه نه ويره ساتي) او څوك چي له الله څخه نه وېرېږي له هر څه نه به وېرېږي، (له هر څه نه به ئې وېره وي، پر زړه به ئې خوف مسلط وي)، خو چي د الله

جل شأنه وېره ئې په زړه کې ځای ونيو، بيا الله جل شأنه ورته هومره وقار او هيبت ورکړی چي هر څه له ده نه وېره ساتي، په دې اړه پيغمبر عليه السلام فرمايي: ما ته په داسي رعب نصرت راکړی شوی چي د يوې مياشتې په فاصلې لري ئې اغېز رسي، هلته هم د دښمن په زړه کې وېره او خوف راپيدا کېږي، څوك چي له الله نه وېره لري، الله دغسي وقار او هيبت ورته ورکړی چي په دومره لري فاصله کې هم د دښمن په زړه کې د هغه وېره او خوف مسلط وي خو چي له الله څخه نه وېرېږي بيا ئې حالت داسي وي لکه چي قرآن فرمايي:

... يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ ٤ المنافقون:٤

هر جگ غږ د ځان په خلاف گڼي.

له هر جگ غږ نه وېرېږی او د ځان په خلاف ئې گڼي.

## ولې به يوازي له الله جل شأنه وېرېږو؟

انسان يا په خپل مرگ ژوند له بل نه وېرېږي، يا په خپل رزق او روزي او يا په خپل عزت، له هغه چا نه به وېره لري چي گمان وکړي، د ده په مرگ، ژوند او رزق، روزي کې څه اثر لري او کېدی شي له هغه نه د ده عزت ته صدمه ورسېږي او يا د هغه په څنگ کې عزت تر لاسه کړي، يعني په خپل عزت له هغه نه وېره لري.

موږ په دې خاطر يوازي له الله نه وېره لرو چي زموږ د مرگ او ژوند د هغه په اختيار کې دئ، هغه دئ چي موږ ته رزق او روزي راکوي او د عزت او د ذلت فيصله هم د هغه په اختيار کې ده. لکه چي قرآن، د ابراهيم عليه السلام په قصې کې دا مطلب په دې توگه زموږ مخي ته ږدي:

کله چي د ابراهيم عليه السلام قوم د ده په اړه دا فيصله وکړه چي بايد وئې وژني او په اور کې ئې وسوزوي، ټول قوم په دې خبره متفق شوی، د هغه د سوزولو لپاره لوی اور بل شوی، منجنيق تيار شوی، د هغه د مرگ د وژلو او سوزولو پرېکړه شوې، موقتاً زندان ته تللی، تر څو په همغه

معینه ورځ چې ټول خلك به راغونډېږي، په منجنیق کې ئې کښېنوي او په دې لوی اور کې ئې واچوي. قرآن عظیم الشأن له همدغه حالت نه حکایت کوي او فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٥٨ البقره: ٢٥٨

هغه څوك دي ونه لید چې له ابراهیم سره ئې په دې خاطر شخړه کوله چې الله ورته پاچاهي ورکړې وه؟ کله چې ابراهیم وویل: زما رب همغه دئ چې ژوندي کول او وژل کوي، وئې ویل: زه یم چې د ژوند مرگ فیصله کوم!! ابراهیم وویل: الله خو لمر له مشرقه راخېژوي ته ئې له مغربه راوله که رښتونی یې، نو هغه چې کافر شوی وو، مبهوت او حیران شو،( څه ئې د ویلو لپاره نه موندل) او الله ظالمان نه هدایت کوي.

گورئ چې په دې مبارك آیت کې دوه څېرې د مخاطب په وړاندې انځور شوې: یوه د هغه چا چې اقتدار مغرور کړی، له الله تعالی نه منکر، د خلکو د مرگ او ژوند اختیار ځان ته ورکوي، له یوه موحد او خدای پال انسان سره د دښمنۍ او مخالفت په مورچل کې، او بله ئې د هغه چا چې د همدې مغرور واکمن دربار ته بېول شوی، د مرگ او په اور کې د سوزېدو پرېکړه ئې شوې، خو هغه ډاډه او مطمئن دئ او په همدې حالت کې وايي چې د چا د مرگ او ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، دا خبره په داسې حال کې کوي چې ټول خلك د ده په وژلو سلا شوي، د دې لپاره راغونډ شوي چې په اور کې د ده غورځولو صحنه په خپلو سترگو وگوري، په دغسې یوه هیبتناك حالت کې نمرود ته وايي: زما رب هغه ذات دئ چې د

مرګ ژوند فیصله د هغه په اختیار کې ده، نه ستاسو په لاس کې، دا د دې خبرې په اړه د ابراهیم علیه السلام د بشپړ او کامل اطمینان او یقین ښودنه کوي چې د خپل مرګ او ژوند په اړه له الله نه پرته له بل چا نه وېره نه لري. کله چې نمرود هغه ته وایي: أَنَا أُحْيِ وَ أُمِيت: دا زه یم چې د مرګ او ژوند پرېکړه کوم. په روایاتو کې راځي چې نمرود دوه کسان را غواړي، یو د مرګ مستحق دئ هغه ته عفوه کوي او بل بې ګناه دئ د هغه د مرګ فیصله کوي، په دې ترتیب ابراهیم علیه السلام ته ښيي چې دا ده وګوره چې د مرګ او ژوند پرېکړه زما په واك کې ده، ابراهیم علیه السلام د ده د ادعا د تردید او د دې خبرې د اثبات لپاره چې د مرګ ژوند فیصله د الله په اختیار کې ده، هغه ته وایي: ... فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَ اللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّلِمِينَ*: دا دئ زما رب خو لمر له مشرق نه راپورته کوي ته ئې له مغربه را اوچت کړه که رښتونی یې، نو هغه چې کافر شوی وو حیران شو او الله ظالمان نه هدایت کوي.

ابراهیم علیه السلام په دې استدلال سره، دا خبره ثابتول غواړي چې لکه د لمر په راختو او لوېدو او طلوع او غروب کې چې له الله نه پرته بل هیڅوك هیڅ نوع اغېز نه لري، لکه چې د ورځې او شپې په تلو راتلو کې له الله تعالی پرته هیڅوك داسې نشته چې د هغه اراده څه اثر ولري، همدا راز د مرګ او ژوند فیصله هم صرف یو الله کوي، که چاته ژوند وربخښي، هغه ئې وربخښي او که د چا د مرګ فیصله کوي هغه ئې کوي.

قرآن عظیم الشأن په همدې اړه فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزًّى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةً فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ

بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ١٥٦ آل عمران:١٥٦

اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو ورونړو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او يا ئې غزا کوله "او هلته يا مړه يا وژل شوي وو" وويل: که زمونږ په خوا کې وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت لامل وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه ليدونکی دی چې تاسو ئې کوئ.

د دې آيت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په اړه له کافرانه تصور نه منع شوي.
- که چا مړينه او وژنه، سفر يا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په اړه ئې وويل: که زمونږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخيستې او په سفر نه وی تللی له مړينې او وژنې نه به خوندي پاتې شوی وو، د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.
- د ژوند مرګ پرېکړه يوازې الله کوي.
- دا کافرانه تصور له دې نه پرته بل څه نه ده چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله جل شأنه کافران تعذيبوي.
- د انسان کوم کړه وړه چې له همدې کافرانه اعتقاد نه څرګندېږي، که هغه له مرګ نه وېره وي، په جهاد کې برخه نه اخيستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو نه ډډه کول وي، الله په ټولو خبر دی او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦ التوبه:١١٦

يقيناً چې د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، ژوندي کول کوي او وژل (

د ژوند او مرګ پربکړه د ده له لوري کېږي) او تاسو لره له الله پرته نه کوم ولي شته او نه نصیر، ( له الله تعالی پرته بل داسي څوك نشته چي ستاسو مرسته او حمایت وکولی شي).

همدا راز فرمایي:

وَهُوَ ٱلَّذِى يُحْيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخْتِلَٰفُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ٨٠

المؤمنون:٨٠

او دی هغه ذات دئ چي د مرګ ژوند پرېکړه کوي، د شپې او ورځي یو په بل پسي راتله هم هغه لره دي "دا کار هم د ده په اختیار کي دئ"، نو آیا تعقل نه کوئ؟!

لکه چي د شپې او ورځي تګ راتګ د ده په اراده ترسره کېږي، همدا راز د مرګ ژوند پرېکړه هم د ده له لوري کېږي، لکه چي د شپې او ورځي په تلو راتلو کي له الله نه پرته د بل هیچا اراده هیڅ ډول اثر او اغېز نه لري، یوه شېبه ئې نه مخکي کولی شي او نه ئې وروسته کولی شي، همدا راز د مرګ او ژوند فیصله هم الله تعالی صادروي او پدې کار کي هم له الله تعالی پرته بل هېڅ شی هیڅ ډول ونډه او اغېز نه لري.

هیڅ نفس نه مري مګر د الله په حکم او اذن سره، او له یوې ټاکل شوې نېټې سره سم. دا نېټه مخکي له مخکي ټاکل شوې او لیکل شوې، هر ژوی په همدغه معینه نېټه د مرګ داعي ته لبیك وایي، خو د الله تعالی په اذن او حکم سره:

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْءَاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِى ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥ آل عمران:١٤٥

او هیڅ نفس ته نه ښایي چي ومري مګر د الله په اذن سره په لیکل شوې ټاکلي نېټې او

ځوك چي د دنيا اجر غواړي له همدې نه ئې برخه ورکوو او څوك چي د آخرت اجر غواړي له هغه نه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو.

په دې مبارك آيت کې د لاندې سترو سترو خبرو لارښوونه شوې:

د هرچا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې.

دا خاصه نېټه په خاص کتاب کې ليکل شوې. په داسي کتاب کې چي په هغه کې هيڅ تبديلى نه شي راتلى.

مرگ په همدې ټاکل شوې او ليکلې نېټې راځي خو د الله له اذن او اجازې نه وروسته راځي.

څوك چي د خپلو عملونو دنيايې بدله غواړي نو الله له هغه نه څه ورکړي او څوك چي د اخروي بدلې په لټه کې وي نو الله ئې له هغه نه ورکړي.

د الله شاکر بندگان به ډېر ژر خپل اجر ترلاسه کړي، نه د دوى دنيايي اجر ضايع کېږي او نه اخروي.

د دې آيت له مخې شاکر بنده هغه دئ چي مرگ ژوند د الله له لوري گڼي او د خپلو عملونو د اخروي بدلې په لټه کې وي.

دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چي د هر ژوي لپاره د مرگ ثابته نېټه ټاکل شوې، او ليکل شوې او بيا په همدغه معينه نېټه کې هم د الله په امر او حکم سره د انسان مرگ تحقق مومي.

همدا راز قرآن عظيم الشأن فرمايي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٤٠ الروم :٤٠

الله هغه ذات دئ چي تاسي ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسي ته روزي درکړه، بيا تاسي وژني، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو نه داسي څوك

شته چي له دې کارونو نه کوم يو وکړی شي؟! پاکي ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه نه چي دوی ئې ورسره شريك گرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت کي، ستاسي په رزق او روزي کي او ستاسو په مرگ او ژوند کي هيڅوك له خدای سره شريك نه دي، الله تعالی له دې عيب نه پاك او له دې نه لوړ دئ چي په دې کارونوکي څوك د ځان شريك ونيسي.

په دې مبارك آيت کي ويل شوي چي په دغو څلورو کارونو کي هيڅوك او هيڅ څه له الله تعالی سره شريك نه دي، مشرکانو ته ويل شوي چي آيا په خپلو دروغجنو معبودانو کي داسي څوك مومئ چي له دغو کارونو څخه کوم يو وکړی شي، ستاسو په پيدايښت کي، ستاسو په رزق او روزي کي، ستاسو د مرگ په فيصله کي او ستاسو په بياژوندون کي له الله سره شريك وي؟! سبْحانَهُ وَ تَعَالی عَمّا يُشرِكُونَ: پاکي ده الله لره او اوچت دئ له دې نه چي له هغه سره څوك په الوهيت او ربوبيت کي شريکوي.

## په خپل رزق يوازي له الله تعالی وېره:

لکه چي زموږ د ژوند او د مرگ فيصله يوازي د الله تعالی له لوري کېږي، واك ئې يوازي له ده سره دئ، او په همدې خاطر موږ په خپل ژوند له هغه نه پرته له بل چا وېره نه لرو او په دې باور يو چي په دې مسئله کي له الله نه پرته د بل چا اراده څه اثر نه لري، په دې خبرې مو کلك يقين دئ، هر مسلمان بايد په دې باور وي، په دې کي به شك نه کوي او په هيڅ حالت کي به د هغه په زړه کي د دې خبرې په اړه څه شك او شبهه نه راپيدا کېږي، همدا راز موږ په دې باور لرو چي زموږ د رزق او روزي ضامن او ذمه وار الله تعالی دئ او زموږ د رزق او د روزي انتظام د ده له لوري کېږي، باران د ده په اراده وربېږي او دانه او مېوه د ده په اراده راپيدا کېږي، د همدې لپاره موږ په خپل رزق او روزي هم له يوه الله نه پرته له بل چا څخه نه وېرېږو، دا ځکه چي د رزق او روزي پيدا کولو انتظام صرف

د الله جل شأنه په اختيار کې دئ، لکه چي قرآن فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ٧٠﴾ الاسراء: ٧٠

او يقيناً چي موږ د آدم اولادې ته کرامت ور په برخه کړ او په وچه (زمکه) او بحر کې مو حمل کړ (د حمل وسايل مو ورته پيدا کړل)، پاکيزه رزق مو ورکړ او دوی ته مو په ډېرو هغو شيانو فضيلت ورکړ چي موږ پيدا کړي.

دا آيت موږ ته لارښوونه کوي چي الله تعالی انسانانو ته عزت او کرامت ورپه برخه کړ، د دوی لپاره ئې د حمل وسائل پيدا کړل، په وچه کې د آس او اوښ په څېر حيوانات، او د موټرو ګاډو په څېر وسايل، په بحرکې کشتۍ، لکه څنګه چي په بحر کې کشتۍ ترې مراد دئ، همدغسي په وچه کې دا د حمل ټول وسائل ترې مراد دي، د دغو وسايلو اړوند مواد، ضوابط، سنن او قواعد هم الله تعالی پيدا کړي، کوم مواد چي له هغوی نه په استفادې سره انسان موټرې، طيارې او کشتۍ جوړوي، ټول الله تعالی پيدا کړي او په انسان کې له دغو امکاناتو نه د استفادې استعداد هم د الله تعالی پېرزوينه ده، الله تعالی د دوی لپاره د رزق او روزي انتظام هم کړی، په دنيا کې دغه پاکيزه رزق چي تاسو ئې ګورئ، دغه مېوې چي الله ئې د زمکې له مړو اجزاوو، له خټې او خاوري راپيدا کوي، په دومره پاکيزګۍ سره، له ظرافت، لطافت او نظافت سره، ښايسته او خوندور، داسي چي ته ئې له خوند نه لذت اخلې، له بوی او رنګ نه ئې خوند اخلې، هغه ته ئې پوستکی ور اغوستي او د دې انتظام ئې کړی چي پاك او ستره وي، الله جل شأنه د د وی لپاره د داسی پاك رزق او روزي انتظام وکړ، دوی ته ئې پر ډېرو هغو مخلوقاتو فضيلت ورکړی چي الله تعالی پيدا کړي، له هره پلوه ئې دوی ته فضيلت ورکړ: د صورت له پلوه، د عقل او پوهې له پلوه، د ګڼ شمېر استعدادونو له ناحيې، دا چي هغه ئې په زمکه کې خپل خليفه

وگرځولو، د دنیا هر څه ئې هغه ته مسخر کړل، د زمکې او آسمانونو هر څه د هغه په خدمت کې دي او الله جل شأنه ده ته رام او مسخر کړي او په دې ترتیب ئې د ټولو مخلوقاتو په نسبت دوی ته فضیلت او لوړوالی ورکړی.

همدا راز الله جل شأنه فرمایي:

أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّوا۟ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ

٢١ الملك: ٢١

آ به څوك وي چي روزي درکړي، که دی خپله روزي وسپموي؟! بلکې دوی ټینگار کوي، سرکښۍ کې او (له حق نه) په تېښتې کې.

یعني که الله تعالی خپل رزق له تاسو وسپموي هغه به څوك وي چي تاسو ته رزق درکړي؟ که الله جل شأنه خپل رزق بندکړي، باران و نه وروي، لمر راونه خېژوي چي زمکې ته رڼا او تودوخه ورکړي، له زمکې نه دانه او مېوه راشنه نه کړي، دا بادونه چي د نباتاتو د القاح وسیله ده ونه خوځوي او دا د رزق او د روزي ټول وسائل چي تاسو ئې په دې عالم کې گورئ، که الله جل شانه دا ټول ختم کړي یا ئې کار متوقف کړي، هغه څوك دئ چي بیا تاسو ته رزق او روزي درکړي؟ د سرغړاوي او له حقیقت نه د کرکې او تېښتې په وجه هغوی له دغو حقایقو نه مخ اړوي، که داسي نه وي، نو دوی دي ووایي چي که الله تعالی خپل رزق او روزي متوقف کړي، هغه څوك دئ چي له ده پرته تاسو ته رزق او روزي درکړی شي؟

همدا راز فرمایي:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ٱللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ٦٠ العنکبوت:٦٠

او څومره ډېري خزندې چي خپل رزق په شا نه وړي، خدای ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم او هغه اورېدونکی پوه ذات دئ.

د زمکي پر سر څومره حیوانات داسي دي چي د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، باغ او پټی نه لري، گودام او ذخېره نه لري، د سبا لپاره څه نه ذخیره کوي، د خپل رزق او د روزي پېټی په اوږو نه وړي، الله ورته رزق ورکوي، همداسي ئې تاسو ته هم درکوي، دا ځکه چي الله تعالی اورېدونکی او علیم دئ، د بنده دعاء د حال او قال په ژبه اوري، په اړتیاوو ئې پوه دئ.

په دنیا کي دومره ژوي شته چي که ټول په شلو برخو ووېشو، نولس۱۹ برخي ئې په اوبو کي دي او یوه برخه ئې په وچه کي، او د دې یوې برخي نه یو وړوکی جزء انسانان دي، انسانان د دې شلمي برخي نه یوه وړه برخه ده، له دې نه تاسو د ژوو شمېر معلومولی شئ، دغو ټولو ژوو ته رزاق خدای رزق او روزي ورکوي. داسي حیوانات هم شته چي هر یو ئې، هره ورځ، د یوه کلي په اندازه رزق ته ضرورت لري، په بحرونو او ځنگلونو کي داسي ستر ستر حیوانات شته چي هر یو د یوه کلي په اندازه روزي ته، په یوه وخت کي ضرورت لري، خو نه تجارت کوي، نه پټي کري، نه د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو وړي او نه د سبا لپاره څه ذخیره کوي، الله تعالی ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم. او الله تعالی د دعاگانو اورېدونکی او د انسان په احتیاجاتو او اړتیاوو پوه دئ، په دې هم پوهېږي چي څنگه هغه ته رزق او روزي ورکړي او د رزق او روزي انتظام ئې څنگه وکړي.

پیغمبر علیه السلام په دې اړه فرمایي:

خدای له دریو کسانو سره مرسته په خپله ذمه اخیستي:

- هغه ځوان چي د عفاف لپاره د نکاح اراده کوي.
- هغه مریي چي د آزادۍ لپاره له خپل آقا سره مکاتبه کوي.
- او هغه مجاهد چي د الله په لاره کي د جهاد لپاره ملا تړي.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: كه تاسو له الله تعالی نه داسي ووېرېږئ لكه چي له هغه سره ښايي، نو تاسو ته به داسي رزق او روزي دركړي لكه مرغانو ته چي ئې وركوي، سهار تش نس له خپلو كورونو وځي او ماښام ډك نس خپلو كورونو ته بېرته راستنېږي.

قرآن فرمايي:

... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣ الطلاق:٢-٣

څوك چي له الله وېرېږي او د تقوی لار غوره كوي، له ستونزو او كړاوونو نه د وتلو لار به ورته پرانېزي او له هغه لارې به رزق او روزي وركړي چي گمان ئې هم نه كوي "په خيال کې ئې هم نه گرځي او تصور ئې هم نشي كولی" او څوك چي پر الله توكل وكړي نو هغه ورته كافي دئ، يقيناً چي الله خپل كار ته رسېدونكی دئ، بې شكه چي الله د هر كار لپاره حد او نېټه ټاكلې ده.

همدا راز فرمايي:

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ العنكبوت:٦١

كه ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي، او لمر سپوږمۍ چا مسخر كړې، حتماً به وايي: الله، نو څنگه دوكه كېږي؟!

يعني د رزق او روزي اصلي اسباب خو آسمان دئ چي اوبه ترې راورېږي او زمكه ده چي دانه او مېوه ترې راشنه كېږي، كه له دوی پوښتنه وكړې چي دا زمكه او آسمانونه چا پيدا كړي؟ دا لمر او سپوږمۍ چا مسخر كړي؟

شپه او ورځ چي د رزق او روزي د پیدا کېدو باعث ګرځي د چا په اراده ځي راځي؟ لمر د ورځي علامه او سپوږمۍ د شپې علامه ده، دا دواړه د رزق په پیدا کېدو کي اساسي ونډه لري، که دا نه وی نو نه به په زمکه کي بوټی وو، نه ونه، نه حیوان او نه انسان، د دوی ځواب به څه وي؟ حتماً به وایي چي دا هر څه د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، له دې پرته بل ځواب نه لري، نو څنګه او له کومه ځایه دوکه کېږي؟! د دوی د دوکه کېدو او بې لاري کېدو عامل څه دئ؟"

همدا راز وروسته فرمايي:

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ العنكبوت:٦٢

دا الله دئ چي له خپلو بندګانو نه هر چا ته چي وغواړي په رزق او روزي کي ورته وسعت، بسط او پراخوالی ورکوي او چا ته ئې چي خوښه وي ورته تنګوي ئې، "رزق ئې ورته محدود کړي" یقیناً چي الله په هر څه ښه پوه دئ، "په دې ښه پوهېږي چي د انسان خیر او مصلحت په څه کي دئ، دا پرېکړه د الهي علم له مخي کېږي، که چا ته پراخ رزق ورکوي، علیم الله په دې پوهېږي چي خیر په همدې کي دئ او که په چا ئې محدودوي او د رزق له محدودیت او تنګوالي سره ئې مخامخ کوي، دا هم د علیم الله فیصله ده، حتماً په دې کي یو مصلحت مضمر دئ.

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣

العنكبوت:٦٣

که هغوی وپوښتې چي له آسمانه اوبه چا نازلي کړې چي زمکه له خپل مرګ نه وروسته بیا پرې راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي چي الله، ووایه

چي ستايني ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهيږي.

آيا څوك دې پوښتني ته له دې پرته بل ځواب موندلی شي؟ پرته له دې چي اعتراف وکړي چي دا كار الله تعالی كوي، له آسمانه اوبه نازلوي او مړه زمكه پرې ژوندۍ كوي، بل څه ځواب لري؟

## عزت او ذلت د الله په اختيار كې دئ:

لكه چي زموږ د مرگ او ژوند پرېكړه د الله تعالی له لوري كېږي او په همدې خاطر بايد په خپل مرگ او ژوند پوازې له الله تعالی نه ووېرېږو او لكه څنگه چي زموږ د رزق او روزي اختيار د الله تعالی په لاس كې دئ او په همدې خاطر بايد په خپل رزق او روزي پوازې له الله تعالی ووېرېږو، همدا راز د انسان د عزت او ذلت پرېكړه هم پوازې د الله تعالی له لوري كېږي، د همدې لپاره بايد عزت د ده په خوا كې ولټوو او په خپل عزت هم صرف له الله تعالی نه ووېرېږو.

قرآن په دې اړه فرمايي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ١٨ الحج: ١٨

نه گورې چي الله ته ټول هغه څه سجده كوي چي په آسمانونو او زمكي كې دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، وني، حيوانات او له خلكو نه ډېر ئې، او په ډېرو ئې عذاب محقق شوی، او الله چي د چا سپكاوی او اهانت وكړي نو هغه هيڅ عزت وركوونكی نه لري، "هيڅوك اكرام او عزت نشي وركولی"، يقيناً الله چي څه وغواړي هغه كوي.

هو؛ د زمکي او آسمانونو هر څه الله تعالی ته منقاد دي، هر څه به د هغه چا ملاتړ کوي چي خپل رب ته مطيع وي، هر څه به ئې درناوی کوي، او که هغه له خپل رب نه مخ واړوي، الله تعالی به ئې سپك او ذليل کړي، داسي څوك به ونه مومي چي ده ته عزت ورکړي؟ په خپلو سترګو ګورو چي ډېر ځله، يوه معمولي خبره، د يوه داسي انسان چي په قوم کي ډېر منلی، مخور او با عزته وي، داسي سپك کړي او عزت ئې داسي ختم کړي چي هر څوك ورته په سپکه سترګه ګوري، هيڅوك د ده په څنګ کي ودريدو ته تيار نه وي، يقيناً الله تعالی چي څوك سپك او ذليل کړي، په دنيا کي به داسي څوك پيدا نه کړي چي هغه ته عزت ورکړي، په ټول عالم کي به داسي څوك او څه ونه مومي چي له سپکاوي ئې وژغوري او عزت ورپه برخه کړي.

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ آل عمران:٢٦

ووايه: اې باري ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يې چي چا ته وغواړې واکمني ورکوې او له چا نه چي وغواړې د واکمنۍ "جامه" بېرته باسې، چي چا ته وغواړې عزت ورکوې او چي څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېګڼه ټوله ستا په لاس کي ده، بې شکه چي ته په هر څه قادر يې.

ته د ملك مالك يې، دلته ستا حکم نافذ دئ، هر څه ستا په اراده ترسره کېږي، دا ته يې چي چا ته وغواړې اقتدار ورکوې، چي څوك وغواړې د اقتدار تخت او تاج ئې نسکوروې، له سپکاوي او ذلت سره ئې مخامخ کوې، چي چاته وغواړې عزت ورکوې، چي څوك وغواړي سپکوې ئې، ښېګڼې ټولي ستا په لاس کي دي، ستا په هري پرېکړي کي خير مضمر دئ، ته په هر کار قدير او توانا يې.

د منافقانو په باب چي له الله نه پرته د بل چا په څنګ کې عزت لټوي، او ځي د کافرانو په څنګ کې ودرېږي په دې طمعه هلته به عزت تر لاسه کړي، فرمايي:

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَيَبۡتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلۡعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا ١٣٩ النساء:١٣٩

همغو ته چي له مؤمنانو نه پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا د دوی خوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول الله لره دئ.

دا منافقين له کافرانو سره دوستي کوي، ګمان او انتظار ئې دا دئ چي د کافرانو تر څنګ به عزت تر لاسه کړي، په دې نه پوهېږي چي په منافقت او دښمن ته په تسليمېدو سره خپل موجود عزت او اعتبار هم له لاسه ورکوي، په دې نه پوهېږي چي د عزت پرېکړه الله تعالی کوي، عزت له ايمان نه پرته له بلي لاري نه شي ترلاسه کېدی، يوازې د الله مؤمن او صالح بنده د واقعي عزت خاوند دئ، منافق د هر چا له نظره سپك، ذليل او بې اعتباره وي، هرڅوك ئې يوه بې اعتباره وسله ګڼي، هيڅوك د يوه مطمئن دوست په سترګه ورته نه ګوري.

له دې آيت نه معلومېږي چي له کافرانو سره دوستي او ملګرتيا د نفاق نښه ده، منافق د عزت په طمع دا کار کوي او هغه وخت ئې کوي چي دښمن ورته قوي او مسلمانان ورته ضعيف معلوم شي.

هسي دا منافقين غولېدلي چي د کافرانو په ملګرتيا کې عزت لټوي، د هغوی څنګ ته درومي، له هغوی سره معاهدې کوي، هغوی د اولياوو او دوستانو په توګه نيسي، په دې طمعه چي د هغوی په څنګ کې به عزت تر لاسه کړي، خو يقيناً چي عزت صرف الله سره دئ.

همدا راز فرمايي:

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ

وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۖ وَمَكْرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠ فاطر:١٠

ځوك چي عزت غواړي (په دې دي پوه وي چي) یقیناً عزت ټول د الله دئ، د هغه لوري ته پاکي کلمې لوړي درومي او صالح عمل لوړوي او هغه کسان چي (د عزت لاس ته راوړلو لپاره) له بدو نه د تدبیر په توګه کار اخلي (سیئات د مکر او تدبیر په توګه کاروي) دوی ته شدید عذاب دئ او د دغو کسانو بد مکر تباه کېدونکي دئ.

دلته د عزت دوه عوامل په ګوته کوي:

١- پاك قول چي د الله تعالی لوري ته د لوړېدو مجال ترلاسه کوي.

٢- او صالح عمل چي الله تعالی رفعت او لوړوالی ورکوي.

یعني: یا ښه افکار، نېکه او غوره عقیده د دې باعث کېږي چي انسان عزت تر لاسه کړي او یا صالح عمل، ځکه الله جل شأنه دا دواړه اوچتوي، پاکي خبرې د الله په لوري اوچتې درومي، او دا صالحِ عمل دی چي الله ورته رفعت او اوچت والی ورکوي. وَ الَّذِينَ يَمْكُرُونَ السيِّئَاتِ: او هغه چي له سیئاتو نه د تدبیر او مکر په توګه کار اخلي، مکر پټ تدبیر ته وايي، یعني دوی له بدو عملونو نه د مکر په توګه استفاده کوي او له دې لاري غواړي عزت تر لاسه کړي، لَهُمْ عَذَابٌ شديدٌ وَ مَكْرُ أُولَئِكَ هُوَ يَبُورُ : د دوی د تمنا او طمعې برعکس دوی ته شدید الهي عذاب په انتظار کې دئ او د دغو کسانو همدا بد مکر په خپله تباه کېدونکی او بې نتیجې پاته کېدونکی دئ، الله جل شأنه به هیڅ نتیجه پرې مرتب نه کړي.

دلته عزت ته د رسېدلو دوه لارې په ګوته شوي:

یوه هغه چي عزت ته د رسېدو لپاره له سیئاتو نه د تدبیر په توګه کار اخیستل کېږي، ناروا تدبیرونه د داسې وسیلې په توګه کارول کېږي چي خاوند ئې عزت ته ورسوي، له حرامو لارو رزق او روزي تر لاسه کوي او

په حرام مال او دولت ترلاسه شوی نوم او په ټولني کې خپل کاذب اعتبار حقيقي عزت ګڼي، ظالمو حکامو ته به سرټيټ کړي، هڅه به ئې دا وي د غوړه مالۍ له لاري حکامو او د اقتدار خاوندانو ته ځان نږدې کړي او له دې لاري عزت تر لاسه کړي، له نورو ناروا او ناجائزو لارو عزت ته د رسېدو هڅه کوي، خو الله تعالی د دوی په اړه فرمايي چي د دوی د هڅو پايله عزت نه بلکې شديد الهي عذاب دئ، دا مکر او تدبير به ئې شنډ او بې نتيجې پاته شي او هيڅکله به له دې لاري خپلو موخو ته ونه رسېږي.

او بله ئې د صالح عمل، غوره کلام او نېکې عقيدې له لارې الله تعالی ته نږدېوالی او عزت تر لاسه کول دي، الله تعالی د دې ضامن دئ چي څوك دا لار غوره کړي عزت او درناوی به ورپه برخه کوي.

په دې ترتيب تاسو وليدل چي قرآن خپل مخاطب ته بلنه ورکوي چي يوازي له الله تعالی وېره ولري، هم په خپل مرګ او ژوند، هم په خپل رزق او روزي او هم په عزت او درناوي، دا هغه شيان دي چي انسان ته تر هر څه زيات ارزښت لري، پرې وېرېږي، ډېر ځله ئې وېره له هغه چا وي چي نه ئې ورکولی شي او نه ئې ترې اخيستلی شي، د دې پر ځای چي په دې اړه ئې وېره يوازي د دغو شيانو له حقيقي مالك او هغه ذات څخه وي چي په ده ئې پېرزو کړي، برعکس له هغه څه پرې وېرېږي چي نه ئې ده ته ورکړي او نه ئې له ده اخيستی شي، په دې توګه ئې د ماسوی الله وېره او خوف زړه ته لار پيدا کړي، خو تا د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې وليدل چي درته وايي: له خپل هغه رب نه ووېرېږه چي د آسمانونو او د زمکې پالونکی او ساتونکی دئ، رحمت ئې بې انتهاء او بې پايه دئ، هغه د دې عالم مالك او حاکم دئ، دلته د هغه اراده نافذه ده، هر څه د هغه په وړاندي محکوم دي، په دې خاطر به ته نه په خپل مرګ او ژوند له الله تعالی پرته له بل چا وېره لرې، نه په خپل رزق او روزي او نه په خپل عزت او کرامت.

## په الله باندي توکل

په الله باندي د ایمان بله غوښتنه دا ده چي انسان به په الله توکل کوي، خو باید پوه شو چي د توکل معنی څه ده؟ په الله تعالی باندي توکل یعني څه؟ آیا د توکل دا تعبیر سم دئ چي له کار نه لاس واخلو، په کارونو کي تدبیر او احتیاط پرېږدو او هر څه الله تعالی ته حواله کړو؟ متأسفانه ځیني خلك توکل په همدې معنی نیسي، هغه د تدبیر او احتیاط منافي ګڼي، ځیني لټي، بې احتیاطي، بې تدبیري، بې اعتنایي، تساهل، د مسئولیت عدم احساس او خپلو وجائبو او مسئولیتونو ته اهتمام نه کول د توکل په نامه یادوي، په داسي حال کي چي دا د توکل ډېر ناسم او غلط تعبیر دئ.

که تاسو قرآن ته مراجعه وکړئ دې ته به متوجه شئ چي د قرآن له نظره توکل د عمل کوونکو صفت دئ، قرآن توکل د یوه مؤمن عامل او با ایمانه عمل کوونکی انسان خصوصیت او صفت ګڼي، توکل دې ته وایي چي ته د احکامو او وجائبو د تعمیل لپاره اوچت شې او د دې لپاره ملا وتړې چي خپل مسئولیتونه تر سره کړې ، خو د نتائجو په اړه ډاډه او مطمئن وې، د دې پروا نه لرې چي په دې باندي به څه نتائج مرتب کېږي، له دې ناحیې ډاډه او مطمئن یې چي الله تعالی ستا هلي ځلي نه ضایع کوي، د خپلو کړو وړو نتائج الله تعالی ته حواله کوې ، الله جل شأنه د وکیل په توګه نیسې او له نتائجو نه په دې خاطر مطمئن او ډاډه یې چي الله ستا وکیل دئ، هغه د هیڅ بنده اجر نه ضایع کوي، دې ته توکل وایي.

دا توکل نه دئ چي ته تدبیر، احتیاط او دقت پرېږدې او ووایې چي ما پر الله توکل کړی!! پیغمبر علیه السلام تر ټولو ستر متوکل وو، خو هغه په جنګ کي زره اغوسته، چي کله به جنګ ستر او شدید وو نو دوه زرې به ئې اغوستې، پهره دار ئې درلود، هغه به په جنګ کي ټول امنیتي تدابیر نیول، صفوف به ئې منظم کول، هر چاته به ئې خپله موضع ښودله، له کوم لوري به چي د دښمن د حملې احتمال وو، هلته به ئې فوځ ځای په

ځای کولو، ټول امنيتي تدابير به ئې نيول، له دې وروسته به ئې پر الله توکل او بروسه کوله.

توکل دې ته وايي چي ته خپله وجيبه او مسئوليت ترسره کوې، له نتائجو ډاډه او مطمئن يې، هغه الله تعالی ته حواله کوې او الله جل شأنه د وکيل په توګه نيسې.

لکه چي قرآن فرمايي:

... نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٥٩

العنکبوت: ٥٨-٥٩

د عمل کوونکو اجر ډېر غوره دئ، هغه عمل کوونکي چي صبر ئې وکړ او په خپل رب توکل کوي.

دا نېك اجر او غوره بدله به هغه څوك تر لاسه کوي چي په نيمايي لاره کې بې حوصلې او بې صبره نشي، شکوه او شکايت و نه کړي، کله چي له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي نادم او پښېمانه نشي، شکوه او شکايت ونه کړي، بلکي صبر کوي، او هغه چي له نتائجو نه هم ډاډه او مطمئن وي، نتائج الله ته حواله کوي او په الله توکل کوي. ګورئ چي توکل د عامل صفت دئ، د بې عمله صفت نه دئ، خو ځيني متوکل هغه بې عمله کس ګڼي چي عمل نه کوي، خپل مسئوليت نه ترسره کوي، خپل وجائب نه ادا کوي او صرف په خوله وايي چي په الله مي توکل دئ.

توکل داسي وګڼئ: الله تعالی مسلمانان په دې مکلف کړي چي که د دښمن شمېر تر دوی دوه ځله زيات وي، مقابله به ئې کوي، دښمن ته به شا نه اړوي او له ميدانه به نه تښتي، که ته د دغه الهي حکم مطابق د يوه داسي ځواکمن دښمن مخي ته ودرېږې او مقابلې ته ئې ملاتړې چي ستا دوه برابره دئ، د نښتې د پايلو په اړه هيڅ انديښنه نه لرې، نتايج خپل رب ته حواله کوې او په ډاډه او مطمئن زړه د دښمن مقابله کوې، دې ته توکل وايي. ته څکه د داسي دښمن مقابلې ته ملا تړې چي د الله

تعالی په دې وینا دي باور دئ چي فرمايي: که څه هم د کافرانو شمېر، ستاسو په نسبت لس چنده وي، تاسو به غالب یاست، ته په دې باور لرې، د لس چنده لښکر سره مخامخ یې، د هغه مقابله کوې او له خپلې کامیابۍ او فتحې نه ډاډه او مطمئن یې، د توکل حقیقي معنی همدا ده. یعني توکل د بې عملو صفت نه دئ؛ بلکي د عمل کوونکو صفت دئ.

د احد په جنګ کي، ځینو کسانو غوښتل چي بې زړه توب وکړي، په هغو کي جبن، وېره او بې همتي راپیدا شوه، د پیغمبر علیه السلام او د مسلمانانو لښکر ئې یوازي پرېښود او بېرته په شا وګرځېدل، په ځینو نورو کي د دوی په شا تګ تشویش راپیدا کړ، غوښتل ئې هغوی هم بې زړه توب وکړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ١٢٢ آل عمران:١٢٢

کله چي ستاسو دوو قبیلو د بې زړه توب قصد وکړ، په داسي حال کي چي الله ئې ولي او مرستندوی وو او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي.

دا همغه دوه قبیلې، بنو حارثه او بنو سلمه دي چي د ابی بن سلول او د ده د ملګرو له ستنېدو وروسته نږدې وه بې همتي وکړي او له جګړي په شا شي. د دوی په اړه ویل شوي چي بې همتي ورته مناسبه نه وه، د چا چي الله مولا او مل وي؛ ولې به بې همتي کوي، له مؤمنانو سره خو دا ښايي چي تل او په هر حالت کي ئې پر خپل خدای توکل او بروسه وي او د دښمن له زور ځواك نه ونه وېرېږي.

ګورئ چي دلته هم په ډېر تأکید او پرېکنده توګه ویل شوي چي د ایمان یوه تقاضا دا ده چي مؤمن به پر خپل رب توکل کوي، د ایمان له هر مدعي نه د ایمان غوښتنه دا ده چي پر الله به توکل او بروسه کوي.

همدا راز فرمايي:

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ﴾ التوبه: ۵۱

(ورته) ووایه: له هغه څه پرته چې الله راته لیکلي هیڅ مصیبت نه رارسي، هغه مو مولا دئ، او مؤمنان باید پر الله توکل وکړي.

یعني د کافرانو د ګواښونو په وړاندې به ستا ځواب دا وي: لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا: له هغه څه پرته چې الله تعالی راته لیکلي او مخکې له مخکې ئې راته مقدر کړي، بل هیڅ مصیبت نه رارسیږي، دا ستا د عقیدې او ایمان یوه برخه ده چې باور وکړې هیڅ مصیبت نه دررسیږي؛ مګر هغه چې تا الله تعالی تا ته له مخکې نه مقدر کړي. دوهمه برخه ئې دا ده چې ته به پدې خبرې باور لرې چې الله ستا مولا دئ، هغه به تا یوازې نه پرېږدي، هغه به ستا هلې ځلې نه ضایع کوي، تا به د دښمن په وړاندې په میدان کې یوازې نه پرېږدي. او درېیمه خبره دا ده چې مؤمنان باید پر الله توکل وکړي. وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ .

زموږ بروسه او اعتماد په الله دئ، دا ځکه چې موږ ایمان لرو او د ایمان تقاضا دا ده چې انسان به په الله بروسه کوي.

د دې مبارك آیت مهمې لارښوونې دا دي:

د الله تعالی له اذن نه پرته هیڅا ته کوم مصیبت نه رسیږي.

انسان ته یوازې هغه مصیبتوررسیږي چې له مخکې نه هغه ته مقدر او د ده په تقدیر پاڼې کې لیکل شوی.

دا مقدرات نه بدلیږي.

او دا چې الله زموږ مولا او چاره ګر دئ، موږ به یوازې نه پرېږدي، په هره پرېکړه او فیصله کې ئې زموږ لپاره خیر مضمر دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ او هر څه د هغه په اراده کېږي، که په موقتي توګه له ماتې

سره مخامخ کېږو، زموږ خیر په همدې کې مضمر دئ او که فتح او غلبه را په برخه کړي خیر په همدې کې دئ، دا ځکه چې الله زموږ مولا دئ.

او دا چې د ایمان خاوندان باید پر الله تعالی باندې توکل وکړي، له نتائجو نه مطمئن وي، کار به الله ته حواله کوي او له دې نه به ډاډه وي چې الله جل شأنه به په هغه باندې نېك نتائج مرتب کوي.

د مائدې په سوره کې دې مطلب ته داسې اشاره شوې:

﴿قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٢٣﴾ المائده: ٢٣

له هغو چې وېرېدل، دوو سړيو ئې چې الله پرې پېرزوينه کړې وه، وويل: له دروازې پرې ورننوځئ، نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله بايد توکل وکړئ.

موسی علیه السلام څه کسان يوه ښار ته د معلومات راغونډولو لپاره لېږلي وو چې وګوري هلته د دښمن حالت څنګه دئ، هغوی ئې پوه کړي وو چې کوم احوال تر لاسه کړئ نو خلکو ته به ئې نه واياست، خاص ما ته به ئې رارسوئ. دوی چې راوګرځېدل، ځينو ئې په قوم کې وېره او خوف راپيدا کاوو او ويل ئې چې دښمن قوي دئ او مقابله ئې ممکنه نه ده، خو د دوی له جملې نه دوو کسانو قوم ته ډاډ ورکاوو او حملې ته ئې هڅول.

له دغه قوم نه چې له دښمنه ئې وېره درلوده، دوو ئې چې الله تعالی پرې پېرزوينه کړې وه او د وېرې په ځای ئې زړونه له ډاډ او اطمئنانه ډك وو، قوم ته ويل: په دښمن له دروازو داخل شئ، ستاسو له ننوتلو سره سم به دښمن ماتې خوري او تاسو به غالب او فاتح وئ، دوی د

بريا، فتحي او د ډاډ او اطمئنان خبره وکړه او وئې ويل: وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ : که په رښتيا تاسو ايمان لرئ نو پر الله توکل وکړئ؛ که د ايمان په دعوی کې رښتيني يئ نو ځان الله ته وسپارئ، په الله توکل وکړئ، په دښمن بريد وکړئ او له نتائجو ئې مطمئن او ډاډه اوسئ، ګورئ چي د ايمان خاوندان همدا خبره کوي چي بايد مؤمن انسان پر الله بروسه او اعتماد وکړي.

همدا راز فرمايي:

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ٨٤ يونس:٨٤

او موسی وويل: اې زما قومه! که تاسو پر الله ايمان راوړی وي، نو په هغه توکل وکړئ که رښتيا د الله اوامرو ته منقاد ياست "که مسلم ياست او ايمان لرئ نو په الله توکل وکړی"

ګورئ چي دلته هم قرآن عظيم الشأن فرمايي چي په الله باندي توکل د ايمان غوښتنه او تقاضا ده.

## ډاډه او مطمئن زړه

په الله باندي دايمان يوه بله تقاضا او غوښتنه دا ده چي د الله ذکر او د هغه يادونه بايد د انسان د اطئمنان باعث شي او اضطراب او پرېشاني ئې ختمه شي، تر سخت نه په سخت حالت کې هم کله چي د الله نوم اخيستل کېږي، بايد همدا د انسان د ډاډ او اطمئنان باعث شي او د هغه تشويش او پريشاني رفع شي.

قرآن عظيم الشأن موږ ته همدا ښيي چي څوك په الله ايمان لري، همدا ايمان به په سختو حالاتو کې د دې باعث شي چي هغه ډاډه او مطمئن وي، برعکس هغه چي په الله ايمان نه لري، تل به مضطرب او پرېشانه وي،

حیران به وي او وېرې او خوف به نیولی وي. په دې باب ګڼ شمېر آیتونه راغلي، لکه چې فرمايي:

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ٢٨ الرعد:٢٨

هغه چې ایمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه مطمئن کېږي، خبر دار چې د الله په ذکر او یادولو سره زړونه مطمئن کېږي

یعني هغه چې ایمان لري، د الله د نوم په اخیستلو سره، د الله په ذکر سره او چې کله الله ور په یاد شي، په دې سره ئې زړونه مطمئن شي. دا ځکه چې کله شیطان درته وسوسې تلقین کړي او خوف دې په زړه کې راپیدا کړي، خو چې کله ته دې خبرې ته متوجه شې چې ستا مرګ ژوند د الله په اختیار کې دئ او دلته هر څه د الله په اراده ترسره کېږي، هغه لکه چې ستا پیدا کوونکی دئ همدا راز ستا پالونکی او ساتونکی هم دئ، د هغه رحمت او پېرزوینه بې انتهاء ده او هغه د دې ملك مالك دئ، په دې زمکه کې د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هر څه د ده ارادې ته منقاد دي، دا اعتقاد او دا ایمان پخپله د دې باعث شي چې ته ډاډه او مطمئن وې او متیقن وې چې له تصادفي حوادثو او پېښو سره نه مخامخ کېږې، بلکې دلته چې هر څه کېږي د یوه مالك الملك الله په اراده کېږي، په دې خاطر، ته مطمئن او ډاډه وې.

د الفتح په سورې کې راغلي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٤

الفتح:٤

دی هغه ذات دئ چې د مؤمنانو په زړونو کې ئې سکینه نازله کړه، چې

ایمان ئي په نور ایمان ورزیات کړي او د آسمانونو او زمکې ټولي لښکري د الله دي او الله باحکمته پوه ذات دئ.

په دې مبارك آیت کې، د هغه حالت په اړه بحث شوی چي پیغمبر علیه السلام له څوارلس سوه ملگرو سره د عمرې او طواف په نیت له مدینې نه خوځېږي، دښمن د هغه مخه نیسي، په سخت خطرناك سفر وتلی، بې له وسلې او بې له جنگي تیاري نه د دښمن تر تسلط او سیطری لاندي منطقې ته ننوتی، دښمن د مقابلي اراده لري، په همدغه خطرناك سفر کې دی او یاران ئې ډاډه او مطمئن ول، دا هغه ډاډ او اطمئنان وو چي الله جل شأنه د دوی په برخه کړی وو، په دې توگه ئې د دوی ایمان ته قوت او ځلا ورکړې وه، هغوی مطمئن او ډاډه وو او په الله جل شأنه ئې بروسه او اعتماد وو.

گورئ چي څوك ایمان لري نو الله جل شأنه په داسي سخت حالت کې د هغه په زړه کې اطمئنان او ډاډ راپیدا کوي او د هغه اضطراب او پرېشاني ختموي.

همدا مطلب د توبې د سورې په ۲٦ او٤٠ آیتونو کې داسي بیان شوی:

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَـٰفِرِينَ ٢٦ التوبة: ٢٦

بیا الله په خپل پیغمبر او مؤمنانو باندي سکینه نازله کړه او هغه لښکرې ئې راولېږلې چي تاسي نه لیدې او کافران ئې تعذیب کړل او دا د کافرانو سزا ده.

د حنین په جگړه کې چي د مسلمانانو شمېر هومره وو چي دوی ئې په تعجب او حیرت کې غورځولی وو، خو ناڅاپي د حنین په منطقه کې د خپل شمېر په نسبت له تقریباً څلورمي برخي دښمن سره مخامخ کېږي، د دوی شمېر تر دولس زره نه اضافه وو او د دښمن فوځ تقریباً څلور زره کسان

وو، خو د دوی له ناڅاپي حملې نه دومره پرېشانه شول چې پیغمبر علیه السلام ئې په میدان کې یوازې پرېښود، زمکې ځای نه ورکولو، قرآن عظیم الشأن د دوی د پرېشانۍ په اړه فرمايي: زمکه له خپلې پراخۍ سره سره په تاسو تنګه شوه، دا د الله تعالی پراخه زمکه په تاسو تنګه شوه، د ټېکي او د پناه ځای مو نه موندلو او پیغمبر علیه السلام مو په میدان کې یوازې پرېښود. خو د دې نه وروسته قرآن عظیم الشأن فرمايي چې بیا مو په پیغمبر علیه السلام او په مؤمنانو باندې سکینه نازله کړه. په لومړیو شېبو کې مضطرب او پرېشانه دي، زمکه ورته ځای نه ورکوي، د ټېکي او د امن پناه ځای نه مومي، خو په دې پسې متصل د دوی په زړونو کې سکون، ډاډ او اطمئنان راپيدا کېږي. دا هم د ايمان يوه علامه ده، الله په سختو حالاتو کې د ايمان په وجه د انسان په زړه کې ډاډ، اطمئنان او سکون راپيدا کوي.

همدا مطلب په څلوېښتم٤٠ آیت کې په دې الفاظو راغلی:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثَانِىَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِىَ ٱلْعُلْيَا ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

که تاسو د پیغمبر مرسته و نه کړئ، یقینا الله د هغه مرسته وکړه، کله چې کافرانو هغه په داسې حال کې د (خپل ملك نه) اخراج کړ چې هغه یو له دوو کسانو څخه وو، کله چې دواړه په هغه غارکې ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې مکرر ویل: غمجن کېږه مه، یقیناً چې الله له موږ سره دئ، نو الله خپله سکینه پرې نازله کړه او په هغو لښکرو ئې د ده مرسته وکړه چې نه مو لیدل، د کافرانو شعار ئې ټیټ کړ، او الهي کلمه خو لوړه ده، او الله باحکمته عزتمن دئ.

دا مبارك آيت د ضعف او كمزورۍ هغه حالت انځور کړی چي د مکې کفارو پیغمبر علیه السلام له خپله ملکه وتلو ته اړ کړ، په داسي حالت کي ووتلو چي د دوو کسانو دوهم کس وو، مجبور وو یوه غار ته پناه یوسي، ټول قوم د ده د نیولو او وژلو لپاره وتلی، توري ئې له تېکو ایستلې، ابوجهل د دې اعلان کړی چي که هر چا پیغمبر علیه السلام ونیولو یا ئې ووژلو سل اوښان به هغه ته انعام ورکوي، د مکي مکرمې ټولي لاري نیول شوې.

دا خو څه کوئ چي دوی دوه کسان وو، ټول قوم ئې په خلاف وتلی او هغه ئې له خپل ملك نه اخراج کړی، او دې ته مجبور شوی چي غار ته پناه یوسي، بلکي په همدې حالت کي هم د ده دا دوهم ملګری، د دې په ځای چي د ده د ډاډ او اطمئنان باعث شي، برعکس ده ورته اطمئنان ورکاوو، یعني هغه هم پرېشانه او مشوش دئ. که د سنګر ملګری مطمئن او ډاډه وي دا د انسان د اطمئنان باعث کېږي، خو ګورئ چي حالت داسي دی چي ملګري ئې د ده ډاډګېرني او اطمئنان ته ضرورت لري، هغه ته وايي: لا تحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ معنی: مه غمجن کېږه، الله له موږ سره دئ، ګورئ چي په دغسي سخت حالت کي پیغمبر علیه السلام مطمئن او ډاډه دئ او په دې کامل یقین لري چي الله له هغه سره دئ. د همدې اطمئنان او ډاډ د اظهار نه پس الله تعالی مزید سکینه پرې نازله کړه او په غیبي لښکرو سره ئې د ده مرسته وکړه: فَأَنزَلَ اللَّهُ سكِينَتَهُ عَلَيْهِ یعني کله چي ده اطمئنان وښود او په دې خبرې ئې خپل ډاډ څرګند کړ چي الله له ده سره دئ او خپل ملګري ته ئې هم اطمئنان ورکړ، د دې اطمئنان او ډاډ له څرګندولو الله خپله سکینه پرې نازله کړه، الفاظ داسي دي چي ښیي دا سکینه او اطمئنان د هغي مخکنۍ وینا نتیجه وه، چي خپل ملګري ته ئې وویل: لا تحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ معنا : مه غمجن کېږه یقیناً چي الله له موږ سره دئ او د همدې وینا په سبب الله جل شأنه په داسي لښکرو سره تأیید کړ او د هغه مرسته ئې وکړه چي تاسو نه لیدل، دا فتحه او غلبه او د ملائکو راتګ د

دې خبرې نتيجه وه چې پيغمبر عليه السلام خپل ملګرو ته وويل: مطمئن او سېره چې الله له موږ سره دئ. وَ جَعَلَ كلمَةَ الَّذينَ كَفَرُوا السفْلى: او د كافرانو كلمه ئې نسكوره او راټيټه كړه وَ كلمَةُ اللَّهِ هيَ الْعُلْيَا : او د الله كلمه همدا اوچته ده، وَ اللَّهُ عَزِيزٌ حَكيمٌ : او الله عزيز حكيم ذات دئ. الله غالب او با حكمته دئ، هغه په دې قادر او توانا دئ چې مؤمنانو ته فتح او غلبه ورکړي،د کافرانو مکر شنډ کړي، توطئې ئې خنثی کړي او پرې نږدي چې هغوی خپل هدف ته ورسېږي او هغه حکيم دئ، په دې ښه پوهېږي چې په څه ترتيب او له کومې لارې پيغمبر عليه السلام او مؤمنانو ته فتح او غلبه ورکړي او کافران له ماتې او هزيمت سره مخامخ کړي، هم غالب دئ او هم حکيم، عزيز دئ، تاسو ته پر هر ځواکمن دښمن برى درکولى شي، حکيم دئ پوهېږي چې څنګه دښمن په خپلو هڅو کې ناکام کړي او پرې نږدي چې خپل هدف ته ورسېږي.

د آل عمران د سورې په ۱۷۳ آيت کې هم دې مطلب ته اشاره شوې، هلته چې الله جل شأنه فرمايي:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَـٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ١٧٣

هغه "مؤمنان" چې خلکو ورته وويل: يقيناً چې ډېر خلك "ستاسو دښمنان" درته راغونډ شوي " لښکري ئې ستاسو په خلاف راغونډې کړې دي" نو له دوی نه ووېرېږئ! نو "دې خبرې" د دوی ايمان لازيات کړ، او وئې ويل: الله موږ ته کافي دئ او هغه غوره وکيل دئ.

ګورئ، د دې په ځای چې د دښمن دا تبليغات چې ويل ئې د مسلمانانو په خلاف فوځونه او لښکري را غونډ شوي، د دوی په زړونو کې وېره او خوف راولاړ کړي، برعکس دا د دوی د ايمان د مزيد تقويې باعث ګرځي او وايي: حَسبُنَا اللَّهُ وَ نِعْمَ الْوَكيلُ : الله موږ ته کافي دئ او هغه غوره وکيل

دئ. هغوی مطمئن او ډاډه دي، د دښمن له فوځونو او لښکرو نه وېره نه ساتي، د دې په ځای چې د فوځونو راغونډېدل د دوی په زړونو کې وېره او خوف راپیدا کړي، برعکس د هغوی ایمان تقویه کېږي، په الله ئې اعتماد اضافه کېږي، الله ته ئې هیلي زیاتېږي، په سختو حالاتو کې د هغوی اړیکي له خپل رب سره مزید مضبوطي شي، او همدا د دوی د ایمان د تقویې باعث شي.

همدا مطلب د آل عمران سورې په بل آیت کې داسي راځي:

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمۡ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٥٤ آل عمران: ١٥٤

بیا ئې له دې غمونو نه وروسته پرتاسو د پرکالي په بڼه کې هغه ډاډینه نازله کړه چې ستاسو پر یوې ډلي به غوړېدله او بله ډله بیا داسي وه چې خپلو ځانونو په اندېښنه کې غورځولي وو، د الله په اړه ئې د جاهلیت د دور ناروا گمانونه کول، ویل ئې: د دې کار څه زموږ په برخه دي؟ ورته ووایه: کار خو ټول الله لره دئ، دوی په خپلو زړونو کې هغه څه پټوي چې تا ته ئې نه څرگندوي، وایي: که د دې کار څه زموږ په برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو، ورته ووایه: که په خپلو کورونو کې هم وئ نو هغه کسان به

هرومرو د خپلې مړيني ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرر شوې وه او ترڅو ستاسو د سينو خبري وآزمويي او ستاسو د زړونو شته عيار کړي او الله د زړونو په شته وو ښه پوه دئ.

ګورئ چې دلته دوه داسي ډلي سره مقايسه شوې چې له ورته خطر سره مخامخ دي، د جګړي سخت حالت او د دښمن له لوري د لوی برید وېره، خو یوه ډله دومره ډاډه او مطمئنه ده چې پرمښکی پرې راځي، له خوب نه مخکي چې کوم حالت پر انسان راځي، پر دوی همدا حالت راتلو، او دا همغه امن، سکون او ډاډينه وه چې الله تعالی پر دوی نازلوله، خو د دې په مقابل کي بله ډله داسي وه چې دې غم او اندېښني مصروف کړي وو چې له دې خطره به څنګه ځان ژغوري، څه چاره به کوي، پرېشان او مضطرب وو، دا هغه مهال وو چې د احد د جګړي په دوران کي، د مسلمانانو د لښکر په ليکو کي د سخت اضطراب او پرېشانۍ حالت راپيدا شو، د دښمن د برلاسي او د مجاهدينو د ماتې آثار او نښي راڅرګندي شوې، په دې وخت کي مسلمانان په څو ډلو ووېشل شول، قرآن عظيم الشأن د ځينو حالت داسي بيانوي چې د ډېر ډاډ او اطمينان په وجه د خوب حالت وربانديې راځي، تاسو پوهېږئ چې انسان ته يوازي هغه وخت خوب ورځي چې په بشپړه توګه ډاډه او مطمئن وي، يو معمولي تشويش د دې باعث شي چې له انسانه خوب وتښتي، هغه مهال خوب پرې راځي چې ټول تشويشونه ئې رفع شي او کاملا ډاډه او مطمئن شي، د جنګ په دوران کي چې په چا خوب راځي، د دې معنی دا ده چې له هغه سره په همدې حالت کي هيڅ تشويش او اندېښنه نشته.

که الله تعالی په سخت حالت کي د واقعي مؤمنانو زړونه په ډاډ او اطمئنان خړوبوي، آن تر دې حده چې په دوی باندي پرمښکی راځي، په مقابل کي ئې بله ډله د ايمان د ضعف په وجه په سخت حالت کي په داسي وېرې او تشويش اخته وي چې د خپلو نفسونو غم او انديښني مصروف

کړي وي او د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه د جاهليت د دورګمانونه کوي، له خپل انتخاب او له مسلمانانو سره له ملګرتيا پښېمانه وي او وايي: هَل لَّنَا مِنَ الأَمْرِ مِن شَيْءٍ چي له دې خبري نه د دوی مراد يا دا وي چي آيا له دې کاره موږ ته کومه ګټه متصوره ده؟ آيا له داسي کارونو نه څه نتيجه تر لاسه کولی شو؟ موږ ته به څه په لاس راشي؟ دا خو يو بې نتيجې کار دی!! او يا ئې مراد دا دئ چي د دې کار د ادارې او لارښوونې په اړه موږ څه اختيار او واك نه لرو، مسئوليت ئې د هغه چا په غاړه دئ چي د جنګ سوق او اداره ئې په لاس کې ده، دا کار زموږ په مشوره ونشو، زموږ معقولو وړانديزونو ته اعتناء ونه شوه، نو ځکه له دې ماتې سره مخامخ شوو، که قيادت او مشري زموږ په لاس کې وی، که زموږ رايه منل شوې وی، نو له دې ماتې سره به نه مخامخ کېدو!!

هو؛ دا منافقين دي چي د ماتې نه وروسته د خپلو نفسونو فکر حيران کړي وي او په دې اندېښنه کې وي چي ځنګه ځان وژغوري، څه وکړي چي هغوی ته صدمه و نه رسېږي او له خطر نه ځنګه خوندي پاته شي، د الله جل شأنه او د ده وعدو په اړه ډول ډول ناحقه جاهلانه ګمانونه کوي، قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د منافقينو د دغو تبليغاتو په ځواب کې بايد ووايو: إِنَّ الأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ: يقيناً چي کار ټول الله لره دئ، ټول کارونه د ده په اختيار کې دئ، فيصلې دی صادروي، په کارونو باندي نتائج دی مرتب کوي، اختيارات له ده سره دي، د چارو پايلي دی ټاکي او هر کار د ده په اراده ترسره کېږي. قرآن فرمايي چي د منافقينو دا خبري له هغو افکارو او عزايمو نشأت کوي چي دوی ئې په خپلو سينو کې پټ ساتي او له څرګندولو ئې ډډه کوي: يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لاَ يُبْدُونَ لَكَ: په خپلو سينو کې هغه څه پټوي چي نه غواړي تا ته ئې څرګند کړي، که څه هم خبري په دې انداز کوي چي ګواکې د نتايجو په اړه تشويش لري او وايي آيا په دې کار مو څه نتيجه مرتب کېدی شي؟ موږ هم په دې کې څه برخه لرو؟ خو د دوی په سينو کې ډېری خبري داسي دي چي څرګندول ئې نه غواړي، يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا :

وايي: که له دې کار نه موږ ته څه برخه وای نو دلته به نه وژل کېدو، که رښتیا دا وعدې حق وی چې الله جل شأنه به زموږ مرسته کوي، موږ به فاتح او غالب یو او دښمن به ماتې خوري، نو ولې به موږ دلته له ماتې سره مخامخ کېدو او ولې به وژل کېدو، که چېرې د دې کار اداره زموږ په لاس کې وی او قیادت او مشري زموږ په اختیار کې وی، دلته به زموږ کسان وژل کېدل!!

ډېر کسان داسې وي چې د ماتې او هزیمتونو پر مهال د قیادت په خلاف همدا راز تبلیغات کوي، هغه جاه طلب عناصر چې د قیادت لاس ته راوړلو لپاره مترصد وي او غواړي له هر فرصت نه په استفادې سره موجود قیادت وټکوي او په صف کې د هغه اعتبار تضعیف کړي، د ماتو په دوران کې همدا تبلیغات کوي: که کار زموږ په لاس کې وی، که زموږ رایه منل شوې وی، که موږ ته موقع راکړ شوې وی، که قیادت او رهبري زموږ په لاس کې وی، نقشه او پلان موږ وضع کړی وی، نو دلته به له ماتې سره نه مخامخ کېدو!! تل د هزیمتونو په دوران کې ځینې کسان دغسې منافقانه مواقف غوره کوي. ښایي له دې مشکل سره د هرې جبهې هر قوماندان مخامخ شوی وي چې د ده د جبهې هغه غرضي او جاه طلب کسان چې غواړي د ده ځای ونیسي، دې ناروا مقصد ته رسېدو لپاره هغه موقع تر ټولو غوره فرصت ګڼي چې جبهه په موقتي ډول له ماتې او کړاوونو سره مخامخ شوې او تلفات ئې لیدلي وي، دلته ده چې دغه منافق عناصر، د قیادت وړی، چې غواړي ثابته کړي دا جنګونه په روان شکل کې بې فائدې دي، تر څو چې د قواوو ترمنځ توازن نه وي راغلی، د عسکري او فوځي وسائلو له ناحیې مو پر خپل دښمن برلاسي او تفوق نه وي حاصل کړی، باید له دښمن سره د ټکر او تصادم لاره غوره نه کړو، دوی له دغو ماتو نه د موجود مجاهد قیادت په ضد استفاده کوي او دا تبلیغات کوي چې که قیادت زموږ په لاس کې وی، زموږ رایه منل شوې وی، زموږ مشورو ته مو غوږ ایښی وی، او قیادت د دغو موجوده کسانو په اختیار کې نه وی نو

دلته به زموږ کسان وژل کېدل، قرآن د دوی په ځواب کې فرمايي: قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَى مَضَاجِعِهِمْ : ورته ووايه! که څه هم تاسو په خپلو کورونو کې وی "يعني ستاسو رأيه منل شوې وی، جنګ نه وی شوی او تاسو له خپلې رأيي سره سم په خپلو کورونو کې پاته شوي وی" حتماً به هغه کسان چې د دوی په اړه د مرګ فيصله شوې، خپل مضجع او مقتل ته وتلي وو، د چا په اړه چې د مرګ فيصله شوې وه، هغه به خامخا په خپلو قدمونو هغه ځای ته تلل، په کوم کې چې بايد په اړخ پرېوتي وای او د روح امانت ئې الله ته تسليم کړی وی. وروسته فرمايي: دا حالت څو الله تعالی د دې لپاره راولي چې: وَ لِيَبْتَلِىَ اللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ وَ لِيُمَحِّص مَا فِى قُلُوبِكُمْ وَ اللَّهُ عَلِيمُ بِذَاتِ الصُّدُورِ : تر څو الله هغه څه وآزمويي چې ستاسو په سينو کې دی او هغه څه ښه عيار کړي چې ستاسو په زړونو کې دی او الله په هغه څه چې په سينو کې دئ ښه پوه دئ.

يعني تاسو چې د دې ادعا کوئ چې ايمان لرو، اخلاص لرو، په الله مو توکل او اعتماد دئ، الله جل شأنه به دا خبرې د جنګ په ميدان کې وآزمويي، دا به معلومه کړي چې آيا په رښتيا تاسو په الله توکل او اعتماد لرئ، او په دې خبرې باور لرئ چې د مرګ او ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي؟ دا پټ اسرار، لدې نه پرته په بل صورت کې نه معلومېږي چې د جنګ داسي صحنې رانشي چې د دښمن شمېر تر تا زيات وي، د هغه مواضع په ظاهر کې ستا له سنګر نه مستحکمي او ټينګي برېښيي، تر څو چې داسي حالت رامخته نشي، د دې خبرو حقيقت نه معلومېږي.

دې ته به مو حتماً پام وي چې دلته په يوه مورد کې (سينې) ته او په بل مورد کې (زړه) ته اشاره شوې، او ويل شوي: هغه څه وآزمويي چې ستاسو په سينو کې دي او هغه څه چې په زړونو کې دي هغه عيار کړي او رشد ورکړي، بايد وګورو له دې نه مراد څه دئ، په زړونو کې څه دي او په سينو کې څه؟

د منافق افکار، تصورات او عقايد تل له شك او شبهې سره توأم وي او د

زړه تل ته له نفوذه عاجز، په سينه کې پټ وي، خو زړه ته لار نشي موندلی، دا ايمان دئ چې د زړه سلول سلول ته نفوذ کوي او انسان ته ډاډ او اطمينان وربخښي، د الله جل شأنه په اړه د منافقينو ناسالم اعتقاد او د دوی غلط تصورات، د دې موجب شي چې هغوی د جګړې په دوران کې مذبذب او متردد وي او عدم اطمينان، وېرې او اضطراب احاطه کړي وي، خو د مؤمنانو په زړونو کې چې کوم اخلاص دئ، په الله کلك اعتقاد او ايمان دئ، د جهاد په نتيجه کې به الله دې ته وده ورکوي، دا به کاملاً عياروي او کمال ته به ئې رسوي. ګورئ چې جنګ له يوې خوا د دې باعث شي چې د منافقينو حقيقت بربنډ شي، له بلې خوا د مؤمنانو د ايمان د تقويې او د هغوی د مزيدې تربيې او رشد باعث شي. همدا د جنګ صحنې او د ماتې او هزيمت حالت دئ چې له يوه پلوه د هغه چا ايمان ته قوت او ځلا وربخښي او له الله تعالی سره ئې تعلق او رابطه ټينګوي چې په زړه کې ئې ايمان وي، خو له بله پلوه د منافقينو حقيقت څرګندوي، په دغسې حالت کې د دوی نفاق بربنډ او هر چا ته واضح او څرګند شي، هغه څه چې دوی په خپلو زړونو کې پټ ساتلی هغه بربنډ شي. د دې آزموينې او امتحان معنی دا نه ده چې الله جل شأنه غواړي د دوی په حقيقت پوه شي؛ بلکې غواړي چې خلکو ته ئې څرګند او بربنډ کړي، الله جل شأنه عليم دئ، څه چې خلك په خپلو سينو کې پټ ساتي هغه پرې پوه دئ، وَ اللَّهُ عَلِيمُ بِذَاتِ الصدُورِ .

د احزاب په سوره کې دا مطلب په دې الفاظو توضيح شوی:

وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ٢٢ الاحزاب:٢٢

او کله چې مؤمنانو لښکرې وليدلې وئې ويل: دا همغه څه دي چې الله او پيغمبر ئې له موږ سره ژمنه کړې وه، او الله او د هغه پيغمبر په خپله

وعده کې رښتینی دئ، او زیات ئې نه کړ مګر د دوی ایمان.

په دې مبارك آیت کې د احزابو جنګ ته اشاره شوې، هغه مهال ته چې د مسلمانانو په خلاف ټول دښمنان راغونډ شوي وو، مدینه محاصره وه، د عربو په تاریخ کې دومره ستر لښکر د چا په خلاف نه وو وتلی، مسلمانان د دې ستر لښکر د مخامخ مقابلې توان نه لري، مجبور شوي چې د مدینې منورې شا و خوا خندق وکیني، خو کله چې مؤمنان ګوري چې د دوی په خلاف ټول دښمنان په مدینې باندې د پرېکنده ستر برید لپاره راغونډ شوي، راشئ وګورو چې د دې حالت په لیدو او له دغه ستر لښکر سره د مخامخېدو په دوران کې د دوی حالت څنګه او وینا ئې څه وه؟ قرآن موږ ته د دوی حالت داسې انځور کړی: د لښکر په لیدو سره هغوی وویل: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې له موږ سره وعده کړې وه، دا وعده چې پر دوی به فتحه او غلبه راکوي، ډاډه او مطمئن دي چې د الله تعالی دا وعده رښتونې ده، د دې په ځای چې د ستر لښکر راغونډېدل په دوی کې وېره او خوف راولاړ کړي، د دوی په زړونو کې شك او ریب راپیدا کړي، د دوی د اضطراب او پرېشانۍ باعث شي، برعکس مطمئن دي چې الله او د هغه پیغمبر، په خپلو وعدو کې رښتوني دي، دا همغه د الله تعالی رښتونې وعده ده چې له موږ سره ئې کړې ده، حتماً به موږ ته په دوی باندې فتحه او غلبه راکوي، که د دښمنانو راغونډېدا په دوی کې څه زیات کړي وي نو هغه د دوی ایمان او پوخ باور په الله تعالی او د ده په وعدو وو نه بل څه: وَ مَا زَادَهُمْ إِلا إِيمَاناً وَ تَسلِيماً : په دوی کې ئې بل څه زیات نه کړ مګر ایمان او د الله تعالی په وړاندې انقیاد ئې، یعني دغه حالت باعث شو چې په الله جل شأنه باندې د دوی اعتماد او باور مزید مضبوط، اړیکې ئې له خپل رب سره لازیاتې ټینګې شي، او د الله تعالی د اوامرو په وړاندې ئې انقیاد او تسلیمي لازیاته شي، ګورئ چې په سختو حالاتو کې، د اضطراب او پرېشانۍ په وخت کې، د دې په ځای چې د مؤمنانو په زړونو کې خوف، وېره، جبن او پرېشاني راپیدا شي، برعکس د هغوی ایمان تقویه

کېږي، داسي حالات په دوی کي نه راپيدا کوي مگر د ايمان ټينگوالی او د انقياد زياتوالی.

په دې ترتيب تاسو گورئ چي په دغسي سختو حالاتو کي به د ايمان په وجه د انسان په زړه کي اطمينان او ډاډ راپيدا کېږي او د عدم ايمان په وجه به انسان مضطرب او پرېشانه وي.

## اطاعت

په الله باندي د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به د خپل رب اوامرو ته غاړه ږدي، د الله تعالی دين ته به منقاد وي، اطاعت او مننه به کوي. په عملي توگه د الهي احکامو اطاعت او مننه د ايمان تقاضا ده، کله چي انسان په دې پوه شي چي دا د الله حکم دئ بيا به له څه ځنډ او تأخير نه پرته، فوري اقدام کوي او د حکم د عملي کولو لپاره به ملاتړي، ټوله هڅه به ئې دا وي چي د حکم مطابق عمل وکړي.

دا مطلب د قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو کي بيان شوی، د النساء په سوره کي په دې اړه داسي لولو:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ٦٥ النساء:٦٥

نو نه، ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځيو شخړو کي حکم ونه گرځوي، بيا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنگوالی ونه مومي او په بشپړه توگه تسليم نه شي.

ای پيغمبره! ترڅو چي تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړې راضي نه شي او په خپلو زړونو کي هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونکړي، مؤمنان نه شي بلل کېدی او د ايمان ادعا ئې نه شي قبلېدی. له دې آيت نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د ايمان د قبلېدو لاندي شرايط دي:

- شخړې او منازعات شریعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضایت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ایښودل.

دا آیت موږ ته وایي: تر هغه د چا ایمان اعتبار نه لري چي په خپلو شخړو او مشاجرو کي پیغمبر علیه السلام او هغه دین چي د ده په لاس لیږل شوی د حکم په توګه ونه مني، د خپلو مشاجرو د حل و فصل لپاره هغه ته رجوع ونه کړي، پیغمبر علیه السلام د حکم او قاضي په حیث ونه مني، په فیصلې او پرېکړي راضي او قانع نه وي، د پرېکړي په اړه په خپل زړه کي څه حرج او تنګوالی احساس نه کړي، او تر څو چي عملاً غاړه ورته کښېنږدي او عمل پرې ونه کړي.

د انسان ایمان هغه مهال اعتبار لري چي دا درې شرایط تأمین شي: په ټولو شخړو، مشاجراتو او منازعاتو کي هغه دین د حَکَم په توګه منل او هغه ته رجوع کول چي پیغمبر علیه السلام راوړی، د دین په فیصلې رضایت او قناعت، د دین له هیڅ پرېکړي به په خپل زړه کي څه حرج او تنګي نه احساسوي، که دین دا فیصله کړې وه چي د هغه لاس قطع شي، په دې فیصله به راضي وي، که د ده د رجم فیصله ئې کړې وه، په دې به قانع او راضي وي، او درېیم دا چي هغه به عملاً منقاد وي، د دین پرېکړو ته به تسلیم وي او دا فیصلې به مني، یعني دین ته د حکمیت لپاره رجوع، په فیصلې باندي رضایت او قناعت او هغه ته عملاً انقیاد، دا هغه درې شرطونه دي چي له دې پرته د چا د ایمان دعوی نه منل کېږي.

د دې آیت الفاظ ډېر پرېکنده، قاطع او واضح دي، الله جل شأنه په ټول تأکید سره فرمایي: اې پیغمبره! ستا په رب دې قسم وي چي تر هغه ئې ایمان نه دئ راوړی، ایمان ئې مقبول نه دئ او الله تعالی د دوی ایمان ته اعتبار نه ورکوي، تر هغه چي همدا درې شرطونه تأمین نه شي.

همدا راز فرمایي:

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ الاحزاب: ٣٦

با ایمان نارینه او مؤمني ښځي ته دا نه ښايي چي کله الله او د هغه پيغمبر، د کوم کار فیصله وکړي "کوم حکم صادرکړي"، بیا دي دوی لره په خپل کار کې څه اختیار وي، "د دوی نه بیا اختیار سلب شي، بیا به له ځنډ او تأخیر نه پرته اطاعت او مننه کوي، بیا هغوی ته هیڅ اختیار نه دی پاته، بیا به عملاً منقاد وي" او چا چي له الله او د هغه له پيغمبر نه عصیان او سرغړاوی وکړ، یقیناً چي په ښرگنده توگه لارورکی شو.

یعني کله چي یوه مؤمن انسان ته دا خبره معلومه شي چي د یوه کار په اړه د الله تعالی او د هغه د پيغمبر حکم څه دئ، له دې وروسته هغه د څه ویلو او له پرېکړي نه مخالفت اختیار نه لري، بیا به کاملاً منقاد وي او حکم ته به غاړه ږدي، دا مطلب حجرات په سوره کې په دې الفاظو راغلی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١ الحجرات:١

اې د ایمان خاوندانو! د الله او د هغه د پيغمبر په وړاندي مخکي مه کېږئ او له الله نه ووېرېږئ، یقیناً چي الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

باید وگورو چي د الله تعالی او د ده د پيغمبر په وړاندي د مخکي مخکي کېدلو معنی څه ده؟ او په دې سره موږ له څه کولو منعه شوي یو؟ د دې معنی دا ده چي که ته د کومي قضیې او کار په اړه مخکي له دې چي د الله او د هغه د پيغمبر حکم ځان ته معلوم کړې، مخکي له دې چي درته معلومه شي په دې اړه الهي حکم څه دئ، قضاوت یا تبصره کوې یا کوم

عملي اقدام کوې، دا د الله او د هغه د رسول په وړاندې تقدم او مخکې مخکې کېدل دي. ستا د ایمان غوښتنه دا ده چې لومړی به ځان پوهوې چې په دې اړه د الله تعالی او د ده د پیغمبر امر څه دی او دین څه هدایت ورکوي، تر دې وروسته به اقدام کوې، بیا به د څه ویلو او کولو او تحلیل او تبصرې اراده کوې، ته به د یوه مطیع بنده په څېر عمل کوې، هغه چې اقتداء کوي او له ځان نه مقتدا او امام نه جوړوي، مخکې مخکې نه ځي، بلکې د یوه مطیع او منقاد بنده په توګه اطاعت کوي او د پیغمبر په پل درومي. که تا د کوم کار په اړه مخکې له دې نه چې وپوهیږې د الله او د هغه د پیغمبر حکم او فیصله په دې اړه څه ده، کومه تبصره وکړه، یا دې کوم اقدام وکړ، تا تقدم کړی، دا تقدم هم په خبرو کې دئ او هم په عمل کې، ځکه د آیت په پای کې راغلي چې الله جل شأنه اورېدونکی علیم ذات دئ. ستاسو په هغو خبرو هم پوهېږي او اوري ئې چې په هغو کې مو د الله او پیغمبر په وړاندې تقدم کړی او ستاسو په هغو کارونو هم پوه دئ چې هغه مو د الله او د هغه د پیغمبر په امر نه، بلکې له خپله طرفه، په خپله خوښه او د خپل تصمیم په بنا تر سره کړی، مخکې له دې نه چې وګورئ د الله او د پیغمبر حکم ئې په دې اړه څه دئ؟

همدا راز راځي چې:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓاْ أَعْمَـٰلَكُمْ ٣٣﴾ محمد:۳۳

اې د ایمان خاوندانو! د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ، او خپل عملونه مه باطلوئ.

د دې آیت معنی دا ده چې کوم عمل د الله او د هغه د پیغمبر د اطاعت له مخې نه وي، هغه عمل د الله په وړاندې باطل دئ، هر څه چې کوې باید په دې اساس او له دې احساس سره ئې وکړې چې په دې

سره د الله او د الله د پیغمبر اطاعت کوې، یعني کوم عمل چي د الله او د پیغمبر د اطاعت په بنا نه وي هغه باطل دی او د الله تعالی په وړاندي هیڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

دې مطلب ته د النور په سوره کي په دې الفاظو سره اشاره شوې:

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ٥١ النور: ٥١

یقناً کله چي مؤمنان د الله او د ده د رسول لوري ته د دې لپاره وبلل شي چي د دوی تر منځ پرېکړه وکړي، نو د دوی وینا له دې پرته بل څه نه وي چي وايي: وامو ورېده او اطاعت مو وکړ، او همدا ډله بريالي دي.

یعني د واقعي مؤمنانو قول او وینا په هغه وخت کي چي د الله او پیغمبر لوري ته په دې خاطر وبللی شي چي د دوی په منازعاتو او مشاجراتو کي حکم وکړي داسي وي: سمعنا و أطعنايوازي دغه خلك به فلاح او بریا ترلاسه کوي.

وروسته فرمايي:

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ

٥٢ النور: ٥٢

او چا چي د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړ او ترې ووېرېدو، نو همدغه کسان بريالي دي.

ګورئ چي له الله تعالی نه وېره او تقوی درلودل او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت، د کامیابۍ او بري عوامل دي.

## دوستي او دښمني د الله لپاره

په الله باندي د ایمان بله تقاضا دا ده چي د انسان مینه او دوستي به هم د الله لپاره وي او دښمني، کرکه او بغض به ئې هم د الله لپاره وي.

يعني الحب في الله و البغض في الله: محبت د الله تعالى لپاره او د الله په لار کې او دښمني، بغض، کرکه او عداوت د الله په لار کې او د الله لپاره، دا مطلب هم د قرآن عظيم الشأن د ګڼ شمېر آيتونو په ترڅ کې ، د ايمان د غوښتني او تقاضا په توګه معرفي شوی، لکه چې راځي:

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَـٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ »

المجادله: »

هغه قوم چې په الله او په آخرت ئې ايمان وي هيڅکله داسي ونه مومې چې له هغه چا سره دوستي وکړي چې له الله او د هغه له پيغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دا د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي، وروڼه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي چې الله د دوی په زړونو کې ايمان ثبت کړی او په خپله روح (غيبي فيض) سره ئې د دوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل کړي چې ( د ونو او بنګلو" لاندي ئې نهرونه بهېږي، په هغه کې تلپاته، الله له دوی راضي شوی او دوی له الله راضي شوي، همدغه کسان د الله حزب دئ، "د الله د حزب غړي دي" يقيناً د الله حزب بريالی دئ

دلته د الله د حزب د غړو خصوصيات او مواصفات ښودل شوي چې دا دي: له هغه چا سره دوستي نه کوي چې د الله او د هغه له پيغمبر سره ئې دښمني کړی وي که څه هم هغه د دوی پلرونه وي، زامن ئې وي،

ورونه ئي وي او خپلوان ئې وي.

د المائدې په سوره کې راځي چې:

**وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ٥٦ المائده: ٥٦**

او څوك چې له الله او د ده له پيغمبر او مؤمنانو سره دوستي کوي نو بې شکه چې همدا د الله حزب غالب دئ.

**دلته د الله تعالى مؤمنو بندګانو ته د حزب الله نوم ورکړی شوی، او ويل شوي: د الله تعالى حزب له هغو کسانو جوړ شوی چې دوستي ئې يوازي له الله تعالى، د ده له پيغمبر او مؤمنانو سره وي، دا حزب فاتح او غالب دئ او الله تعالى ئې د غلبې ذمه وار.**

د التوبة په سوره کې همدا مطلب په دې الفاظو راغلی:

**وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٧١**

التوبه: ٧١

باايمانه نارينه او ښځې، ځيني ئې د ځينو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، له منکر نه ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي، همدا کسان دي چې ډېر ژر به الله په دوی رحم وکړي، يقيناً چې الله باحکمته عزتمن دئ.

دا آيت موږ ته لارښوونه کوي چې د مؤمنانو ترمنځ به تل د دوستۍ او ولايت، د يو بل نه د دفاع او حمايت او د يوه بل مرستي ته د راوړاندي کېدلو تعلق وي.

قرآن فرمايي چي هره انساني ډله د خاصو اخلاقي او فکري مواصفاتو پر بنسټ جوړېږي، لکه څنګه چي د مؤمنانو ترمنځ به د دوستۍ او مينې اړيکي وي، همدا راز به د منافقينو د ټولګي ترمنځ خاص روابط وي، منافقين به د يو بل په څنګ کي وګورئ:

ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْۗ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ٦٧

منافقين ځيني د ځينو نورو له ډلي څخه دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو نه مخنيوی کوي، خپل لاسونه (د خير له کار او د مال له انفاق نه) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، يقيناً چي منافقين فاسقان دي.

ګورئ چي د منافقينو تر منځ د دوستۍ اړيکي نشته، هسي د يوې ډلي غړي دي، نفاق او منافقت سره يوځای کړي دي، د دوی ترمنځ د ولايت هغه رابطه نشته چي د مؤمنانو ترمنځ وي، دا ځکه چي منافق يو غرضي انسان وي، هغه له هيچا سره داسي اړيکي نه ساتي چي په اخلاص او صداقت ولاړې وي، د خپل ملګري مرسته وکړي، حمايت ته ئې راوړاندي شي او د ده په خاطر کوم خطر ومني، که څه هم هغوی د يوه صف او ټولګي غړي دي خود هغوی ترمنځ د ولايت او دوستۍ رابطه نه وي.

همدا راز کافران هم ځيني د ځينو نورو اولياء دي:

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ... الانفال:٧٣

او کافران ځيني د ځينو نورو اولياء دي.

همداراز قرآن فرمايي چي ظالمان هم ځيني د ځينو نورو دوستان دي او د هغوی مرسته کوي، يوازي د منافقينو ترمنځ د دوستۍ او و لايت رابطه

نشته، د يو بل په څنګ کې وي، د يوه صف او د يوې ډلې غړي وي خو د هغوی ترمنځ دوستي نشته او يو د بل اولياء نه دي.

قرآن عظيم الشأن فرمايي:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُواْ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ١٦ التوبه:١٦

آيا ګمان مو کړی چې همداسي به پرېښودی شئ، حال دا چې تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد ئې کړی او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو نه پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دی غوره کړی. او الله ستاسو له کړو وړو ښه خبر دئ.

تر څو چې الله جل شأنه د مؤمنانو په ډلې کې دغه کسان نه وي تفکيك کړي، مجاهدين ئې نه وي معلوم کړي او هغه ئې نه وي بېل کړي چې له الله تعالی، د هغه له پيغمبر او له مؤمنانو نه پرته بل څوك د پټ دوست په توګه نه نيسي، ګمان مه کوئ چې الله جل شأنه به تاسو همدغسي خپلې مخې ته پرېږدي او له ابتلاءاتو او آزموينو سره به مو مخامخ نه کړي!!

پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتى تحابوا أولا أدلكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام بينكم. رواه مسلم

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: جنت ته به داخل نه شئ تر څو ايمان را نه وړئ او ايمان به مو و نه منل شي تر څو له يوه بل سره مينه او محبت و نه لرئ، آيا داسي څه دروښيم چې په کولو سره به ئې په تاسو کې مينه او محبت راپيدا کېږي؟ په خپلو منځونو کې سلام خور او عام کړئ.

يعني الله جل شأنه به ستاسو ايمان په هغه صورت کې قبلوي چې په خپلو منځونو کې مو مينه او محبت وي، چې همدا د ايمان تقاضا ده او د همدې په وجه به جنت ته ځئ.

ابوهريره رضى الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلىالله عليه وسلم وفرمايل:

عن أبي هريرة: عن النبي صلى الله عليه وسلم أن رجلا زار أخا له في قرية أخرى فأرصد الله له على مدرجته ملكا فلما أتى عليه قال أين تريد ؟ قال أريد أخا لي في هذه القرية قال هل لك عليه من نعمة تربها ؟ قال لا غير أني أحببته في الله عز وجل قال فإني رسول الله إليك بأن الله قد أحبك كما أحببته فيه. رواه مسلم

يو کس د خپل داسي ورور ليدو ته ولاړ چې د الله لپاره ئې له هغه سره ورورې وه او په بل کلي کې اوسېدو، نو الله د ده د ورتلو په لار کې يوه فرشته ولېږله، کله چې هلته ورسېدو ورته وئې ويل: چېرې د تلو اراده لرې؟ وئې ويل: په دې کلي کې مې د خپل يوه ورور د "ليدو" اراده کړې "فرشتې " وويل: آيا له هغه کس سره دې کوم نعمت "لکه مال ، زمکه ، او بل څه" دی چې پالنه ئې کوې؟ وئې ويل: نه "هيڅ څه مو ترمنځ نشته" مگر دا چې زه د الله لپاره له هغه سره مينه لرم، فرشتې ورته وويل: زه د الله استازی يم، چې ستا په لورې "له دې زېرې سره راغلی يم چې" يقيناً الله جل شأنه له تا سره داسي مينه ساتي لکه په تا چې د ده لپاره هغه کس گران دئ.

په بل حديث کې راځي:

ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج على حلقة من أصحابه فقال ما أجلسكم قالوا جلسنا نذكر الله عز وجل ونحمده على ما هدانا للإسلام ومن علينا بك قال آلله ما أجلسكم الا ذلك قالوا آلله ما أجلسنا الا ذلك قال أما اني لم استحلفكم تهمة لكم وانه أتاني جبريل عليه السلام فأخبرني ان الله عز

وجل يباهي بكم الملائكة.
رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو یارانو په یوې حلقې او ډلي راووت او وئې ویل: څه شي سره یو ځای کښېنولي یاست؟ وئې ویل: ناست یو الله یادوو او د ده شکر ادا کوو چي موږ یی د اسلام په لوري هدایت کړو او په موږ ئې پېرزوینه وکړه، وئې فرمایل: آیا واقعاً همدا د الله ذکر او خاطر سره راغونډ او یوځای کښېنولي یئ؟ وئې ویل: په الله قسم چي موږ نه یو کښېنولي مگر همدې شي، وئې فرمایل: ما د دې لپاره قسم درنکړ چي تاسو ته کوم تهمت (راجع کوم) خو ما ته جبرئيل راغی او دا خبر ئې راکړ چي یقیناً الله د فرشتو په وړاندي په تاسو فخر کوي.

همدا راز فرمايي:
الرجل على دين خليله فلينظر احدكم من يخالل.

هر سړی د خپل دوست په دین وي، نو ستاسو هر یو دي وګوري چي له چا سره دوستي کوي.

همدا راز د هغو کسانو د اوچت او لوړ مقام په اړه فرمایي چي د الله لپاره يو له بل سره مینه ساتي:
عن أبي زرعة بن عمرو بن جرير أن عمر بن الخطاب قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم "إن من عباد الله لأناسا ما هم بأنبياء ولا شهداء يغبطهم الأنبياء والشهداء يوم القيامة بمكانتهم من الله تعالى" قالوا يارسول الله تخبرنا من هم؟ قال: "هم قوم تحابوا بروح الله، على غير أرحام بينهم ولا أموال يتعاطونها فو الله إن وجوههم لنور وإنهم على نور لا يخافون إذا خاف الناس ولا يحزنون إذا حزن الناس وقرأ هذه الآية: ألا إن أولياء الله لا خوف عليهم ولا هم يحزنون.
یقیناً چي د الله له بندګانو نه ځیني داسي دي چي که څه هم نه انبیاء دي او نه شهداء، خو د قیامت په ورځ به حتی انبیاء او شهداء پدوی غبطه کوي، د هغه مقام او منزلت په وجه چي د الله په خوا کې به ئې لري.

صحابه وو وويل: يا رسول الله! موږ پوه کړه چي دوی څوك دي؟ وئې فرمايل: دا هغه ډله ده چي په الهي فيض او پېرزويني سره ئې يوه له بل سره مينه ساتله، پرته لدې چي د دوی ترمنځ د خپلوۍ اړيکي وي او پرته له دې چي د دوی ترمنځ د مال د راکړې ورکړې معامله وي "يوازي په الله ايمان په خپلو منځونو کي سره نږدې کړي او له يوه بل سره مينه لري" په الله قسم چي د دوی مخونه به د نور په شان وي او دوی به په نور او رڼا وي، کله چي خلك وېرې اخستي وي دوی به نه وېرېږي او کله چي خلك غمجن شي دوی به نه غمجن کېږي او بيائې دا آيت تلاوت کړ: پوه شه چي يقيناً د الله دوستان داسي دي چي نه پر دوی خوف او وېره شته او نه به دوی غمجن شي.

په حديث قدسي کي راځي چي الله جل شأنه فرمايي:

وجبت محبتي للمتحابين في و المتجالسين في و المتزاورين في و المتباذلين في.
رواه احمد

زما محبت هغه چا لره واجب او لازم شو چي په خپلو منځونو کي زما لپاره مينه او محبت ساتي او زما لپاره په خپلو منځونو کي سره کښيني او زما لپاره يو د بل زيارت او ليدلو کتلو ته درومي او زما په خاطر يو د بل لپاره بذل کوي، قرباني ورکوي او خپل مال لګوي.

يعني د چا چي دا څلور صفات وي د هغوی لپاره زما محبت واجب شوی دئ، زه به له هغه چا سره مينه او محبت ساتم چي: زما لپاره خپلو منځونو کي مينه ساتي، خپلو منځونو کي ناسته ولاړه لري، يو د بل زيارت او ليدلو ته ځي او زما په خاطر په خپلو منځونو کي مالونه لګوي، هديه او تحفه ورکوي او يو خپل مال بل ته ورکوي. د چا تر منځ چي همدغه تعلقات وي الله جل شأنه خپل محبت هغوی لره لازم کړی، الله جل شأنه دی موږ له همدې ډلي څخه وګرځوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إلاَّ أَنْتَ
أَسْتَغْفِرُكَ وَأتُوبُ إِلَيْكَ

